## اصلاح اللسان بمنطق

# الحواشی

پښتوشرح د

# ایساغوجی

---


تصنیف : مفتی عطاء الرحمٰن ملتانی

مترجم : مولانا حضرت علی حنفی ابن حاجی هادی [illegible]



ناشر

اعراف پبلشرز

محله جنگی پیښور ښار

دملاویدوپته

مکتبة الاصلاح

محله جنگی پیښور ښار


Maktaba Tul Ishaat.com

www Maktaba Tul Ishaat .com

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ ودعوت |
| تمام فنون | | |

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

# الحواشي پښتو

# شرح ايساغوجي

خبيب کتابتون

SM999

نقيب احمد صاحب

ساکن اوچ اونزي سواد

انتشارات شفيقي

کوچه گودام هرات

بسم اللہ الرحمن الرحیم

جمله حقوق په حق دَ ناشر محفوظ دی

دَ کتاب نوم ............ الحواشی شرح ایساغوجی

مصنف .................. مفتی عطاء الرحمٰن ملتانی

مترجم ............. مولانا حضرت علی حنفی

زیرِ اهتمام .............. ایاز الله ترکزئ

ناشر............ اعراف پبلشرز محله جنګی پیښور ښار

موبائل نمبر : 0300 5945568

دملاویدوپته.........مکتبة الاصلاح محله جنګی پیښور ښار

03339202338 عبدالله

## بسم الله الرحمٰن الرحيم

## مباديات ايساغوجي

دَ هر علم دَ شروع کؤلو نه مخکښې دَ څو بنيادي خبرو پيژندل ضروري دي . چه ددې شمير اتهٔ دي او دې ته رؤوسِ ثمانيه وائي .

(۱) مقامِ علم (۲) تعريفِ علم (۳) موضوعِ علم (۴) غرضِ علم (۵) واضع علم (٦) دَ کتاب وجه تسميه (۷) مصنف .

دَ علم مقام ددې وجې نه پيژندل ضروري دي چه په لوستلو کښې نور هم زيات شوق پيدا شي .

دَ تعريف پيژندل ځکه ضروري دي چه طلبِ مجهول لازم نهٔ شي .

دَ موضوع پيژندل ددې وجې نه ضروري دي ددې دپاره چه په مقصود او غيرِ مقصود کښې امتياز او جُدا والې راشي . او کهٔ داسې نهٔ وي نو دَ " عدم الامتياز بين العلوم " خرابي به لازم شي .

دَ غرض پيژندل ددې وجې نه ضروري دي چه دَ مبتدي سعي عبث نهٔ شي .

دَ واضع پيژندل ددې وجې نه ضروري دي چه دَ هغه شان وشوکت او مرتبه په زړهٔ کښې کيني او په محنت کؤلو کښې زيات زړهٔ اولګي . او کهٔ داسې نهٔ وي نو دَ " عدم الامتياز في الفن " خرابي به لازم شي .

دَ کتاب وجه تسميه پيژندل ځکه ضروري دي چه معلومه

Maktaba Tul Ishaat.com

شي چه دَ مذکوره کتاب دپاره دا نوم ولې په عمل کښي راوستې شو .

دَ مصنف پیژندل ددې وجې نه ضروری دی چه دَ هغه مرتبۀ علمیت سره دَ کتاب اهمیت معلوم شي چه ددې کتاب مصنف دَ دومره مرتبې او درجې والا دې نو ددۀ تصنیف کَرده کتاب به هم دَ اعلیٰ درجې وی . او کۀ داسې نۀ وی نو دَ " عدم الاشتیاق فی الکتاب " خرابی به لازم شي .

★......★......★......★......★......★......★......★......★

★......★......★......★......★......★......★

★......★......★......★......★

★......★......★......★

★......★......★

★......★

★

## ☆......د مصنف حالات......☆

نوم او نسب : نوم یئ مفضل بن عمر دي او دَ اثیر الدین په لقب سره مشهور دي . عرف یئ مولانا زاده او دَ پلار نوم یئ عمر دي . لفظِ اثیر دَ " اثر الحدیث اذا انقله " نه دي فعیل په معنیٰ دَ فاعل سره دي . په معنیٰ دَ الناقل سره . او اثیر په وزن دَ فعیل دي . کهٔ چرې په معنیٰ دَ فاعل وی نو معنیٰ یئ ده ناقل الدین او کهٔ چرې په معنیٰ دَ مفعول سره وی نو بیا به یئ معنیٰ مختار الدین وی .

### تحقیق ابهر :

دي دَ ابهر اوسیدونکی وو چه دا په روم کښې دَ یو ځائے نوم دي ددې وجې نه ورته په نسبت کښې ابهری وائی . ابهر په اصل کښې آبِ هر وو چه ددې معنیٰ ده دَ اوبو ژرنده . په دغه زمانه کښې په دې کلی کښې ژرندې ډیرې زیاتې وې ددې وجې نه ورته آب هر وئیلی شو . لیکن بیا په دې لفظ کښې دَ کثرتِ استعمال په وجه سره تخفیف اوکړې شو نو ابهر ترے جوړ شو . لکه څنګه چه بغداد په اصل کښې باغ داد وو . په عراق کښې دننه یو باغ وو چه په هغې کښې به نوشیروان بادشاه ناست وو او دَ عدل فیصلې به یئ کولې چه په دې وجه سره ددې باغ نوم باغ داد شو یعنی دَ انصاف والا باغ . بیا روستو پکښې تخفیف اوکړې شو نو بغداد ترینه جوړ شو .

### تعارف :

دوی لوی عالم او فاضل او بلند پایه محقق ومنطقی وو ، دَ امام

Maktaba Tul Ishaat.com

فخر الدین رازی رحمه الله نه ورته شرفِ تلمذ حاصل دې لکه څنګه چه علامه ابن العربی په خپل تاریخ کښی لیکلی دی .

## تصانیف :

دوی ډیر زیات عمده او قابلِ قدر تصانیف کړې دی لکه ۱﴾ الاشارات ۲﴾ زبده ۳﴾ کشف الحقائق ، دا په علمِ منطق کښی مختصر شان رساله ده . ۴﴾ المحصول ۵﴾ المعنی ، دا په علم جدل کښی تصنیف دې . ٦﴾ ایساغوجی ، دا په منطق کښی رساله ده . ۷﴾ هدایة الحکمة ، دا په فلسفه کښی دَ دوی تصنیف دې . ۸﴾ تنزیل الافکار فی تعدیل الأسرار ، په دې تصنیف کښی هغوی دَ قوانینِ منطقیه وحکمیه په باب خپلې آخری رائے تحریر فرمائیلې دی او دَ بعضِ اصولِ مشهوره په فساد باندې یئ تنبیه هم فرمائیلې ده .

دوی ډیر زیات کتابونه لیکلی دی چه ددې نه دوه په نصاب دَ وفاق المدارس کښی شامل دی . ۱﴾...... ایساغوجی ۲﴾...... هدایة الحکمة .

## وفات :

دَ مفضل بن عمر دَ تاریخِ پیدائش په باره کښی څۀ معلومات نشته ، او دَ وفات په باره کښی یئ مختلف اقوال دی . صاحبِ معجم ٦٦٠ هجری لیکلې دې او هم دا راجح قول دې .

★...... ★...... ★...... ★...... ★...... ★

## د علمِ منطق تعریف

ددې نه مخکښې دوه تمهیدی خبرې پیژندل ضروری دی

﴿۱﴾ ...... لکه څنګه چه په آئینه کښې دَ څیزونو صورتونه منقش کیږی نو دارنګه الله رب العزت دَ انسان په ذهن کښې داسې صلاحیت اچولې دې چه دا دَ هریو څیز عکس محفوظ کوی .

لیکن په آئینه او په ذهنِ انسانی کښې ډیر زیات فرق دې . او هغه دارنګه چه په آئینه کښې صرف دَ محسوس او مبصر څیزونو صورتونه منقش کیږی او په ذهنِ انسانی کښې دَ غیر محسوس او غیر مبصر څیزونو عکس هم راځی لکه محبت ، عداوت ، لوږه ، تنده وغیره وغیره .

او الله پاك دَ څیزونو دَ اِدراك کولو دپاره انسانی ذهن ته پنځهٔ جاسوسان ورکړې دی او دې پنځو جاسوسانو ته حواسِ خمسه وائی .

او دا حواسِ خمسه دادی : (۱) قوتِ لامسه (۲) قوتِ سامعه (۳) قوتِ باصره (۴) قوتِ شامه (۵) قوتِ ذائقه

﴿۲﴾ ...... کوم څیز چه په ذهن کښې راځی دې ته علم وئیلی شی او کوم څیز چه په ذهن کښې نهٔ راځی هغې ته جهل وائی ... لکه چه یو کس څوك اووینی او آواز یئ واؤری نو وائی چه دا زید نهٔ دې عمرو دې ، په دې واسطې سره چه دَ زید په لیدو سره او دَ هغه دَ آواز په آؤریدو سره چه زمونږ په ذهن کښې کوم صورت راتلو هغه داسې نهٔ وو ، او لکه څنګه چه مونږ ناشپاتئ اووینو ، خوند یئ اوڅکو ، بوئی یئ کړو او مسه یئ کړو نو مونږ وایو چه دا ناشپاتئ ده او سیب نهٔ دې ، ځکه چه دَ سیب په لیدو ، خوړلو او مسه کولو سره چه کوم صورت او

Maktaba Tul Ishaat.com

کيفيت پـه ذهـن کښـې راځـي نـو هغـه داسې نـۀ دې ، دارنګـه بعضِ څيـزونـو تـه خوږ ، بعضو ته تريخ ، بعضو ته سخت او بعضِ څيزونو ته نرم په دې وجه سره وايو چه دَ خوږ او تريخ څيز په څکلو ، او دَ سخت او نرم څيز پـه مسـه کولو سره چه کوم کيفيت او صورت په ذهن کښې راځـي نـو هغه هم داسې وی . غرض دا چه دا خبره معلومه شوه چه په ليـدلـو ، څـکلو ، آؤريدلو او بوئې کؤلو سره په ذهن کښې يو صورت راځـي ، او دارنـګـه دَ يـوې خبرې پـه پـو هيدلو باندې هم يو صورت په ذهن کښې راځي ، نو دا ټول علم دې .

بيـا دَ عـلمِ مخلوق دوه قسمونه دی . (۱) تصور (۲) تصديق ، او بيا دَ تصور او تصديق دوه دوه قسمونه دی . دَ علمِ مخلوق اقسام دی .

تـصديق خو هغه جمله خبريه ته وائې چه هغه مفيد دَ يقين يا مـفيد دَ ظنِ غالب وی . برابره خبره ده کۀ جمله اسميه وی او کۀ فعليه . کـۀ دَ واقـعې مـطابـق وی لـکـه " لا اِلـه الا الله محمد رسول الله " يا دَ واقعې مطابق نۀ وی لکه دا قول دَ کفارو " اتخذ الله ولدًا " ............
" هؤلآء شفعائنا عند الله . "

ددې نـه عـلاوه چـه څـومـره صـورتـونـه دی هغه تصورات دی مثلًا مـفـرد اسم ، حـرف او دَ مـرکـبِ نـاقص پنځۀ واړه اقسام او دَ جمله انشائيه اقسام .

## فائده :

کـۀ چرې دَ جُـمـلې يوه حصه محذوف يا مستتر وی نو نحاة دَ

هغې اعتبار کوی او جمله ورته وائی . دارنګه منطقی حضرات هم د محذوف اعتبار کوی او تصدیق ورته وائی . لکه " لم یتخذ صاحبةً ولا ولدًا ." په " یتخذ " کښې " هو " ضمیر دې او دارنګه چه دَ " من قام " په جواب کښې زید او دَ " ما هٰذا " په جواب کښې کتاب اووئیلی شی نو تقدیر دَ عبارت به دارنګه وی " قام زید " او " هٰذا کتاب " دا تصدیق دې . او صرف زید او کتاب تصور دې .

کۀ چرې په جمله کښې دَ یقین یا دَ غالب ظن فائده نۀ وی نو بیا هم تصور دې .

﴿۱﴾ نظری ﴿۲﴾ بدیهی

بدیهی هغه دې چه په هغې کښې دَ سوچ او دَ فِکر ضرورت نۀ وی او نظری هغه دې چه په هغې کښې دَ نظر وفکر ضرورت وی .

تصورِ نظری دَ تعریف په ذریعې سره معلومولې شی او تصدیقِ نظری په دلیل سره .

**فائده** : دا ضروری ده چه څۀ څیز دَ یو انسان په نزد باندې نظری دې نو دَ بل په نزد به هم نظری وی بلکه دا ممکنه ده چه دَ بل انسان په وړاندې بدیهی وی .

**فائده** : دَ بدیهی حصول په حواسِ خمسه ، تجربه ، حدس او دَ عقل په توجه سره کیږی .

دَ تصدیقِ بدیهی دپاره دَ دلیل ضرورت نۀ وی بلکه بغیر دَ دلیل نه دَ هغې علم حاصلیږی . البته بعضِ وختونه دَ انسان نه هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

ځیز غائب شی نو دَ هغه دپاره دَ تنبیه او دَ خبردارئ ضرورت وی .

او کۀ چرې یو کس بالکل دَ بدیهی ځیز نه انکار کوی . مثلًا دَ " النار محرقة " نه انکار کوی نو داسې کس ته دَ دلیل بیانولو ضرورت نشته دې . بلکه ددې علاج دادې چه دَ هغه لاس اونیولې شی او اُور ته نزدې کړې شی نو هغه به زر تر زره اومنی .

**فائده :** دَ هر فن دَ ماهرینو په نزد باندې دَ هغه فن اصطلاحات او عمومی مسائل دَ تصورِ بدیهی یا تصدیقِ بدیهی په درجه کښې وی . دَ علماءِ نحو په نزد باندې دَ فاعل ، مفعول بهٖ او مفعول معه وغیره اصطلاحات دَ تصورِ بدیهی درجه لری او " هر فاعل مرفوع وی " دَ تصدیقِ بدیهی درجه لری .

**فائده :** دَ علم دَ حصول دپاره انسان درې ذرائع استعمالوی .

(۱) حواسِ خمسه ( لیدل ، کتل ، بوئی کول ، څکل او مسه کول ) او آواز آوریدلو سره او شکل ته کتلو سره ، دَ خوشبودار ځیز بوئی کولو سره او دَ ذائقې په څکلو سره او دَ گرمئ او یخنئ په مسه کولو سره معلوموی مثلًا یو کس وائی چه ماته دَ گرمئ علم نشته نو دَ هغه لاس اونیسه او گرم لوښی سره یې اولگوه نو هغه ته به علم اوشی .

(۲) خبرِ صادق ، بالخصوص دَ انبیاء علیهم السلام ارشادات بالکل صحیح او صادق دی او دَ هغوی په اقوالو سره دَ نامعلوم ځیزونو قطعی علم حاصلیږی .

(۳) دریمه ذریعه عقل دې . چه دَ دوو معلوم څیزونو په ملاؤلو سره دَ دریم څیز علم حاصلوی .

دَ حواسو نه منطقی ځکه بحث نهٔ کوی چه هغه خو هر چاته معلوم دی او بله دا چه په دې سره دا ضروری نهٔ ده چه نظری لره بدیهی اوګرځوی بلکه ابتداءً ددې په ذریعې سره علم حاصلولې شی مثلًا : تهٔ دَ یو اجنبی سړی سره ملاقات اوکړې ، نو دَ هغه په لیدو سره تا هغه لره دَ نظری نه بدیهی نکړو بلکه ابتداءً دې هغه حاصل کړو او په حواسِ خمسه سره حاصلیدونکی علم بدیهی وی .

دویم قسم خبرِ صادق مصنف نهٔ دې ذکر کړې ځکه چه دا په دریم قسم کښې داخلیږی .

**فائده** : دا عمومی ضابطه ده چه هر نظری دَ بدیهی په ذریعې سره معلومیږی ، انسان دَ خپل ماحول په ذریعې سره څهٔ څیزونه بداهةً پیژنی . کله چه تعلیم شروع کړی نو دا معلومات یوځائ کړی نو دَ هغې نه دَ یو دریم څیز علم حاصلوی کله چه هغه حاصل شی او بدیهی اوګرځی نو ددې په مدد سره دَ یو بل څیز علم حاصلوی .

دارنګه دَ دینی تعلیم نظام دې چه دَ ټولو نه مخکښې دَ صرف ونحو قواعد بدیهی ګرځولې شی ، کله چه بدیهی اوګرځی نو انسان وراندې ځی او بیا دَ فقه او اصولِ فقه او دَ نورو علومو مسائل او قواعدِ نظریه دَ صرف ونحو نه دَ حاصل شُده استعداد په ذریعې سره

Maktaba Tul Ishaat.com

حاصلوی .

## د منطق تعریف :

﴿ الة قانونية تعصم مراعاتها الذهن عن الخطاء فی الفكر ﴾

" یعنی منطق داسې قانونی آله ده چه دَ هغې دَ لحاظ کؤلو په وجه سره ذهن دَ فکری غلطئ نه محفوظ وی .

## د " آله " تعریف :

﴿ هی الواسطة بين الفاعل ومنفعله فی اصول اثره اليه ﴾

یعنی چه دَ فاعل اثر لره منفعل ته رسولو والا کومه ذریعه وی نو هغې ته آله وائی .

فاعل یعنی المؤثر ( اثر پیدا کؤنکی ) او منفعل یعنی المتاثر ( اثر قبلولو والا ) لهذا منطق هم دَ قوتِ عاقله اثر څیزونو ته دَ رسولو دپاره آله ده . ددې وجې نه دې علم ته آله وائی .

## د منطق وجه تسمیه :

منطق دَ " نَطَقَ ، يَنْطِقُ نُطْقًا وَمَنْطِقًا " نه مصدرِ میمی دې دَ باب ضرب نه په معنٰی دَ خبرو کؤلو سره . په قرآن مجید کښی هم په دې معنیٰ کښی استعمال شوې دې . " علمنا منطق الطير "

## د علمِ منطق د نوم کیخودو درې وجوهات

**اولنئ وجه:** دا علم دَ نُطقِ ظاهری وباطنی دوارو سبب دې .

**نطق ظاهری :** ددې نه مُراد تکلم او کلام کول دی . نو دَ

نطقِ ظاهری دارنګه سبب اوګرځیدو چه چا منطق وئیلی وی نو دَ هغه تکلم او کلام زیات قوی وی په هغه چا باندې څوك چه دَ علمِ منطق نه جاهل وی .

**نطق باطنی** : ددې نه اِدراك مُراد دې نو دَ نطقِ باطنی په دې شان سره سبب شو چه منطقی دَ څیزونو حقیقت پیژنی او دَ هغې اجناس ، انواع ، فصول ، لوازمات او خواص پیژنی . لهذا کله چه دا علم دَ نطقِ باطنی هم سبب دې او دَ نطقِ ظاهری هم نو کوم نوم چه دَ مسبب وو نو هم هغه یئ دَ سبب هم کیخودهٔ . ددې وجې نه ددې علم نوم منطق مقرر کړې شو . دا دَ " تسمیة السبب باسم المسبب " دَ قبیل نه دې .

**دویمه وجه** :

منطق دَ اسمِ ظرف صیغه هم ده ددې معنیٰ ده دَ " وئیلو ځائ " دَ وئیلو ځائ ژبه ده نو کوم نوم چه دَ وئیلو دَ ځائ وو هم هغه نوم یئ دَ دې علم کیخودو ، ګویا چه حال ته یئ دَ محل نوم ورکړو . او دا دَ تسمیة الحال باسم المحلِ دَ قبیل نه دې .

**د قانون تعریف** :

﴿ قاعدة کلیة تنطبق علیٰ جمیع جزئیاته لیتعرف احکامها منها ﴾ داسې قاعده کلیه چه په خپلو تمامو جزئیاتو باندې مشتمل وی چه ددې په ذریعې سره دَ تولو جزئیاتو احکام معلوم کړې شی .

دَ جزئی دَ حکم معلومولو طریقه :

Maktaba Tul Ishaat.com

جزئی لره موضوع او دَ قاعدې موضوع لره محمول اوګرځوه . دا صغریٰ شوه او قاعده کلیه کبریٰ جوړه کړه کومه نتیجه چه اخذ شی نو هغه به دَ جزئی حکم وی . مثلًا په قام زید کښی دَ زید حکم معلومول دی او دا جزئی دې نو اوس مونږ زید لره دَ قاعدې دَ موضوع سره صغریٰ او قاعده کلیه لره کبریٰ جوړه وو . مثلًا :

| کبریٰ | صغریٰ |
|---|---|
| و کل فاعل مرفوع | زید فی قام زید فاعل |

نتیجه ( حکم )

زید فی قام زید مرفوع

## د ذهن تعریف :

﴿ قوة معدة لاکتساب التصورات والتصديقات ﴾ یعنی داسې قوت کوم چه الله تعالیٰ دَ تصوراتو او تصدیقاتو دَ معلومؤلو دپاره تیار کړې دې .

دَ منطق غرض وغایت :

﴿ صيانة الذهن عن الخطاء فی الفکر ﴾ یعنی دَ ذهن دَ فکری غلطئ نه حفاظت کول .

**د منطق موضوع :** په دې کښی دوه قولونه دی یو دَ متقدمینو او دویم قول دَ متاخرینو .

## د متقدمینو په نزد باندې د علمِ منطق موضوع :

دَ متقدمينو په نزد باندې دَ علمِ منطق موضوع معقولاتِ ثانيه دی .

**معقولاتِ ثانيه :** دَ لفظ دَ تلفظ نه بعد چه كوم څيز دَ ټولو نه اول په ذهن كښې حاصليږی نو هغې ته معقولاتِ اوليه وائی . او په ذهن كښې دَ راتلو نه بعد په دويمه مرتبه كښې چه كوم څيز دَ ټولو نه اول په ذهن كښې عارض كيږی هغه معقولاتِ ثانويه دی .

يعنى دې كلمې ته په دې اعتبار سره كتل چه دا كلمه معرب ده يا مبنى ، واحد دې اوكهٔ تثنيه يا جمع . جنس دې اوكهٔ نوع وغيره دا معقولاتِ ثانويه دی .لكه لفظِ حيوان چه ددې تعريف " هو جسم حساس متحرك بالارادة ." ددهٔ دپاره معقولِ اول دې . پس ددينه چه كله مونږ ددې كلمې نه په دې اعتبار سره بحث كوو چه حيوان جنس دې او دې جنس كيدو ته به ددې معقول ثانى وئيلى شى . يعنى اولاً دَ لفظِ حيوان معنىٰ په ذهن كښې راغله او بيا ددې نه بعد دَ هغې جنس كيدل معلوم شول .

**فائده :** متاخرين حضرات فرمائی :

دَ منطق موضوع معلوماتِ تصورى او معلوماتِ تصديقى دی په دې حيثيت سره چه ددې نه مجهول تصورى او مجهول تصديقى حاصل شى .

**د فنِ منطق موجِد او ددې ابتداء :**

علمِ منطق دَ څهٔ قوم يا مذهب سره خاص نهٔ دې بلكه دَ ابتداءِ

Maktaba Tul Ishaat.com

تخلیق نه واخله تردې وخته پورې دا مسلسل راروان دې . دا علم دَ ټولو نه اول حضرت ادریس علیه السلام بطورِ معجزه استعمال کړو او مخالفین یې ساکت او عاجز کړل . ددې نه بعد بیا حکیم افلاطون دا منطق وضع کړو ( افلاطون په ۴۲۷ قبل المسیح کښې پیدا شوې وو او په ۳۴۷ قبل المسیح کښې مړ شوې وو ، دې دَ حضرت موسیٰ علیه السلام په دوَر کښې وو ) لیکن دا تدوین ناقص او نا تمام وو ددې وجې نه دهٔ ته معلمِ اول نشي وئیلی کیدې .

## د علمِ منطق واضعِ اول :

دَ علمِ منطق واضعِ اول او معلمِ اول ارسطاطالیس دې چه ددې نه بعد په ارسطاطالیس الحکیم سره مشهور شو او دهٔ ته ارسطو هم وئیلی شي . ارسطو په ۳۸۴ قبل المسیح کښې دَ یونان په ښار مقدونیه کښې پیدا شو . او دې په ۳۲۲ قبل المسیح کښې مړ شوې دې . ددهٔ دَ استاذ نوم افلاطون او دَ افلاطون اوستاذ سقراط وو . کله چه ارسطاطالیس دَ اتلسو کالو په عمر کښې دَ ټولو علومو تکمیل اوکړو نو دَ وخت بادشاه دَ خپل ځوی سکندر دپاره ارسطو په طور دَ اُستاذ اونیولو . وائی چه کله سکندر مختلف علاقې فتح کړې او په هغې یې سرداران مقرر کړل نو یوه ورځ ورته خوف لاحق شو چه ممکن ده دا سرداران زما نه بغاوت اونکړي او زما حکومت چرته په خطره کښې واقع نهٔ شي . چنانچه ددې اندیښنې نه دَ بچ کیدو دپاره سکندر دَ خپل اُستاذ ارسطو نه مشوره اوغوښته . هغوی ورته په جواب کښې

منطقي مشوره ورکړه چه دا سرداران په خپل مابين کښې جنګوه چه دوی په خپل مابين کښې دومره مشغول شی چه ستا طرف ته يئ هډو خيال نۀ وی او تۀ پرې حکومت کوه .

يو ځل سکندر په يو ملك باندې حمله کول اوغوښتل نو سردارانو دَ حملې کؤلو نه انکار اوکړو . چه په دې سره سکندر ته نور هم زيات تشويش لاحق شو ، چنانچه هغه خپل يو قاصد دَ مشورې دپاره ارسطو ته اوليږلو کله چه قاصد ارسطو ته اورسيدۀ نو هغه دَ ځان سره دا قاصد روان کړو او يو باغ ته اورسيدل او په باغ کښې چه کوم اوچ خشاك او جاړې وغيره وې هغه يئ په کُدالې سره کټ کړې او بهر يئ اوغورزولې .

ګويا چه دا هم يو منطقي جواب وو . کله چه قاصد واپس سکندر ته راغې نو هغه ورته اووئيل چه ماته پته ده چه ارسطو څۀ وئيلی دی . په دې جواب سره اشاره وه چه ټول سرداران قتل کړه چنانچه سکندر ټول سرداران قتل کړل او ددې نه بعد يئ حمله اوکړه نو فتح ورته نصيب شوه .

دۀ دَ اسکندر رومی( چه ددۀ استاذ او وزير وو ) په حکم باندې علم منطق مدون کړو . دَ حضرت عيسیٰ عليه السلام نه ۳۳۲ کاله مخکښې منطق په کامل طور باندې مدون کړې شو . دَ دوی په مشهور کتابونو کښې کتاب النفس او کتاب الحيوان وغيره دی ددې تدوين په يونانی ژبه کښې شوې وو .

Maktaba Tul Ishaat.com

## معلمِ ثاني :

ددې نه بعد بيا ابو نصر محمد بن طرخان فارابی ( المتوفیٰ ۳۳۹ هجری ) ددې علم تدوين اوکړو په حکم دَ شاه منصور بن زح سامانی ، او دَ يونانئ نه يئ عربئ ته منتقل کړو . دَ فارابی په علومِ فلسفه کښې ډيره وسيع مطالعه وه . دَ يوسَل يوولس کتابونو مصنف وو .

## معلمِ ثالث :

ددې نه بعد بيا ابو علی حسين بن عبد الله سينا البخاری چه دۀ ته شيخ رئيش وئيلی شی ، دې ته علم ته يئ نور وسعت ورکړو او دا علم يئ آسان کړو او خلقو ته يئ پيش کړو . دا کار هغوی دَ سلطان مسعود په حکم سره اوکړو . دوی دَ لاسو کالو په عمر کښې قرآن مجيد حفظ کړې وو . او طِب ( ډاکټری ) يئ اوليکله ، په علمِ ادب کښې دَ دوی مطالعه ډيره زياته وسيع وه . دوی په کال ٦٢٨ هجرئ کښې وفات شول ، دَ ۱۱۳ کتابونو مصنف وو .

## د علمِ منطق تاريخ :

دَ علمِ منطق دَ واضعِ اول ارسطاطاليس دَ وفات نه بعد دَ خَقو په درميان کښې دَ علمِ منطق په باره کښې فسادات شروع شول ، نو دَ وخت بادشاه اووئيل چه دَ علمِ منطق تمام کتابونه دې په يوه کمره کښې راجمع کړې شی ددې دپاره چه دا جګړه ختمه شی چنانچه هم داسې اوکړې شو ، يعنی دَ علم منطق چه څومره کتابونه وو هغه ټول

په یوه کمره کښې بند کړې شول او تالا ورته اولګولې شوه . ددې نه روستو دَ نبی اکرم ﷺ دَ بعثت نه روستو دَ هارون الرشید په زمانه کښې هارون الرشید بادشاه خپله خوب اولیدو چه په نمر باندې یو تخت پروت دې او هغه په دې تخت باندې ناست دې . خلیفه ددې خوب دَ تعبیر په باره کښې دَ معبرینو نه تپوس اوکړو نو هغوی ورته اووئیل چه تهٔ به دَ یو داسې علم آغاز او شروع کوې چه دَ هغې وجود په دنیا کښې ختم شوې دې . یعنی یو داسې علم به دوباره ژوندې کوې چه دَ هغې وجود ختم شوې دې . خلیفه تحقیق اوکړو نو ورته معلومه شوه چه هغه علمِ منطق دې ، چنانچه خلیفه هغه کتابونه راؤغوښتل کوم چه په کمره کښې بند کړې شوې وو او محمد بن اسحاق ته یې اووئیل چه ددې کتابونو دَ یونانئ نه عربئ ته ترجمه اوکړه ، مګر محمد بن اسحاق ددې کتابونو په عربئ کښې ترجمه اونکړې شوه نو خلیفه هارون الرشید دا کتابونه دَ ترجمې دپاره محمد بن طرخان فارابی ته ورکړل ، هغه ددې کتابونو په عربئ کښې ترجمه اوکړه لا اوسه پورې دا ترجمه مکمل شوې نهٔ وه چه محمد بن طرخان فارابی وفات شو او کافی کتابونه ضائع شول . ددې نه بعد بیا ابوعلی سینا چه دَ دوی اصل نوم ابو علی حسین بن عبد الله ابن سینا دې ، په دې علم کښې یې نور زیاتی محنت اوکړو . او تدوین وتشریح یې اوکړه . نن چه کوم کُتبِ منطقیه او علم منطق زمونږ سره دې دا هم دَ هغوی ابوعلی ابن سینا دَ وجې نه دې .

Maktaba Tul Ishaat.com

## د محمد بن طرخان څو خوبۍ :

محمد بن طرخان به ډیر زیات خائسته ساز غږوو ، دَ ساز آواز به یئ دومره زړهٔ راښکونکې وو چه په هوا کښې الوتونکی مارغان به ورته هم اودریدل ، کله به یئ داسې آواز ویستلو چه خلقو به ورته ژړل او بیا یئ یکدم داسې دَ سرور آواز پیدا کولو چه خلق به په خندا شول .

## د ابو علی سینا د حواسِ خمسه خصوصیت :

دَ ابو علی ابن سینا حواسِ خمسه دومره تیز وو چه دولس میله فاصله پورې به دَ اوبو ژرنده چلیده نو دَ هغې دَ آواز دَ وجې نه به یئ خوب نهٔ شو کولې .

★......★......★......★......★......★......★......★

★......★......★......★......★......★

★......★......★......★

★......★

★

## بسم الله الرحمٰن الرحیم

قال الشیخ الامام العلامة افضل العلماء المتاخرین قدوة الحکماء الراسخین اثیر الدین الابهری طیب ثراه وجعل الجنة مثواه .

**ترجمه** : ...... فرمائی بزرگ پیشوا ، ډیر لوی عالم ، دَ متاخرین علماؤ نه افضل ، دَ مضبوط حکماؤ پیشوا چه دا اثیر الدین ابهری دې " خوشبوداره دې اوګرځوی الله پاك دَ هغه خاؤره ( یعنی قبر ) او جنت دې دَ هغه دپاره ځائ دَ اوسیدو اوګرځوی .

**ترکیب** : قال فعل الشیخ مرفوع بالضمه لفظًا موصوف الامام مرفوع بالضمه لفظًا صفتِ اول العلامة مرفوع بالضمه لفظًا صفتِ ثانی . افضل علماء المتاخرین مرفوع بالضمه لفظا صفتِ ثالث . قدوة الحکماء الراسخین صفتِ رابع ، اثیر الدین ابهری صفت خامس یا بدل . موصوف سره دَ څلورو صفاتو یا دَ پنځو صفاتو فاعل شو دَ قال فعل سره دَ فاعل نه جمله فعلیه خبریه .

**فائده** : دا عبارت دَ مصنف دَ یو شاګرد دې . دا یو څو جملې تلمیذ دَ خپل استاذ په مدحه کښې لیکلی دی دَ مصنف عبارت دَ " نحمد " نه شروع کیږی .

## د الفاظو تشریح

﴿ شیخ ﴾ : په لغت کښې مشر او بزرګ ته وائی . په انسان

Maktaba Tul Ishaat.com

باندې مختلف زمانې تیرېږی او مختلف ادوار پرې راځی .

﴿۱﴾...... کله چه دَ مور په خیټه کښې وی نو " جنین " ورته وائی . ﴿۲﴾...... کله چه پیدا شی نو ولید ورته وائی ﴿۳﴾...... کله چه پئ ځکی نو " رضیع " ورته وائی ﴿۴﴾...... قبل البلوغ ورته صبی وئیلی شی ﴿۵﴾...... او قریب البلوغ ته مراهق وائی ﴿۶﴾...... او بعد البلوغ ورته شاب وائی . ﴿۷﴾...... دَ ځلویښت نه پنځوسو کالو پورې ورته کهول وائی ﴿۸﴾...... پنځوس کالو تیـه چه اورسی نو بیا ورته شیخ وائی .

﴿۹﴾...... دَ پنځوس کالو نه تر اتیا کالو پورې ورته " هرم " وائی او ددې نه بعد ورته " هَم " وائی

## اصطلاحی معنی :

په هره طبقه کښ دَ شیخ جُدا جُدا تعریف دې :

﴿۱﴾ : دَ صوفیاءِ کرامو په نزد باندې دَ شیخ تعریف دادې : من یحیی السنة ویمیت البدعة ویکون افعاله واقواله حجة للناس ولو کان شابًا . " شیخ دادې چه سنت ژوندې کوی او بدعة ختموی او دَ هغه افعال او اقوال دَ خلقو دپاره حجت وی اگر چه ځوان وی .

اهلِ علم وفن دَ شیخ تعریف څۀ په دې ډول کوی : " من له مهارة کاملة فی فن من الفنون او علم من العلوم ولو کان شابًا " چاته حه دَ فنونو نه په یو فن کښې یا دَ علومو نه په یو علم کښې کامل مهارت حاصل وی . بعضِ اهلِ علم حضرات شیخ هغه کس ته وائی چه هغه کم از کم پنځۀ کتابونه لیکلی وی . دا دَ شیخ دریمه

اصطلاحي معنیٰ ده .

﴿۳﴾ : په عماءِ منطق وفلسفه او علمِ طب کښې دَ شیخ نه مُراد ابو علي سینا وی .

﴿۴﴾ : دَ علمائے ماتریدیه په نزد باندې دَ شیخ نه مُراد ابو منصور ماتریدی مراد وی .

﴿۵﴾ : دَ علمائے اشعریه په نزد باندې شیخ ابو الحسن اشعری مُراد وی .

﴿٦﴾ : دَ علمائے اهلِ کشف په نزد باندې شیخ محی الدین ابن العربی مراد وی .

﴿۷﴾ : او کله چه په علمِ صرف ونحو ، بیان ، بدیع ، معانی او ادب کښې لفظِ شیخ مطلق ذکر شی نو ددې نه مراد شیخ عبد القاهر جرجانی وی .

﴿۸﴾ : دَ علمائے تصوف په نزد باندې شیخ عبد القادر جیلانی رحمه الله مراد وی .

﴿۹﴾ : کله کله مطلق شیخ النحو یا شیخ المنطق یا شیخ الجامعه ذکر کیږی . چونکه دا کتاب په علمِ منطق کښې دې نو ددې وجې نه به دَ الشیخ نه مُراد ابو علی سینا مراد وی ، لیکن دَ الشیخ نه وړاندې چه کوم القاب ذکر کوی ددې نه صاحبِ ایساغوجی مفضل بن عمر مراد دې .

☆......☆......☆

Maktaba Tul Ishaat.com

## د شیخینو ذکر

۱﴾...... کله چه په قرنِ اول کښې دَ شیخینو ذکر وی نو دَ دې نه مراد حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر فاروق رضی الله عنهما وی . ( المتوفیان ۱۳ هجری ......... ۲۳ هجری )

۲﴾...... کله چه په کتابونو دَ فقه کښې دَ شیخینو ذکر وی نو بیا ترینه مُراد حضرت امام اعظم ابو حنیفه او ابویوسف رحمهما الله وی . ( المتوفیان ۱۵۰ هجری ......... ۱۸۱ هجری )

۳﴾...... کله چه دَ حدیث په کتابونو کښې دَ شیخینو ذکر وی نو بیا ترینه حضرت امیر المؤمنین فی الحدیث امام بخاریؒ ( المتوفیٰ ۲۵٦ هجری ) او حضرت امام مسلم رحمه الله مُراد وی ( المتوفیٰ ۲٦۱ هجری )

﴿امام﴾ : دَ امام معنیٰ ده مقتدیٰ او پیشوا ، اصطلاحی معنیٰ یې ده " من یؤتم به " هغه کس چه دَ هغه اقتداء کولې شی برابره خبره ده کهٔ په دنیاوی اُمورو کښې وی او کهٔ په دینی امورو کښې . او دا هم دَ شیخ په شان دې کهٔ بحالتِ وصف وی نو په خپل موصوف به یې اطلاق کیږی او کهٔ چرې مطلق ذکر وی نو په فقه کښې امام اعظم ابوحنیفهؒ او امام شافعی رحمه الله وغیره به مُراد وی دَ چا چه فقه وی هم دَ هغه اطلاق به وی او په علمِ حدیث کښې به دَ امام نه مُراد ...م بخاریؒ وی او په فلسفه کښې امام رازیؒ او په تصوف کښې امام

غزالی رحمه الله .

﴿العلامة﴾ : دَ العلامة معنیٰ ده زیات علم والا . او په اصطلاح کښې : " من یکون عالمًا بالعلوم العقلیة والنقلیة " په اصطلاح کښې علامه هغه کس ته وائی چه هغه په علومِ عقلیه او نقلیه دواړو کښې زیات علم والا وی . دَ ډیر زیات علم کیدو مختلف معیارونه مقرر کړې شوې دی . بعضِ وائی چه علامه هغه دې چه هغه په هر فن کښې کم از کم یو یو کتاب تصنیف کړې وی . بعضِ وائی چه علامه هغه دې چه هغه ته په معقولاتو کښې مهارتِ تامه حاصل وِی ، دَ معقولاتو نه مُراد علمِ منطق او علم فلسفه ده .

په " العلامة " کښې تاء دَ مبالغې دپاره ده . په دې کښې درې مبالغې دی .

﴿۱﴾ صفة ﴿۲﴾ تاءِ مبالغه ﴿۳﴾ تنوین دَ مبالغې دپاره .

**سوال** : العلامة صفت دې دَ الشیخ ، او الشیخ موصوف مذکر دې او صفت علامة خو مؤنث دې ، نو په موصوف او صفت کښې مطابقت نشته دې حالانکه دَ موصوف او صفت په درمیان کښې مطابقت ضروری دې ؟

**جواب** : ...... دَ العلامة په آخر کښې چه کومه تاء ده دا تاءِ تانیث نۀ ده بلله تاءِ مبالغه ده . لهٰذا دَ موصوف صفت په مابین کښې مطابقت موجود دې .

**فائده** : دَ تاء ټول اتۀ قسمونه دی چه په دې شعر کښې ټول

Maktaba Tul Ishaat.com

بند دی :

**تـاء تذکیر است وتانیث است وحدت هم بدل**
**مـصـدریـت ، مبـالـغـه زائده شُـده هـم نقل**

۱﴾...... دَ تاءِ تذکیر مثال لکه " اربعة رجال " ۲﴾...... دَ تاءِ تانیث مثال لکه طلحة . ۳﴾...... دَ تاءِ وحدة مثال لکه نفخة واحدة " ۴﴾...... دَ تائے بدل مثال لکه عدة اقامة . ۵﴾...... تائے مصدریت لکه مصدریة فاعلة . ٦﴾...... تاءِ مبالغه لکه العلامة ۷﴾...... تائے زائده لکه تضرب ۸﴾...... تائے نقل لکه کافیة .

**سوال** : بیا خو الله تعالیٰ ته هم علامه وئیل پکار دی ؟

**جواب** : دا تاء اګر چه دَ مبالغې دپاره ده مګر دَ تائے تانیث شُبه پکښی موجود ده ، ددې وجې په الله پاك باندې ددې اطلاق جائز نهٔ دې

**سوال** : الله پاك خو دَ تذکیر نه هم پاك دې نو بیا دَ الله پاك دپاره دَ تذکیر صیغه ولې استعمالولې شی ؟

**جواب** : مذکر افضل دې دَ مؤنث نه ، ددې وجې نه دَ مذکر صیغه استعمالولې شی . او بله دا چه هره کلمه دَ دوو حالتونو نه خالی نهٔ وی . یا به مذکر وی او یا به مونث وی او دریمه صیغه خو بالکل شته دې نهٔ چه دَ الله پاك دپاره استعمال کړې شی .

**افضل** ' په معنیٰ دَ بهترین سره . افضل صیغه دَ اسمِ تفضیل ده . دَ اسم تفضیل استعمال په دریو طریقو کښی په یوې طریقې سره کیږی ۱﴾...... الف لام سره ۲﴾ ...... مِن سره ۳﴾...... اضافت

سره ، دلته کښې په طریقه دَ اضافت مستعمل دې .

علماء : دا دَ عالِم جمع ده په معنیٰ دَ پوهیدونکی سره .

﴿ المتاخرین ﴾ : دا جمع ده دَ متاخر . دَ متقدمین علماؤ نه مُراد دَ ارسطو نه واخله تر دَ فارابی پورې علماء دی او دَ متأخرین علماؤ نه مُراد دَ فارابی نه تر دَ بوعلی سینا پورې علماء دی .

په علمِ منطق کښې دوه اصطلاح گانې استعمالیږی :

﴿۱﴾...... متقدمین ، یعنی هغه علماء کوم چه مخکښې راغلې دی او دَ متأخرین علماؤ نه مراد هغه دی کوم چه روستو راغلی دی . باقی پاتې شوه دا خبره چه دَ چا نه مخکښې راتلونکی متقدمین دی او دَ چا نه روستو راتلونکی متأخرین دی ، نو په دې کښې راجح قول دادې چه دَ فخر الدین نه مخکښې راتلونکی متقدمین دی او کوم چه ددې نه روستو راتلونکی دی هغه متاخرین دی . او فخر الدین دَ متقدمینو نه دې اوکهٔ دَ متاخرینو ؟ نو په دې کښې هم راجح قول دادې چه امام فخر الدین دَ متاخرینو نه دې .

**سوال** : علماءِ متاخرین خو مخکښې تیر شوې دی ځکه چه دَ بوعلی سینا نه بعد څوك معتد به سرې نهٔ دې راغلې نو دې دَ متاخرینو نه څنگه افضل دې ؟

**جواب** : دلته کښې لغوی معنیٰ مراد ده چه دَ خپلې زمانې علماء چه دَ مخکښې علماؤ په نسبت متاخرین دَ دوی نه صاحبِ ایساغوجی افضل دې .

Maktaba Tul Ishaat.com

**سوال** : دَ خپلې زمانې دَ جمیع علماؤ نه څنګه افضل کیدې شی ؟

**جواب** : ددې زمانې دَ علماؤ نه مراد دَ خپل ښار یا علاقې یا دَ محلې علماء دی ، چه دَ دوی نه افضل دې .

قدوة“ په معنیٰ دَ پیشوا سره ، دا دَ قاف په کسره ، ضمه او فتحه درې واړو سره لوستل جائز دی .

﴿ الحکماء ﴾ : دا دَ حکیم جمع ده په معنیٰ دَ دانشمند او هوښیار ، او دا مشتق دې دَ حکمت نه . حکماء جمع ده دَ حکیم ، په اصطلاح کښې حکیم هغه دې چه هغه دَ انسانی طاقت په اعتبار سره په تمامو احوالو پوهه وی ، په اُمورِ خارجیه هم او په موجوده هم واقف او پوهه وی .

او حکیم په لغت کښې نیك کِردار بنده ته وائی او په اصطلاح کښې : ” من اتقن العلم والعمل علیٰ قدر طاقة البشرية “ دا قید ددې وجې نه دې کۀ چرې مجموعه مراد وی نو هغه صرف الله تعالیٰ دې او کۀ چرې بعضِ وی نو هر بنده حکیم کیدې شی .

## د حکمت اصطلاحی تعریف

” هو علم باحوال اعیان الموجودات علیٰ ماهی علیه فی نفس الامر بحسب الطاقة البشرية . “

﴿ الراسخین ﴾ دا جمع دَ راسخ ده په معنیٰ دَ مضبوط او قوی . ددې نه مراد هغه علماء دی کوم چه په فنِ حکمت کښې

مضبوط او قوی علماء دی .

**سوال** : راسخین په معنیٰ دَ کلك او مضبوط دي او دَ حکماؤ نه مفهوم دي نو دَ راسخینو ذکر مستدرك دي ؟

**جواب** : دا دَ حکماؤ دپاره صفتِ کاشفه دي .

**﴿ اثیر الدین الابهری ﴾** : اثیر الدین دَ مصنف لقب دي ، دَ اثیر معنیٰ ده مختار ، ددۀ اصل نوم مفضل بن عمر دي .

اثیر په وزن دَ فعیل دي . کۀ چرې په معنیٰ دَ فاعل وی نو معنیٰ به يئ ناقل الدین وی او کۀ چرې په معنیٰ دَ مفعول سره وی نو بیا به يئ معنیٰ مختار الدین وی .

**سوال** : دین خو غیرِ روح دي ددې دَ مختار کیدو څۀ معنیٰ ده ؟

**جواب** : مضاف الیه مخذوف دي ، اصل کښې دارنګه دي " مختار اهل الدین " او په ابهری کښې یاء دپاره دَ نسبت ده ، آب په معنیٰ دَ اوبو ، او هَر په معنیٰ دَ ژرندې . دا دَ روم دَ مضافاتو علاقه ده چه هلته کښې به په دغه زمانه کښې دَ اوبو ژرندې زیاتې وې ، ددې وجې نه ددغه علاقې نوم اوس اَبهر دي .

دا صاحبِ ایساغوجی دَ امام رازی رحمه الله په خاص شاګردانو کښې دي . دوی ډیر زیات کتابونه لیکلی دی چه ددې نه دوه کتابونه دَ وفاق المدارس په نصاب کښې شامل دی ﴿۱﴾...... ایساغوجي ﴿۲﴾...... هدایة الحکمة . دَ دوی دَ وفات راجح قول ٦٦٠ هجری ده .

﴿ طیب الله ثراه وجعل الجنة مثواه ﴾

Maktaba Tul Ishaat.com

**ترکیب** : طیب ' فعل . الله ' فاعل . ثراه مضاف ، مضاف الیه ، مضاف سره دَ مضاف الیه نه مفعول بهٖ . فعل سره دَ فاعل او مفعول بهٖ نه جمله فعلیه معطوف علیه ، واؤ عاطفه جعل فعل هُو ضمیر راجع بسوئے الله ، فاعل . الجنة مفعولِ اول ، مثواه مضاف مضاف الیه ، مضاف سره دَ مضاف الیه نه مفعولِ ثانی . فعل سره دَ فاعل او سره دَ دواړو مفعولَینو نه جمله فعلیه معطوف ، معطوف علیه سره دَ خپل معطوف نه جمله فعلیه معترضه دعائیه .

دَ جعل دوه قسمونه دی :

(۱) جعل بسیط په معنیٰ دَ خلق سره .

(۲) جعل مرکب .

جعل بسیط : هغه دې چه متعدی یو مفعول ته وی لکه دا مثال شو : جعل الظلمٰت والنور . "

جعل مرکب : هغه دې چه متعدی دوو مفعولو ته وی لکه " الم نجعل الارض مهادًا . "

﴿ نحمد الله علیٰ توفیقه ونساله هدایة طریقه والهام الحق بتحقیقه ونصلی علیٰ محمد وآله وعترته ﴾

**ترجمه** : ...... مونږ تعریف کوو دَ الله دَ هغه په توفیق باندې او مونږ دَ هغه نه سوال کوو دَ هغهٔ دَ لارې دَ هدایت او دَ حق دَ اِلهام دَ هغې دَ تحقیق سره او مونږ دردو وایو په محمد ﷺ باندې او دَ هغوی په آل باندې او دَ هغوی په خاندان باندې . "

## د الفاظو تشریح

﴿ نحمد ﴾ : دا مشتق دې دَ حمد نه، په معنیٰ دَ تعریف کؤلو سره او دَ تعریف دپاره درې الفاظ استعمالیږی . ۱ ﴾...... حمد ۲ ﴾...... مدح ۳ ﴾...... شکر .

**حمد** : هو الثناء باللسان على الجميل الاختيارى نعمة كان او غيرها . "

**مدح** : هو الثناء باللسان على الجميل الاختيارى او غير الاختيارى . "

**شكر** : هو فعل ينبئ عن تعظيم النعم لكونه منعمًا سواء كان باللسان او بالجنان او بالاركان . "

دَ حمد او دَ شکر ترمنځه دَ عموم وخصوص من وجه نسبت دې ، ځکه چه حمد دَ خپل مورد په اعتبار سره خاص دې لیکن دَ متعلق په اعتبار سره عام دې او حال دادې چه شُکر ددې برعکس دې . په دې کښې به دوه مادې افتراقی او یوه ماده اجتماعی وی .

دَ حمد او دَ مدح ترمنځه دَ عموم وخصوص مطلق نسبت دې ځکه چه په حمد کښې دَ اختیاری خوبئ شرط دې او په مدح کښې دَ اختیاری قید نشته دې . حمد خاص مطلق دې او مدح عام مطلق دې . په دې کښې به یوه ماده افتراقی او یوه ماده اجتماعی وی .

په ﴿ الحمد ﴾ کښې دَ لامِ غیرِ زائد حرفی څلور قسمونه دی :

Maktaba Tul Ishaat.com

۱﴿...... کهٔ چرې الف لام جنسی مراد واخستې شی نو قضیه طبعیه به وی .

۲﴿...... کهٔ چرې الف لام استغراقی مراد واخستې شی نو قضیه محصوره به وی .

۳﴿...... او کهٔ چرې الف لام عهدِ خارجی مراد واخستې شی نو قضیه شخصیه به وی .

۴﴿...... کهٔ چرې الف لام عهدِ ذهنی مراد کړې شی نو قضیه مهمله به وی .

﴿ الله ﴾ : علم للذات الواجب الوجود المستجمع لجمیع الصفات الکمال منزه عن النقص والزوال ." یعنی الله دَ هغه ذات نوم دې چه واجب والوجود دې او جمیعِ صفاتِ کمالیه لره جامع دې .

﴿ توفیق ﴾ : دَ توفیق لغوی معنیٰ ده " چاته لاس ورکؤل " او اصطلاحی معنیٰ یئ ده " جعل الاسباب موافقة للمطلوب الخیر " دَ مطلوبِ خیر دپاره دَ ټولو اسبابو مهیا کولو ته توفیق وائی او یو " جعل الاسباب موافقة للمطلوب الشر " دې ، یعنی دَ بدئ او شر دَ حصول دپاره اسباب مهیا کول ، دې ته په اصطلاح کښی خذلان وائی

او بعضِ علماؤ یئ دا معنیٰ کړې ده " خلق القدرة علی الطاعة " او بعضو " الدعوة الی الطاعة " او بعضو " خلق الطاعة " معنیٰ کړې ده .

﴿ هدایت ﴾ : دَ هدایت معنیٰ ده لاره ښودل . او په اصطلاح

کښې دَ هدایة دوه معانې دی .

﴿۱﴾...... اراءة الطریق یعنی لاره ښودل ، دا معنیٰ دَ اشاعره په نزد باندې ده .

﴿۲﴾...... ایصال الی المطلوب : مطلوبه پورې رسؤل . دا معنیٰ دَ معتزله په نزد باندې ده . او صحیح خبره داده چه هدایت په دې دواړو معانو کښې من حیث الاستعمال مشترك دې . چرته چه کومه معنیٰ مناسب وی هلته کښې به هغه معنیٰ مُراد اخستې شی .

**خلاصه** : دَ معتزله او اشاعره په خپل تعریف کښې حقیقت او دَ نورو په تعریف کښې مجاز ګنړل خلافِ اصل دی . او دَ علامه تفتازانی صلح کول هم خلافِ اصل دی او مشترکِ لفظی قرار ګرځول هم دَ حقیقت نه خلاف دی ، لهذا دا هم خلافِ اصل دی .

په دې بناء باندې محققین علماؤ دې لره مشترکِ معنوی قرار ګرځولې دې او هم دا خبره درسته ده . چه ددې مزید تفصیل دَ شرح تهذیب په شرح کښې اوګورئ .

اِلهام : ددې لغوی معنیٰ ده اِلقاء کول ، یعنی اچؤل . او اصطلاحی معنیٰ یئ ده " القاء الخیر فی قلب الغیر بطریق الفیض "
یعنی دَ خیر خبره دَ چا زړهٔ کښې اِلقاء کول په طریقې دَ فیض سره . بعضِ حضراتو دَ فی قلب الغیر په ځایٔ باندِ فی قلب المؤمن هم وئیلی دی . مختصر دا چه الله پاك بغیر دَ واسطې نه دَ چا په زړهٔ کښې دَ خیر خبره راوَلی نو دې ته اِلهام وائی . دا دَ الله پاك دَ طرف نه وی .

Maktaba Tul Ishaat.com

او یوه " وسوسه " ده چه ددې معنیٰ ده " القاء الشر فی قلب الغیر " یعنی دَ چاپه زړهٔ کښی دَ شر او بدئ اِلقاء کؤل . دا دَ شیطان دَ طرف نه وی .

**سوال** : دا تعریف په دې قول دَ باری تعالیٰ " فالهمها فجورها " باندې نهٔ صادقیږی .

**جواب** : دلته کښی دَ " الهمها " لغوی معنیٰ مراد ده .

﴿ الحق ﴾ : حق هغه خبر دې چه په هغې کښی ددې خبرې لحاظ ساتلې شوې وی چه واقعه دَ خبر مطابق ده . او یو صدق دې چه په هغې کښی ددې لحاظ ساتلې شوی چه خبر دَ واقعې مطابق دې .

او دَ حق په مقابله کښی باطل دې او دَ صدق په مقابله کښی کذب دې .

﴿ تحقیق ﴾ : دَ تحقیق لغوی ده ثابتؤل ، او اصطلاحی معنیٰ ده یوه خبره په دلائلو باندې ثابتول .

﴿ تدقیق ﴾ : او یو لفظ دې تدقیق یعنی دَ دلائلو جزئیات بیا په دلائلو سره ثابتؤل . په تحقیق سره یئ دې خبرې طرف ته اشاره اوکړه چه حق هغه معتبر دې چه هغه دَ الله پاك په نزد باندې حق وی ، ځکه چه بعضِ وختونه انسان یوه خبره حق ګنړی لیکن هغه په حقیقت کښی حق نهٔ وی .

**سوال**: مصنف خپل کتاب په تسمیه او تحمید سره ولې شروع کړو؟

**جواب** : ۱﴾ ...... دَ قرآن مجید ابتداء دارنګه ده نو ددې وجې نه

مصنف دَ کتاب الله اتباع اوکړه ۲﴾...... په حدیث شریف کښی راځی .
کل امر ذی بال لم یبدأ باسم الله وبحمد الله فهو اقطع " هر هغه مهتم بالشان کار چه دَ هغې شروع دَ الله په نوم او دَ هغۀ په حمد سره اونشی نو هغه بے برکته وی . او دا کتاب خو یو مهتم بالشان کار وو ددې وجې نه مصنف په دې حدیثباندې عمل اوکړو .

۳﴾...... سلف صالحینو دَ خپلو تصانیفو آغاز هم داسې کړې ده نو مصنف هم ددې سلف صالحینو اقتداء ده .

**سوال** : مصنف دَ جمله اسمیه په ځائ باندې جمله فعلیه اختیار کړه دَ عامو مصنفینو مخالفت یئ ولې اوکړو ؟

**جواب اول** : مصنف په " کل جدید لذیذ " والا قاعدې باندې عمل کړې دې چه هر نوی څیز لذیذ وی ، مصنف په دې انداز سره آغاز اوکړو ددې دپاره چه په دې کلام کښی لذت پیدا شی .

**جواب ثاني** : دا دَ اصل رعایت دې . ځکه چه الحمد په اصل کښی حمدت حمدًا وو حمدت یئ حذف کړو او دَ نصب نه یئ رفعې طرف ته عدول اوکړو ددې دپاره چه دوام واستمرار حاصل شی او په ابتداء کښی یئ الف لام راوړو نو الحمد شو .

**جواب ثالث** : دویم غرض اظهارِ عجز دې ځکه چه په دې قلیل عمر کښی به دوامی او استمراری حمد څنګه ممکن وی ، ددې وجې نه یئ جمله فعلیه ذکر کړه .

**سوال** : کۀ چرې په جمله فعلیه کښی مضارع وی نو هغه په استمرارِ

Maktaba Tul Ishaat.com

تـجـددی بـاندې دلالت کوی او جمله اسمیه په دوامِ ثبوتی باندې دلالت کوی او استمرارِ تجددی دَ ثبوتی نه سخت دې . " فکیف اختاره "

**جواب** : اګر چـه دا سـخـت دې لیـکن مقدورِ انسان دې ، په خلاف دَ استمرارِ ثبوتی چه په دې باندې دَ انسان قدرت بالکل نشته .

**سوال** : مـصـنـف دَ مـاضـی صیـغـه ولـې ذکر نکړه چه هغه په تحقق باندې دلالت کوی ؟

**جواب** : دَ الـلـه پاك پـه نـعمتونو باندې استمرارِ تجددی دې ددې وجې نه يئ مضارع راؤړې ده چه دا په دې باندې دلالت کوی .

**سوال** : دَ جـمـع متـکـلم صیغه ولې ذکر کړې شوې ده حالانکه حامد خو يو دې ؟

**جواب** : په دې کښی يئ دې طرف ته اشاره اوکړه چه حمد يو امرِ عـظیـم دې ، چـه ددې دَ يو بنده نه ادا کيدل مشکل دی لهٰذا دَ نورو خلقو هم ضرورت دې .

او بـلـه دا چـه مـصـنـف دَ ټولو مؤمنینو دَ طرف نه دَ الله تعالیٰ تـعریف او حمد بیانوی او حال دادې چه په الحمد لِله کښی داسې خبره نشته دې .

﴿ ونصلی علیٰ محمد واٰله وعتره ﴾

**ترکیب** : ( نـصـلـی ) فـعـل مـضـارع مرفوع بالضمه لفظًا ' نـحـن ' ضمیر مرفوع محلًا فاعل . ' علیٰ ' حرفِ جار ' محمد ' مجرور لـفظًا معطوف علیه . واؤ عاطفه ' اٰله ' مجرور لفظًا مضاف ' ه ' مضاف

الیـه . مـضاف سره دَ مـضاف الیـه نـه معطوف . واؤ عاطفه ' عترته ' مضاف مضاف الیه ، مضاف سره دَ مضاف الیه نه معطوف ، معطوف علیه سره دَ خپلو تمامو معطوفاتو مجرور شو دَ جار ، جار سره دَ مجرور نـه ظرفِ مستـقر متعلق شو دَ نصلی فعل . فعل سره دَ خپل فاعل او متعلق نه جمله فعلیه .

## د الفاظو تشریح

﴿ نصلی ﴾ : دا مشتـق دې دَ صلوة نه ، او ددې معنیٰ ده دُعا ، طلبِ رحـمت . لیـکن دَ نسبتـونـو پـه بـدلیـدو سره ددې معنیٰ هم بدلیږی . چنانچه کله چه ددې نسبت الله تعالیٰ طرف ته وی نو ددې نه مُراد رحـمت دې او کله چه یئ نسبت فرشتو طرف ته وی نو بیا ترینه مراد استغفار دې او کله چه یئ نسبت مارغانو طرف ته وی نو بیا ترینه مراد تسبیح او تهلیل دې .

او کـلـه چه ددې نسبت بندګانو طرف ته وی نو بیا ددې نه مراد اصل معنیٰ ده یعنی دُعا او طلبِ رحمت ، دلته کښی هم دا معنیٰ مراد ده .

﴿محمد ﴾ : دا دَ نبی کریم ﷺ نوم مبارك دې ( محمد ﷺ ) او په انجیـل کښی احمد ﷺ مذکور دې او لفظِ محمد په قرآن مجید کښـی څـلـور ځایونـو کښـی مـذکـور دې ۱﴾...... سورتِ آل عـمـران ۲﴾......الاحزاب ۳﴾...... سورتِ مـحـمـد ۴﴾...... الـفتح . او لفظِ احمد صرف په یو ځایٔ کښی مذکور دې ( سورت الصف آیت ٦ )

Maktaba Tul Ishaat.com

**فائده** : لفظِ محمد دَ واحد مذکر اسمِ مفعول صیغه ده چه دا دَ تحمید بروزنِ تفعیل مصدر نه ماخوذ دې . هغه کس چه په هغې کښې خصائلِ حمیده او اوصافِ جمیله وی ، محمد اګر چه دَ رسول الله ﷺ نوم مبارك دې لیکن په آیت محمد رسول الله کښې باوجود دَ علمیت نه وصفیت طرف ته اشاره ده ، ګویا چه دا ښودل مقصود دی چه دَ رسول الله ﷺ په ذاتِ مقدس کښې خصائلِ محموده او صفاتِ حسنه وکریمه په کثرت سره موجود دی .

لفظِ احمد دَ افعل التفضیل صیغه ده ، مبالغه للفاعل هم کیدې شی یعنی دَ نورو نه ډیر زیات دَ الله پاك حمد وئیلو والا او مبالغه للمفعول هم کیدې شی یعنی دَ خپل اوصافِ حمیده په وجه سره دَ نورو نه زیات دَ دوی مدح اوکړې شوه .

﴿ آله ﴾ : آل په اصل کښې څۀ وو په دې باره کښې اختلاف دې دَ علامه سیبویه مذهب دادې چه دا په اصل کښې اهل وو ، هاء یې په الف سره بدل کړو نو آل شو ، او دَ علامه کسائی مذهب دادې چه دا په اصل کښې اول وو ، واؤ یې په الف سره بدل کړو نو آل اوګرځیدۀ ، دَ آل په مُراد کښې اختلاف دې . دَ اهلِ سنت په نزد باندې دَ آل نه مراد ازواجِ مطهرات او دَ هغوی اولاد دې . دَ اهلِ تشیع په نزد باندې دَ رسول الله ﷺ لور حضرت فاطمه او حضرت علی او دَ هغوی اولاد دې . په شرعی معنیٰ کښې صرف ازواجِ مطهرات مراد دی لکه څنګه چه په قرآن مجید کښې دی : " انما یرید الله لیذهب عنکم الرجس اهل

البیت ویطهرکم تطهیرًا " بیشکه الله اراده کوی په تاسو سره اې اهلِ بیت ! چه ستاسو نه گندگی لرې کړی او تاسو پاك کړی په پاکوُلو سره ." دلته کښی صرف ازواجِ مطهرات مراد دی . دا آیت زمونږ دَ مسلك تائید هم کوی چه دَ آل نه مراد ازواجِ مطهرات دی .

## د آل او د اهل ترمنځه فرق :

اګر چه دَ اصل په اعتبار سره دَ علامه سیبویه په نزد باندې آل هم اهل وو، لیکن بیا هم په آل او اهل کښی فرق دې . ۱ ﴾...... آل صرف په ذوی العقول افرادو پورې خاص دې او اهل دَ ذوی العقول او غیر ذوی العقول دواړو دپاره استعمالیږی ۲ ﴾...... آل صرف په اشرافو پورې خاص دې ، کهٔ په دنیاوی لحاظ سره وی او کهٔ په دینی لحاظ سره ، او اهل دَ اشرافو او خسیس دواړه قسمه خلقو دپاره استعمالیږی . دریم دا چه آل صرف دَ مذکر دپاره استعمالیږی او اهل دَ مذکر او مونث دواړو دپاره .

﴿عترته﴾ : ددې نه مراد دَ رسول الله ﷺ خاندان دې .

دَ عترت معنٰی ده ' اولاد ' او په شرعی معنٰی کښی په آل کښی اولاد شامل نهٔ دې نو ددې وجې نه یې دا ذکر کړو .

**سوال** : مصنف په نبی کریم ﷺ درود ولې اولیږلو ؟

جواب : ددې څلور جوابونه دی درې نقلی او یو عقلی . ۱ ﴾...... مصنف دَ الله رب العزت اقتداء اوکړه ځکه چه څرته کښی هم الله پاك خپل نوم ذکر فرمائیلې دې نو هلته کښی یې دَ خپل محبوب

Maktaba Tul Ishaat.com

ذکر هم فرمائیلې دې لکه کلمه طیبه او آذان کښې . نو مصنف چه کله دَ الله پاك ثناء بیان کړه نو ضروری یئ اوګنړله چه په نبی کریم ﷺ باندې هم درود اولیږی . ۲﴾...... مصنف په یو حدیث مبارك باندې عمل کړې دې او هغه حدیث دادې : "کل کلام لم یبدأ فیه بالصلوة علیّ وهو مقطوع عن کل برکة" هر هغه کلام چه دَ هغې شروع په ما باندې دَ درود وئیلو سره اونشی نو هغه دَ هر برکت نه محروم وی . نو مصنف دَ برکت حاصلولو دپاره درود اووې .

۳﴾...... دَ تمام سلفِ صالحینو هم دا شیوا او دستور دې چه هغوی اول دَ الله رب العزت حمد بیانوی او بیا په نبی کریم ﷺ باندې درود لولی . مصنف هم دَ هغوی اقتداء اوکړه :

**عقلی جواب** : دَ عقل تقاضا ده چه څوك احسان اوکړی نو دَ هغه شکر ادا کول پکار دی لکه څنګه چه دا مثل مشهور دې " شکر المنعم واجب عقلًا " ( دَ انعام کؤونکی شکر ادا کول عقلًا واجب دی ) نو دَ ټولو نه لوی او عظیم منعِم الله تعالیٰ دې نو ځکه یئ اول دَ الله پاك حمد بیان کړو او بیا دَ الله نه بعد لوی محسِن او منعم نبی کریم ﷺ دې نو ځکه چه دَ حمد نه بعد په نبی کریم ﷺ باندې درود اولیږلو .

**سوال** : مصنف چه کله آل اووئیلو نو دَ عترته وئیلو څهٔ ضرورت وو ؟

**جواب** : مصنف دا وئیل غواړی چه لکه څنګه په ازواجِ مطهرات باندې درود لیږل ضروری دی نو دارنګه دَ هغوی دَ اولاد هم حق دې ، په هغوی باندې هم درود لیږل پکار دی .

**ترجمه** : ...... فرمائی بزرګ پیشوا ، ډیر لوی عالم ، دَ متاخرین علماؤ نه افضل ، دَ مضبوط حکماؤ پیشوا چه دا اثیر الدین ابهری دې " خوشبوداره دې اوګرځوی الله پاك دَ هغه خاؤره ( یعنی قبر ) او جنت دې دَ هغه دپاره ځائ دَ اوسیدو اوګرځوی .

مونږ تعریف کوو دَ الله دَ هغه په توفیق باندې او مونږ دَ هغه نه سوال کوو دَ هغهٔ دَ لارې دَ هدایت او دَ حق دَ اِلهام دَ هغې دَ تحقیق سره او مونږ درود وایو په محمد ﷺ باندې او دَ هغوی په آل باندې او دَ هغویٰ په خاندان باندې . "

" اما بعد ! فهٰذه رسالة فی المنطق اوردنا فیها ما یجب استحضاره لمن یبتدأ شیئًا من العلوم مستعینًا بالله انه مفیض الخیر والجود "

ترجمه : ...... پس دَ حمد وصلوة نه دا رساله په منطق کښې ده ، په دې کښې مونږ راؤړې دی هغه څیزونه چه دَ هغې حاضرول ضروری دی دَ هر هغه کس دپاره چه هغه په څهٔ علم کښې شروع کوې ، په داسې حال کښې چه زهٔ مدد غوښتونکی یم دَ الله نه ، ځکه چه هم هغه خیر او دَ سخاوت اِفاضه کؤونکی دې . "

**ترکیب** : ' اما ' شرطیه ' بعد ' مضاف ، مهما یکن من شیئ من الحمد والصلوة ' مضاف الیه محذوف دې . ' فا ' جزائیه ' هٰذه ' اسم اشاره ' رسالة ' مشار الیه . اسم اشاره سره دَ مشارالیه نه مبتداء ' فی المنطق ' جار مجرور ، جارِ سره دَ مجرور نه ظرفِ مستقر

Maktaba Tul Ishaat.com

خبر دي . 'اوردنا' فعل فاعل 'فیها' جار مجرور ، جار سره دَ مجرور نه ظرفِ لغو متعلق دي اوردنا پورې 'ما' موصوله 'یجب فعلِ مضارع مرفوع بالضمه لفظًا 'استحضاره' مضاف مضاف الیه ، مضاف سره دَ مضاف الیه نه فاعل . 'لمن یبتدأ شیئًا من العلوم' دا صله سره دَ موصول نه مجرور شو دپاره دَ جار ، جار سره دَ مجرور نه متعلق په 'یجب' پورې دي .

شیئًا : دا نکره ده او نکره دَ عموم فائده ورکوی ، یعنی دَ هر علم نه مخکښې دَ منطق علم ضروری دي .

**سوال** : کیږی خو داسې چه دَ منطق علم هم په شیئًا من العلوم کښې داخل دي ، لهذا دَ منطق علم هم دَ منطق دپاره موقوف علیه شو ، نو دا خو دَ "توقف الشئ علی نفسهٖ" خرابی لازمیږی .

**جواب** : دا دَ منطق علم دَ شیئًا من العلوم نه مستثنیٰ دي په استثناءِ عقلی سره لکه څنګه چه په "لیلة القدر خیر من الف شهر" کښې "لیلة القدر" دَ الف شهر نه مستثنیٰ دي په استثناءِ عقلی سره.

﴿ مستعینًا ﴾ : دا حال دي دَ اَوردنا دَ ضمیرِ فاعل نه .

**سوال** : دَ ذوالحال او دَ حال ترمنځه مطابقت ضروری دي او دلته کښې مطابقت نشته ځکه چه حال یعنی مستعینًا واحد دي او ذوالحال یعنی 'نا' ضمیر جمع دي ؟

**جواب** : دلته کښې اَوردنا په حقیقت کښې په معنیٰ دَ اردتُ سره دي . لهذا په حال او ذوالحال کښې مطابقت موجود دي .

مستعینًا حال دې دَ فاعل نه . فعل سره دَ فاعل نه جمله فعلیه خبریه صله شوه ، ما موصوله سره دَ خپلې صلې نه جمله فعلیه خبریه . انّ حرف دَ حروفِ مشبه بالفعل نه ' بهٖ ' اسم ' مفیض الخیر والجود ' خبر . ان سره دَ اسم او خبر نه جمله اسمیه خبریه .

﴿ انه مفیض الخیر والجود ﴾ : دا جمله معلله ده دَ مستعینًا باللّٰه دپاره ، یعنی زهٔ دَ اللّٰه تعالیٰ نه ځکه مدد غوښتونکی یم چه هغه دَ خیر او بخښنې اِفاضه کؤونکی دې .

﴿ الجود ﴾ : دَ اللّٰه تعالیٰ دپاره دَ جود لفظ وئیلی شی ، دَ سخاوت لفظ نهٔ شی وئیلی . سخاوت دې ته وئیلی شی چه صرف په غوښتو باندې ورکوی او څومره چه اوغوښتلې شی هغومره ورکوی ، او جود دې ته وائی چه بغیر دَ سوال کولو نه ورکړې شی ، او چه څومره اوغوښتلی شی دَ هغې نه زیات ورکوی یا دَ حال مناسب ورکړې شی .

﴿ فهٰذهٖ ﴾ : په هٰذه چه کومه فاء داخله ده دا فا جزائیه ده دَ ' اما ' حرفِ شرط په جواب کښې .

هٰذهٖ اسمِ اشاره ده او په دې سره اشاره کتاب طرف ته ده ، په دې کښې څهٔ تفصیل دې ، اوس کتاب یا خو صرف دَ الفاظو نوم دې یا صرف دَ معانو یا صرف دَ نقوشو .

الفاظ : په څهٔ چه انسان تلفظ کوی .

معانی : څهٔ چه دَ الفاظو نه قصد کولې شی .

نقوش : دَ الفاظو چه کوم صورت په کاغذ باندې نقش کېږی

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ هٰذهٖ اشاره الفاظو طرف ته نهٔ شی کیدې ، ځکه چه اشاره موجود څیز طرف ته کیږی . ځکه چه " اللفظ اذا یتلفظ فتلاشی " په لفظ باندې چه کله تلفظ اوکړې شی نو هغه په ادا کؤلو سره ختم شی

معانی هم دومره قابل نهٔ دی چه اشاره ورته اوکړې شی ځکه چه دَ معانو په خارج کښی وجود نشته دې ، دا خو دَ لفظ په خیته کښی وی او نقوش اگر چه موجود دی لیکن په دې باندې دَ تدیین اطلاق نهٔ شی کیدې او جمهور جواب ورکوی چه په حقیقت کښی خو مدون الفاظ او معانی وو او نقوش په دې باندې دال وو . ددې وجې نه مجازًا یئ نقوشو ته مدون اووئیلو نو دا دَ تسمیة الدال باسم المدلول دَ قبیلې نه شو . یا گویا چه مدون الفاظ او معانی وو . مگر ددې تعبیر په نقوشو سره کیږی ددې وجې نه یئ هم دې ته مدون اووې .

دَ محققینو په نزد باندې په هر صورت کښی په هٰذا سره اشاره ( ماحضر فی الذهن ) " یعنی کوم معانی او مضامین چه په ذهن کښی دی " هغې طرف ته ده . برابره خبره ده کهٔ دا ابتدائیه وی یا الحاقیه .

**سوال** : دَ هٰذا اسمِ اشاره محسوس ومبصر څیز طرف ته کیدل پکار دی ، په ذهن کښی موجود اصطلاحاتو طرف ته څنگه کیدې شی ځکه چه هغه محسوس او مبصر نهٔ دی ؟

**جواب** : بعضِ وختونه کوم څهٔ چه په ذهن کښی موجود وی په هغې کښی هم هغه شان کمال وامتیاز وی لکه څنگه چه کمال

وامتیاز پـه محسوس ومبصر کښې وی ، نو په کمالِ امتیاز کښې دا دَ مـحسوس ومبصر سره مشابه دې نو په دې وجه سره بعضِ وختونه په هٰذا سره اسمِ اشاره ماحضر فی الذهن طرف ته کیږی . ( مزید تفصیل په شرح تهذیب کښې دې )

**سوال** : کلـه چـه مـصـنف رحـمـه الـلـه خطبه لیکله نو په هغه وخت کښې خو مخې ته څۀ څیز موجود نۀ وو ، نو دَ هٰذهٖ مشار الیه مبصر او مـحسـوس نـۀ شوه ، حالانکه مشار الیه مبصر ومحسوس کیدل پکار دی .

**جواب** : جـواب دادې چـه دَ خـطبې دوه قسمونه دی . ۱﴾...... خطبه الحاقیه . ۲﴾...... خطبه ابتدائیه .

**خطبۀ الحاقیه** : کـۀ چرې کتاب اول اولیکلی شی او خطبه روستو اولیکلی شی نو دې ته خطبه الحاقیه وئیلی شی .

**خطبه ابتدائیه** : او کـۀ چرې کتاب روستو اولیکلی شی او خطبـه اول اولیـکـلـې شی نو دې خطبې تـه خطبه ابتدائیه وائی . دلته کښـې خطبـه الـحاقیه ده نو دَ هٰذه مشار الیه مابین الجلدین وی . او دا محسوس مبصر دې ، او دَ اَوردنا صیغه دَ ماضی هم په دې دلالت کوی چه دا خطبه الحاقیه ده او که چرې بالفرض خطبه ابتدائیه وی نو په دې کښـې بـه ستـاسو اعـتراض باقی وی . مونږ ددې جواب ورکوو چه غیرِ مـحسـوس یـئ دَ محسـوس په حکم کښې مجازًا اوګرځوو او اشاره یئ ورتـه اوکړه . باقی پاتې شوه دا خبره چه غیر محسوس یئ دَ محسوس

Maktaba Tul Ishaat.com

په حکم کښې ولې اوګرځوو نو ددې جواب دادې چه دَ مصنف رحمه الله په ذهن کښې دَ منطق مسائل دومره مستحضر وو ګویا چه مخې ته یې موجود وو .

**سوال** : په محققینو حضراتو باندې سوال واردیږی چه دَ هٰذا مشارالیه " ما حضر فی الذهن " منصوص دې یا مصنوعی ؟

**جواب** : دا منصوص دې ځکه چه په قرآن مجید کښې راغلې دی " رب اجعل هٰذا بلدًا اٰمنًا " دلته کښې په هٰذا سره اشاره بلد طرف ته ده . او هغه موجود فی الخارج نۀ دې بلکه ما حضر فی الذهن دې .

**سوال** : هٰذا ذات دې او رسالة مصدر دې نو حمل الذات علی المصدر به لازم راځی او دا خو جائز نۀ دی .

**جواب** : رسالة په معنیٰ دَ مرسلة ده .

**سوال** : دَ اوردنا جمع راوړل څنګه صحیح دی ، حال دادې چه موردِ یو دې نو اوردتُ صیغه دَ واحد متکلم راوړل پکار وو .

**جواب** : اَورتُ واحد متکلم راوړو کښې دَ علو خیال وو چه ما یواځې دا کار کړې دې نو ځکه یې انکساری اوکړه او صیغه دَ جمعې متکلم یې ذکر کړه .

**جواب ثاني** : په اوردنا کښې یې دَ کتاب دَ عظمت خیال کړو نو دَ جمعې صیغه یې ذکر کړه ، نو لهٰذا دَ جمعې صیغې ذکر کولو سره یې عظمتِ کتاب او عظمتِ قوانینو طرف ته اشاره اوکړه . یعنی ددې قوانینو جمع کول ډیر مشکل کار وو . ګویا چه یو لوی جماعت دا

کار کړې دې .

﴿ رسالة فی المنطق ﴾ : په عام طور باندې دَ مصنفینو دا عادت وی چه هغوی دَ خطبې نه بعد او دَ اصل مقصود نه مخکښی په درمیان کښی څۀ عبارت ذکر کوی ، ددې عبارت څو عرضونه وی ، کۀ چرې مصنف کتاب ماتِن وی نو په عام طور باندې په دې عبارت کښی درې څیزونه ذکر کوی .

۱ ﴾...... علت تعیینِ فن ، یعنی ما په دې فن کښی دا کتاب ولې اولیکلو .

۲ ﴾...... علتِ تصنیف یعنی چه ما دا کتاب ولې تصنیف کړو .

۳ ﴾...... کیفیتِ مصنَف یعنی چه دا زما کتاب کوم قسم دې ، آسان دې ، مشکل دې ، اعتراضات او جواباتو سره دې یا بغیر دَ اعتراضاتو نه دې او کۀ چرې مصنف شارح وی نو هغه ددې مذکوره دریو څیزونو نه علاوه یو څلورم څیز هم ذکر کوی او هغه دې علتِ تعیینِ متن . چه ما دا متن ولې اختیار کړو . چنانچه بعضِ مصنفین دا ټولې خبرې ذکر کوی او بعضِ پکښی یو دوه ذکر کوی نورې پریږدی صاحبِ ایساغوجی صرف دوه خبرې ذکر کړې دی ۱ ﴾ تعیینِ فن ۲ ﴾ کیفیتِ مصنف .

تعیینِ فن خو دادې چه دا رساله په منطق کښی ده .

کیفیتِ مصنَف دادې چه دا رساله دومره عمده ده چه هر طالب العلم لره ددې یادول ضروری دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

# د الفاظو تشریح

اما بعد : چرته چه اما بعد راځی نو هلته کښې به په حقیقت کښې دا ظرف وی دَ فعلِ محذوف . عبارت محذوف دادې " مهما یکن من شیٔ بعد الحمد والصلوۃ " دا خبره دَ خطبو دپاره خاص ده . بعدُ دَ ما بعد طرف ته مضاف وی . ددې مضاف به یا مذکور وی او یا محذوف ، کۀ مذکور وی نو معرب به وی او کۀ چرې محذوف وی نو یا به منوی یعنی په نیت کښې باقی وی او یا به نسیًا منسیًا وی . کۀ نسیامنسیا وو نو بیا به هم معرب وی او کۀ چرې مضاف یئ محذوفِ منوی وی نو مبنی به وی .

﴿ رسالة ﴾ : ددې لغوی معنیٰ ده " ما یرسل الی الغیر " او اصطلاحی معنیٰ یئ ده هغه مختصره کتابچه چه په هغې کښې قوانین په مختصر انداز کښې بیان کړې شوې وی .

او کتاب هغه دې چه په هغې کښې قوانین په تفصیلی طور باندې بیان کړې شوی وی .

﴿ یجب ﴾ : دَ یجب مصدر وجوب دې . او وجوب په معنیٰ دَ واجب سره دې .

**سوال** : حالانکه دَ واجب تارك خو ګناهګار وی او دَ منطق په ترك کؤلو سره خو څۀ ګناه نشته ، لهذا دَ " ما یجب " وئیل څنګه صحیح کیدې شی ؟

**جواب** : واجب په دوه قسمه دې شرعی او استحسانی .

**وجوبِ شرعی** : هغه وی چه " ما ثبت بدلیل قطعی فیه شبهة "

وجوبِ استحساني : ما استحسن العقل فعله " او دلته کښې استحساني مراد دي ، او شرعی مراد نۀ دي . (( من يبتدأ شيئًا من العلوم ))

**سوال** : منطق هم یو علم دې نو شروعِ شئ بنفسهٖ لازمیږی او دا جائز نۀ دی ؟

**جواب** : ددې نه مراد دَ منطق نه علاوه علوم دی ، یا دَ علومو نه مُراد علومِ حکمیه دی او منطق ددې دپاره آله ده .

**﴿ ایساغوجی ﴾** : دَ ایساغوجئ درې تحقیقه دی (۱) تحقیقِ ترکیبی . (۲) تحقیقِ معنوی . (۳) تحقیقِ اشتمالی .

تحقیقِ ترکیبی : ترکیبی احتمالات شپږ دی .

﴿۱﴾...... لا محل له من الاعراب " یعنی ددې هیڅ اعراب نشته دې . بلکه دا دَ خطبې او دَ کتاب په درمیان کښې دَ فصل دپاره دې ، دا به دَ باب او دَ فصل په شان ساکِن وئیلی کیږی .

﴿۲﴾...... دا دَ هٰذا اسمِ اشاره مبتداء محذوف خبر دې نو عبارت به دارنګه وی هٰذا ایساغوجی .

﴿۳﴾...... دا به مبتداء وی او هٰذا اسمِ اشاره ددې خبر دې ، نو عبارت به دارنګه وی ایساغوجی هٰذا .

Maktaba Tul Ishaat.com

۴﴿...... دا دَ اِقراء فعلِ محذوف مفعول دې او منصوب به وئیلی شی نو په دې صورت کښی به اعراب څهٔ په دې ډول وی : اقرأ ایساغوجی ."

۵﴿...... دَ بحث مضاف الیه دې ، او مجرور دې ، دا سره دَ خپل مضاف دَ هٰذا مبتداءِ محذوف خبر شو نو تقدیرِ عبارت به دارنګه وی : هٰذا بحث ایساغوجی ."

٦﴿...... دَ خپل مضاف الیه سره به مبتداء جوړیږی او هٰذا به ددې خبر وی نو تقدیر دَ عبارت به دارنګه وی " بحث هٰذا ایساغوجی "

**تحقیقِ معنوی** : دَ معنوی تحقیق په باره کښی نهٔ احتمالات دی :

۱﴿...... ایساغوجی دَ یو منطقی او حکیم نوم دې او هم دَ هغه نوم یئ په کتاب کیخودهٔ .

۲﴿...... دَ ایساغوجی معنیٰ ده " مدخَل " یعنی دَ داخلیدو ځائ ، یعنی علمِ منطق په تمامو علومو کښی داخل دې . ایساغوجی دَ کتاب دَ مصنف نوم دې ، مصنف دَ خپل نوم په وجه سره دَ نوم کتاب کیخودهٔ .

۳﴿...... ایساغوجی دَ مصنف دَ شاګرد نوم دې ، مصنف به خپل شاګرد ته وئیل " یا ایساغوجی الحال کذا " دَ شاګرد دَ نوم په وجه یئ دَ کتاب نوم ایساغوجی کیخودو .

۴﴿...... دا دَ یو ګُل نوم دې چه په هغې کښی پنځهٔ پاڼې وی ،

اوس په کلیاتِ خمسه باندې ددې اطلاق دې .

ایساغوجی دَ کلیاتِ خمس نوم دې ، په دې کتاب کښې کلیاتِ خمس دی یعنی جنس ، نوع ، فصل ، عرضِ عام ، خاصه . نو ددې مناسبت په وجه یې دَ کتاب نوم ایساغوجی کیخودو .

﴿۵﴾...... ایساغوجی دَ هغه حکیم نوم دې ، کوم یو چه دا کلیات ایجاد کړې وو ، مجازًا یې ددې نوم کلیاتِ خمس کیخودو .

﴿٦﴾...... ایس په معنیٰ دَ انت سره ' اغو ' په معنیٰ دَ انا سره او ' جی ' په معنیٰ دَ ثَم یعنی هلته . نو معنیٰ یې دارنګه شوه " ته او زهٔ هلته . مخکښې چه به کوم طالب اول منطق لوستلو نو وئیل به یې چه ایساغوجی یعنی چه ته او زهٔ هلته لاړ شو چه تکرار اوکړو ددې مناسبت نه یې دَ کتاب نوم هم ایساغوجی مقرر کړو .

﴿۷﴾...... ایس په معنیٰ دَ انت سره ، اغو په معنیٰ دَ انا ، او جی په معنیٰ دَ ډنډې سره . مخکښې چه به کله طالب ته سبق یاد نهٔ وو نو استاذ به وئیل چه ایساغوجی یعنی دا لفظ به یې خپلو شاګردانو ته دَ تنبیه دپاره استعمالوو ، کهٔ چرې تا سبق یاد نهٔ کړو نو یو به زهٔ یم او یو ته او یو به ډنډا وی ، یعنی ښهٔ وهل به درکوم .

﴿۸﴾...... او بعض وائی چه دا دَ یو طالب العلم نوم وو چه دَ کلیاتو بحث به کوو ، بیا روستو مجازًا په کلیاتو باندې ددې نوم اطلاق اوشو . دا دَ " تسمیة المقر باسم القاری " دَ قبیلې نه شو .

﴿۹﴾...... راجح قول دادې چه ایساغوجی په یونانۍ ژبه کښې دَ یو داسې ګُل نوم دې چه دَ هغې پنځهٔ پاڼړې دی ، او په دې رساله کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

کلیاتِ خمس ذکر دی نو دَ کلیاتِ خمس ددې کُل سره مناسبت دې،
لهذا ددې کتاب نوم یئ هم ایساغوجی کیخودو.

**تحقیقِ اشتمالی** : یعنی چه دا کتاب په کومو څیزونو مشتمل دې. نو په دې باره کښې دَ " اللفظ الدال " نه واخله تر دَ " اللفظ اما مفرد " پورې دَ دلالت بیان دې. او " اما مفرد کزید ، اما کلی " پورې دَ مفرد ومرکب بیان دې. دَ " اما کلی نه تر دَ " قولًا عرضیًا " قولِ شارح پورې دَ کلیاتِ خمس بیان دې. دَ قول الشارح نه بالطبع القضایا پورې دَ قولِ شارح بیان دې. دَ القضایا نه آخر پورې دَ تصدیق او دَ بقیه څیزونو بیان دې.

دَ منطق مقصود په تصوراتو کښې معرف او قولِ شارح دې لیکن څنګه چه بقیه علوم والا په علم کښې دَ بصارت دپاره دَ خپلو کتابونو په شروع کښې تعریف، غرض او موضوع وغیره بیانوی نو دارنګه منطقی حضرات هم دَ معرف او دَ قولِ شارح نه مخکښې دَ دلالت، مفرد ومرکب وغیره بحث ذکر کوی. ځکه چه اِفاده او استفاده بغیر دَ الفاظو او دَ دلالت نه نهٔ کیږی.

او کلیاتِ خمس دَ مبادی په طور باندې راؤړی، ددې دپاره چه په اِفاده او استفاده کښې مدد اوکړی او بیا معرف او قولِ شارح بیانوی.

**سوال** : دَ یو راجع قول مطابق کله چه تا دَ کتاب نوم دَ کلیاتِ خمس دَ وجې نه کیخودو نو ددې تقاضا خو دا وه چه اول کلیاتِ خمس ذکر کړې شی. لیکن تا داسې اونکړل. بلکه دَ دلالت په اعتبار سره دې

کلیاتِ خمس ذکر دی نو دَ کلیاتِ خمس ددې کُل سره مناسبت دې، لهذا ددې کتاب نوم یئ هم ایساغوجی کیخودو.

**تحقیقِ اشتمالی** : یعنی چه دا کتاب په کومو څیزونو مشتمل دې. نو په دې باره کښې دَ "اللفظ الدال" نه واخله تر دَ "اللفظ اما مفرد" پورې دَ دلالت بیان دې. او "اما مفرد کزید، اما کلی" پورې دَ مفرد ومرکب بیان دې. دَ "اما کلی نه تر دَ "قولاً عرضیًا" قولِ شارح پورې دَ کلیاتِ خمس بیان دې. دَ قول الشارح نه بالطبع القضایا پورې دَ قولِ شارح بیان دې. دَ القضایا نه آخر پورې دَ تصدیق او دَ بقیه څیزونو بیان دې.

دَ منطق مقصود په تصوراتو کښې معرف او قولِ شارح دې لیکن څنګه چه بقیه علوم والا په علم کښې دَ بصارت دپاره دَ خپلو کتابونو په شروع کښې تعریف، غرض او موضوع وغیره بیانوی نو دارنګه منطقی حضرات هم دَ معرف او دَ قولِ شارح نه مخکښې دَ دلالت، مفرد ومرکب وغیره بحث ذکر کوی. ځکه چه اِفاده او استفاده بغیر دَ الفاظو او دَ دلالت نه نۀ کیږی.

او کلیاتِ خمس دَ مبادی په طور باندې راوړی، ددې دپاره چه په اِفاده او استفاده کښې مدد اوکړی او بیا معرف او قولِ شارح بیانوی.

**سوال** : دَ یو راجع قول مطابق کله چه تا دَ کتاب نوم دَ کلیاتِ خمس دَ وجې نه کیخودو نو ددې تقاضا خو دا وه چه اول کلیاتِ خمس ذکر کړې شی. لیکن تا داسې اونکړل بلکه دَ دلالت په اعتبار سره دې

Maktaba Tul Ishaat.com

کتاب شروع کړو .

**جواب** : اصل خبره داده چه دَ کلیاتِ خمس پیژندل موقوف دی دَ مفرد او مرکب په پیژندو باندې او دَ مفرد ومرکب پیژندل موقوف دی دَ دلالت په پیژندلو باندې ، لهذا دلالت یئ مقدم کړو .

**سوال** : منطقي حضرات خو دَ معانی نه بحث کوی نۀ دَ الفاظو نه ، نو مصنف علیه الرحمت کتاب لره دَ اللفظ الدال نه ولې شروع کړو .

**جواب** : دَ معانی پوهه او پیژندل موقوف دی دَ الفاظو په پیژندلو باندې نو ځکه یئ شروع دَ اللفظ الدال نه اوکړه .

**سوال** : مصنف لره پکار وو چه دَ خطبې نه بعد یئ دَ منطق موضوع بیان کړې وې . نو دَ کلیاتو دَ ذکر کولو وجه څۀ ده ؟

**جواب** : دا دَ موضوع دپاره موقوف علیه ده او موقوف علیه په موقوف باندې مقدم وی .

**سوال** : دَ ایساغوجی لفظ خو دَ کلیاتو مقتضی وو او دلته کښې مصنف دَ دلالت بحث شروع کړو .

**جواب** : ځکه چه دا دَ کلیاتو دپاره موقوف علیه دې ، او بیا په توقف کښې دوه قولونه دی عام منطقی خو دا وائی چه دَ اصطلاحاتِ منطقیه موقوف علیه فائده او استفاده ده او دا په الفاظِ داله علی المعانی باندې موقوف دې ، فلهذا دَ دلالت وغیره بحث ته ضرورت پیښ شو . او خاص منطقی دا وائی چه کلیاتِ خمس عبارت دَ الفاظِ داله علی المعانی نه دې .

﴿اللفظ الدال﴾ : دَ لفظ لغوی معنیٰ ده ویشتل ، لکهٔ دَ عربیٔ جمله ده " اکلت التمرة و لفظت النواة " ما کجوره اوخوړه اودَ هغې هډوکی مې اوغورزولو . . په اصطلاح کښې دَ لفظ تعریف دارنګه دې :

" ما یتلفظ به الانسان موضوعًااو مهملًا " یعنی لفظ هغه دې چه انسان پرې تلفظ اوکړی برابره خبره ده کهٔ هغه موضوع وی او کهٔ مهمل وی . ددې نه دا ظاهریږی چه کوم انسان تلفظ نهٔ کوی نو هغه لفظ نهٔ دې . مثال : لکه روتیٔ موتیٔ . نو په دې کښې روتیٔ لفظِ موضوع دې او موتیٔ لفظِ مهمل دې .

﴿دال﴾ : لفظِ دلالت مصدر دې دَ دل ، یدل بابِ نصر نه ددې معنیٰ ده لاره ښودل . " قال الله تعالیٰ : فما دلهم علیٰ موته الا دابة الارض تأکل منساتها "

او په اصطلاح کښې دَ دال تعریف دادې :

" کون الشیئ بحالة یلزم من العلم به العلم بشئ آخر " اول دال دې او ثانی مدلول .

الدال الشئ الذی یلزم من العلم به العلم شئ آخر

المدلول الشئ الذی یلزم من العلم بشئ آخر

کون الشی بحیث یلزم العلم من العلم به العلم بشئ آخر " دَ څیز په داسې شان سره کیدل چه په هغه باندې دَ علم نه دَ بل څیز

Maktaba Tul Ishaat.com

علم لازمیږي ، یعنی چه دَ هغه په پیژندلو سره دَ بل څیز علم راځي .

منطقي حضرات دَ ' دال ' درې نومونه ذکر کوي ۱﴿...... دال ۲﴿...... لفظ ۳﴿...... موضوع .

او دَ مدلول هم درې نومونه دی : ۱﴿...... مدلول ۲﴿...... معنیٰ ۳﴿...... موضوع له .

﴿ یلزم ﴾ : دا دَ لزوم نه ماخوذ دې په معنیٰ دَ عدمِ انفکاك سره او دَ علم دوه معاني دی :

۱﴿...... په معنیٰ دَ یقین سره ۲﴿...... مطلقِ اِدراك

دلته کښې دا ثاني معنیٰ مراد ده . ځکه چه په دې صورت کښې څلور احتمالات دی . درې صحیح او په معنیٰ دَ یقین اخستو سره صرف یوه صحیح گرځي .

احتمالات دادي : چه دَ دال په ظن سره دَ مدلول ظن حاصل وی ،لکه چه په کمره کښې دَ جمع شوی دهوپ په کمی سره دَ هوا هم احتمال حاصل شي . دویم دا چه دَ دال په یقین سره دَ مدلول یقین هم حاصل شي لکه دَ لوگي په لیدو سره دَ اُور یقین حاصل شي .

دریم دا چه دَ دال په یقین سره دَ مدلول ظن حاصل شي لکه دَ وریځ په لیدو سره دَ باران ظن حاصل شي . څلورم دا چه دَ دال په ظن سره دَ مدلول یقین حاصل شي دا صرف احتمالِ عقلي دې په خارج کښې ددې څۀ وجود نشته دې .

لکه څنگه چه تاسو په نحو کښې دَ اسم ، فعل او حرف تعریف لوستلې دې ، چه دَ هغې دلالت په مفهوم باندې په دلالت

لفظي کښې شامل دي .

کۀ چرې انساني کلمات دَ ټيپ وغيره په ذريعې سره واؤرولې شي نو دَ هغې دلالت هم په دلالتِ لفظي کښې شامل دي . دَ انسان په ذهن کښې چه کوم الفاظ راشي دَ هغې په خپله معنیٰ باندې دلالتِ لفظيه دې ددې نه علاوه چه کوم څيز دلالت کوي دَ هغې دلالت غيرِ لفظي دې . کِۀ چرې په جمله کښې څۀ لفظ مستتر يا محذوف اومنلې شي نو دَ هغې دلالت به هم دلالتِ لفظي وي .

**فائده** : مناطقه حضراتو جستجو او تلاش کړې دې چه دَ يو څيز په پيژندلو سره دَ بل څيز علم څنګه حاصليږي ، هغوي دَ تتبع او تلاش نه بعد دا معلومه کړې ده چه دَ يو څيز په علم سره خودبخود خپله دَ بل څيز علم حاصليږي نو دا دَ څۀ تعلق په وجه سره وي او دا تعلق مناطقهؤ درې بيان کړې دي .

۱﴾...... دَ وضع تعلق ، چه جوړونکی دال لره هم دَ مدلول دپاره جوړ کړې وي .

۲﴾...... دَ طبع تعلق : چه مدلول دَ دال دَ طبيعت سره اولګی او دَ هغې نه بے اختياره دال صادر شي .

۳﴾...... دَ تاثير تعلق يعنی چه دال اثر وي او مدلول مؤثر وي يا دال او مدلول دواړه دَ يو دريم څيز دپاره اثر وي ، ددې مثالونه به روستو راځي .

**د دلالت اقسام** : دَ دلالت دوه قسمونه دي لفظيه وغيرِ

Maktaba Tul Ishaat.com

لفظیـه ، دلالتِ لفظیه هغه دلالت ته وائی چه په هغې کښې دال لفظ وی لـکه دَ لفظِ زید دلالت په ذاتِ زید باندې او غیرِ لفظیه هغه دې چه په هغې کښې دال لفظ نهٔ وی لکه دَ لوګی دلالت په اُور باندې .

## دَ دلالتِ لفظیه اقسام : دَ دلالتِ لفظیه درې اقسام دی .

دلالتِ لفظیه وضعیه : چه په دې کښې دال لفظ وی او دَ هغې جوړونـکـی دا دال دَ مـدلول دپاره جوړ کړې وی یعنی تعلق یئ دَ وضع وی دې تـه دلالـتِ لـفـظیـه وضعیه وائی ، لکه دَ لفظِ زید دلالت په ذاتِ زیـد بـانـدې ، ځـکه چه جوړونکی لفظِ زید دَ ذاتِ زید دپاره جوړ کړې دې .

دلالـتِ لـفـظیـه طبعیه : چه په دې کښ دال لفظ وی او دَ دال او مـدلول ترمنځه تعلق دَ طبعې وی ، مدلول دَ دال دَ طبیعت سره اولګی او ددې نـه بـغیر دَ څهٔ اختیار نه دال صادر شی لکه دَ لفظِ اُح اُح دلالت دَ سینـې په درد باندې ، دال دَ انسان دَ طبیعت سره ملاؤ شو او دَ هغې نه بغیر اختیاره دال صادر شو .

آه آه لـفـظ دې ځـکه چه دَ ژبې نه اوځی ، مګر دا دَ څهٔ معنیٰ دَ ادائیـګیٔ دپاره نهٔ شی وئیلی کیدې بلکه ویونکی بے اختیاره دَ خُلې نه آه آه اوباسی .

دَ مـصـر ښـځـو چه حضرت یوسف علیه السلام اولیدو نو وې وئیل : " حـاش لِله " ددې کـلـمې دَ هـغوی په تعجب باندې دلالت ، دا دلالـتِ لـفـظیـه طبعیه دې ځکه حه انسانی طبیعت دَ تعجب په وخت

ددې دَ ویستلو مقتضی دې .

۳﴾...... دلالتِ لفظیه عقلیه : چه په دې کښې لفظ دال وی او دَ دال او مدلول ترمنځه تعلق دَ تاثیر وی لکه لفظِ دیز چه دَ دیوال دَ بل طرف نه واؤریدې شی ددې دلالت دَ ویونکی په ذات باندې دلته کښې دال یعنی لفظِ دیز دَ مدلول یعنی دَ ویونکی اثر دې .

لفظِ دیز ( چه دا دَ زید بر عکس دې ) په عربی ژبه کښې یو مهمل لفظ دې کله چه دا یو انسان دَ دیوال دَ شا نه واؤری نو آؤریدونکی ته دَ لفظ نه څۀ خبره په پو هه کښې نۀ راځی ځکه چه دا لفظِ موضوع نۀ دې ، البته آؤریدونکی په پخپل عقل سره دا فیصله کوی چه دَ دیوال نه اخوا څو ویونکی شته چه دَ هغه دا آواز دې ، ددې وجې نه دا دلالتِ لفظیه عقلیه دې .

په دې کښې دَ دیوال نه شاته قید ځکه اولګولې شو کۀ چرې یو کس مخامخ دا لفظِ دیز اووائی نو دې ته به بیا دلالت لفظیه عقلیه نۀ شی وئیلی .

## د دلالتِ غیرِ لفظیه اقسام :

ددې هم درې قسمونه دی : ۱﴾...... غیرِ لفظیه وضعیه ۲﴾...... غیرِ لفظیه طبعیه ۳﴾...... غیرِ لفظیه عقلیه .

غیرِ لفظیه وضعیه : چه په دې کښې دال لفظ نۀ وی او دَ دال ومدلول ترمنځه دَ وضع تعلق وی لکه دَ دوالِ اربعه ( خطوط ، نصب ، اشارات او عقود ) دلالت په خپل معنیٰ او مدلولاتو باندې دا دلالتِ غیرِ

Maktaba Tul Ishaat.com

لفظیه دي ځکه چه دا څیزونه الفاظ نهٔ وی او وضعیه هم دی ځکه چه واضع دې لره هم ددې مخصوص معانو دپاره وضع کړې دی ، دَ فوج او دَ پولیس دَ هرې عُهدې دپاره جُدا جُدا بیج او وردی وی ، ددې بیج او وردئ په خپلې عهده باندې دلالت ، دلالتِ غیر لفظیه وضعیه دې .

الله تعالیٰ دَ حضرت زکریا علیه السلام دُعا قبوله کړه نو حضرت زکریا علیه السلام درخواست اوکړو چه اې الله ! زما دپاره څهٔ نشانی مقرر کړه چه ماته معلومه شی چه زما دَ بی بی حمل قرارې موندلې دې . الله پاك ورته اوفرمائیل : " آیتك ان تکلم الناس ثلاثة ایام الا رمزا " ستا نشانی داده چه تهٔ به دَ خلقو سره درې ورځو پورې خبرې نهٔ شې کولې مګر صرف په اشارې سره . " دلته کښې په خبرو باندې قدرت نهٔ کیدل او دَ حمل ایساریدل مدلول دې . دا هم دلالتِ غیرِ لفظیه وضعیه دې .

۲﴾...... غیرِ لفظیه طبعیه : چه په دې کښې دال لفظ نهٔ وی او دَدال ومدلول ترمنځه تعلق دَ طبعې وی لکه دَ سُرعةِ نبض دلالت په تبه باندې ، دلته کښې دال دَ مدلول یعنی دَ انسان طبیعت سره اولګیدهٔ او دَ هغې نه بغیر دَ څهٔ اختیار نه سرعةِ نبض صادر شو .

۳﴾...... دلالتِ غیرِ لفظیه عقلیه : چه په دې کښې دال لفظ نهٔ وی او دَ دال ومدلول په درمیان کښې تعلق دَ اثر وی ، لکه دَ لوګی دلالت په اُور باندې ، دلته کښې دا لوګې اثر دې او مدلول یعنی اُور مؤثر دې .

ددې دویم مثال جه هلته کښې دال مؤثر وی او مدلول اثر ، لکه دَ اُور لیدل او دَ لوګی یقین کول ، دلته کښې دال اُو دی جه مؤثر

دې او مدلول لوګې دې ، او لوګې اثر دې . دریم مثال چه په هغې کښې دال او مدلول دواړه دَ یو دریم څیز دپاره اثر وی لکه دَ لوګی دلالت په حرارت یعنی په ګرمئ باندې ، دلته کښی لوګې دال او حرارت او ګرمی مدلول دې دا دواړه دَ یو بل څیز یعنی دَ اُور اثر دې ، او اُور مؤثر دې .

دَ حیوان آواز ته لفظ نهٔ شی وئیلی کیدې او په تجربې سره ثابته ده چه دَ لوړې تندې په وخت اَس آواز کوی ، لهٰذا دا دلالتِ غیرِ لفظیه طبعیه دې .

دارنګه دَ پیشو مِیاؤ مِیاؤ کول دَ پیو دپاره او دَ سپی په وجود باندې ، دا دلالتِ غیرلفظی عقلی دې . دَ رسول الله ﷺ ارشاد دې :

" الثیب احق بنفسها من ولیها والبکر تستامر واذنها سکوتها "

نو دَ باکرې ( پیغلې ) سکوت او خاموشی دَ هغې په اجازت باندې دلالت کوی په خلاف دَ ثیبه . نو دا هم دلالتِ غیرِلفظی عقلی دې .

**لطیفه** : ملا نصیرالدین ته خپل یو دوست راغې او دَ هغه نه یئ خَر اوغوښتو ، ملا صاحب ورته اووئیل چه خَر خو بل چا بوتلې دې په دې کښې خَر په زوره آواز اوکړو او دهٔ واؤریدو ، هغه دوست ورته اووئیل چه ملا صاحب خَر خو موجود دې آواز یئ اوکړو ، ملا صاحب ورته اووئیل : کمال دې تهٔ زما خبره نهٔ منې او دَ خَر منې . په دې قصه کښې د ملا صاحب دوست دَ خر تصدیق اونکړو او نهٔ دَ خر دَ آواز په مقصد پوهه شو . بلکه دَ خر آواز دَ هغې په وجود باندې دال دې دا

Maktaba Tul Ishaat.com

دلالتِ غیرِ لفظیه دې .

دارنګه دا نظامِ کائنات او خپله دَ انسان وجود او ددې تغیرات په یو خالقِ قیوم باندې دال دې او دا دلالت ، دلالتِ غیر لفظی عقلی دې .

حضرت ابراهیم علیه السلام دَ نمر ، سپوږمۍ او دَ ستورو په تغیر باندې دلیل اونیولو چه دا دَ عبادت حقدار نهٔ دی ، دا دلالتِ غیر لفظیه عقلیه دې .

لیکن مناطقه حضرات صرف دَ دلالتِ غیرِ لفظیه وضعیه نه بحث کوی .

**سوال** : تاسو صرف دَ دلالتِ لفظیه وضعیه نه ولې بحث کوئ ؟

**جواب** : منطقی حضرات صرف دَ هغې نه بحث کوی په کوم کښې چه افاده او استفاده وی ، او افاده واستفاده صرف دَ دلالتِ لفظیه وضعیه نه ممکن دی ، ځکه ددې نه بحث کوی .

**سوال** : کهٔ چرې دَ باقی اقسامو نه افاده او استفاده ممکن نهٔ ده نو بیا تیسیر المنطق والا ولې ذکر کړې دی ؟

**جواب** : " الاشیاء تعرف باضدادها " یعنی څیزونه په خپل ضِد سره پیژندلې شی ددې دپاره چه دَ هغې نه دلالتِ لفظیه وضعیه په پوهه کښې راشی .

**سوال** : صاحبِ ایساغوجی ولې نهٔ دی ذکر کړی ؟

**جواب** : دا رساله ده او په رساله کښې اجمال وی ، ځکه مصنف باقی اقسام نهٔ دی ذکر کړی .

**سوال** : آخر صرف دَ دلالت لفظیه وضعیه نه افاده او استفاده ولې

کیږی او دَ بقیه اقسامو نه نهٔ کیږی ؟

**جواب** : دَ غیرِ لفظیه نه ځکه فائده نهٔ کیږی چه دا الفاظ نهٔ وی او دَ غیرِ الفاظو نه افاده او استفاده بالکل ممکن نهٔ دی ، او دَ لفظیه طبعیه او عقلیه نه ځکه افاده او استفاده نهٔ کیږی چه دَ خلقو طبیعتونه او عقلونه یو برابر نهٔ دی ، دَ چا طبیعت یو شان وی او دَ چا بل شان ، دَ چا عقل کم وی او دَ چا زیات .

★......★......★......★......★......★......★......★......★

★......★......★......★......★..........★......★

★......★......★......★......★......★

★......★......★......★

★......★......★

★......★

★

Maktaba Tul Ishaat.com

" اللفظ الدال بالوضع علیٰ تمام ما وضع له بالمطابقة وعلیٰ جزءٖ بالتضمن ان کان له جزء وعلیٰ ما یلازمه فی الذهن بالالتزام کالانسان فانه یدل علی الحیوان الناطق بالمطابقة وعلیٰ احدهما بالتضمن وقابل العلم وصنعة الکتابة بالالتزام "

**ترجمه** : ...... په دلالتِ وضعیه کښې کله چرې لفظ دَ واضع دَ وضعې دَ وجې نه په تمام معنیٰ موضوع له باندې دلالت کوی نو دا دلالتِ مطابقی دې او کله چرې ددې په جزء باندې کوی نو تضمن دې ، خو په دې شرط چه ددې ( موضوع له ) جزء به وی او کله چرې په هغه څیز باندې دلالت کوی کوم چه لازم وی ( دې معنیٰ موضوع له سره ) په ذهن کښې نو دا التزام دې لکه انسان . بس دې دلالت کوی په حیوانِ ناطق باندې په مطابقی سره ، او په دې کښې په یو باندې ( دلالت کوی ) په دلالتِ تضمنی سره . او په قابلیت دَ علم او په صنعت کتابت باندې دلالت کوی په دلالتِ التزامی سره .

**ترکیب** : ' اللفظ ' مرفوع بالضمه لفظًا موصوف ' الدال ' مرفوع بالضمه صفت ' بالوضع ' جار مجرور متعلق په الدال پورې ' علی تمام ما وضع له ' متعلق په الدال پورې . الدال سره دَ دواړو متعلقاتو صفت . موصوف سره دَ صفت نه مبتداء ' بالمطابقة ' جار مجرور متعلق په یسمیٰ فعل محذوف پورې . فعل سره دَ خپل ... او متعلق سره خبر . ' علیٰ جزئه ' متعلق په دال پورې ، دال سره دَ خپل متعلق نه صفت ، موصوف سره دَ خپل صفت نه مبتداء . ' بالتضمن

' متعلق په يسمىٰ محذوف پورې ، دال على الجزاء مقدم ' ان كان له جزء ' شرطِ مؤخر ، دال على الجزاء مقدم سره دَ خپل شرطِ مؤخر نه خبر . ' على ما يلازمه فى الذهن ' متعلق په دال پورې ، دال سره دَ خپل متعلق نه صفت ، اللفظ موصوف سره دَ خپل صفت نه مبتداء .
' بالالتزام ' جار مجرور متعلق په يسمىٰ فعلِ محذوف پورې ، يسمىٰ فعلِ محذوف سره دَ خپل فاعل او متعلق نه خبر . ' كالانسان ' جار مجرور متعلق كائن پورې دا خبر شو دَ مبتداءِ محذوف چه ' نحوه ' دې
" فانه " ان حرف از حروفِ مشبه بالفعل ' له ' ضمير اسم يدل على الحيوان الناطق بالمطابقة ، معطوف عليه ' وعلىٰ احدهما بالتضمن ' معطوف عليه معطوف ' وقابل العلم وصنعة الكتابة بالالتزام ' معطوف ، معطوف عليه سره دَ معطوفينو نه خبر شو دَ ان ، ان سره دَ خپل اسم او خبر نه جمله اسميه خبريه .

په دې عبارت سره دَ مصنف رحمه الله مقصد دَ دلالتِ لفظيه وضعيه درې قسمونه بيانول دى چه دَ دلالتِ لفظيه وضعيه درې اقسام دى . ١﴾...... دلالت مطابقى ٢﴾...... دلالت تضمنى ٣﴾...... دلالت التزامى .

**سوال** : دلته كښې سوال دا واردېږى چه منطق دَ دوو څيزونو نه بحث كوى ١﴾ تصورات ٢﴾...... تصديقات . بيا ددې نه دَ هر يو دوه دوه حِصې دى . ١﴾...... مبادى ٢﴾...... مقاصد . دَ تصوراتو مبادى كلياتِ خمسه او مقاصد يې قولِ شارح دې ، دَ تصديقاتو مبادى قضايا او دَ هغې احكام دى او مقاصد يې دليل وحجت دى ، نو مصنف رحمه الله

Maktaba Tul Ishaat.com

لره دا پکار وو چه اول یئ مبادی او مقاصد بیان کړي وو ، دَ دلالت او الفاظو نه یئ بحث ولې شروع کړو ؟

**جواب** : جواب دادې چه اظهار ما فی الضمیر موقوف دې په الفاظو باندې او دَ الفاظو نه دَ معانی علم موقوف دې په دلالت باندې ، غرض دا چه اِفاده او استفاده موقوف وو په دلالت باندې . ددې وجې نه مصنف رحمه الله دَ الفاظو او دلالت نه بحث شروع کړو .

﴿ بالوضع ﴾ : دَ وضع لغوی معنیٰ ده کیخودل او اصطلاحی معنیٰ یئ ده یو څیز دَ بل څیز سره داسې خاص کؤل چه دَ اولنی څیز دَ علم نه دَ دویم څیز علم حاصلیږی . اولنی څیز ته موضوع او دویم ته موضوع له وائی لکه لفظِ چاقو وضع کړې شوې دې دَ فلك او دَ دستې دپاره ، لفظِ چاقو موضوع او فلك او دسته موضوع له شو .

﴿ وعلیٰ ما یلازمه ﴾ : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله دې خبرې طرف ته اشاره کړې ده چه لفظ په هر امرِ خارج باندې دلالت نهٔ کوی بلکه په هغه امرِ خارج باندې دلالت کوی کوم چه دَ معنیٰ موضوع له سره خاص وی .

﴿ فی الذهن ﴾ : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله دې خبرې طرف ته اشاره کړې ده چه دَ دلالتِ التزام دپاره لزومِ ذهنی کافی دې ، لزومِ خارجی شرط نهٔ دې . مثلًا بصر عمی لره لازم دې په ذهن کښی ورنه په خارج کښی ددې دواړو په درمیان کښی منافات دی .

**ترجمه** : ...... په دلالتِ وضعیه کښې کۀ چرې لفظ دَ واضعِ دَ وضعې دَ وجې نه په تمام معنیٰ موضوع له باندې دلالت کوی نو دا دلالتِ مطابقی دې او کۀ چرې ددې په جزء باندې کوی نو تضمن دې، خو په دې شرط چه ددې (موضوع له) جزء به وی او کۀ چرې په هغه ځیز باندې دلالت کوی کوم چه لازم وی (دې معنیٰ موضوع له سره) په ذهن کښې نو دا التزام دې لکه انسان . بس دې دلالت کوی په حیوانِ ناطق باندې په مطابقی سره، او په دې کښې په یو باندې (دلالت کوی) په دلالتِ تضمنی سره . او په قابلیت دَ علم او په صنعت کتابت باندې دلالت کوی په دلالتِ التزامی سره .

**وجه حصر** : لفظِ دال به په پوره موضوع له باندې دلالت کوی یا دَ هغې په جزء باندې . او یا به دَ هغې په لزوم باندې دلالت کوی . ددې نه علاوه بل څۀ ځیز دَ موضوع له دپاره بالکل شته نۀ چه په هغې باندې دلالت اوکړی، لهذا صرف دا درې اقسام دی، کله چه په پوره موضوع له باندې دلالت اوکړی نو دا دلالتِ مطابقی دې او کله چه په جزء باندې دلالت اوکړی نو دلالتِ تضمنی دې او کله چه ددې په لازم باندې دلالت اوکړی نو دا دلالتِ التزامی شو .

**سوال** : تمام ما وضع له یئ اووې او جمیع ما وضع له یئ ولې اونۀ وئیل .

**جواب** : دا ځکه چه لفظِ جمیع مشعر به اجزاء دې نو ددې حاصل به دا وی چه دَ کوم ما وضع له اجزاء نۀ وی نو هلته کښې به دلالتِ

Maktaba Tul Ishaat.com

مطابقي هم نهٔ وي او دا غلطه ده ، ځکه چه دَ لفظِ الله دلالت په ذاتِ باري تعالیٰ باندې مطابقي دې حالانکه باري تعالیٰ دَ اجزاؤ نه منزه او مبریٰ دې .

او کهٔ چرې دَ لفظ مصداق کُل وي یعنی دَ مختلف اجزاؤ نه مرکب وي نو دلالت مطابقي به هله وي چه کله کُل مراد وي ، لکه چه ځوك اووائی ما قرآن مجید حفظ کړو نو کهٔ چرې پوره قرآن مجید يئ حفظ کړو نو دلالتِ مطابقي به وي .

کهٔ چرې انسان څهٔ داسې لفظ وائی چه دَ هغې مختلف اجزاء وي یعنی دَ اجزاؤ نه مرکب وي نو کهٔ چرې دَ هغې مجموعه مراد وي نو دا دلالت مطابقي دې او کهٔ چرې اجزاء په ضمني طور باندې په پوهه کښې راشي نو دلالت تضمني دې لکه چه ځوك اووائی ما قرآن مجید حفظ کړو نو ددې نه دَ مکمل قرآن مجید معنیٰ مُراد اخستل دلالت مطابقي دې او دَ هر هر سورت معنیٰ په دلالت تضمني سره په پوهه کښې راځي ددې دَ صراحت یا دَ ارادې ضرورت نشته دې .

البته کله کله یو لفظ اووئیلی شی چه دَ هغې نه په څهٔ جزء باندې دلالت کول مقصود وي لکه یو شاګرد اووائی چه ما دَ هدایة النحو مطالعه اوکړه نو ددې نه دَ هدایة النحو څهٔ حِصه مراد ده ، توله هدایة النحو نهٔ . نو کهٔ چرې صرف جزء مراد وي نو دې ته مجاز وائی ، دلالت تضمني ورته نهٔ وائی .

**سوال** : مطابقت ته کهٔ چرې مصدرِ معلوم اووائی نو معنیٰ به وي مطابق او دا مطابق کیدو والا یعنی دَ لفظ صفت دې ، او کهٔ چرې

مصدرِ مجهول وی نو معنیٰ به یئ وی مطابق کړې شوی ، او دا دَ معنیٰ صفت دې بهر صورت مطابقت لفظ ته یا معنیٰ ته وئیل پکار دی ، دلالت ته نهٔ .

**جواب** : په دې کښې مجاز دې "تسمية الشئ بوصف احد طرفيه"

دویم جواب : قطع نظر از مصدر معلوم ومجهول صرف دَ موافقت دَ معنیٰ په لحاظ سره دا نوم دې .

﴿ قوله وعلىٰ جزءه بالتضمن ان كان له جزء ﴾ دلته کښې هم ددې خبر سميتُ الخ محذوف دې او دلته کښې هم اعتراض واردیږی ، کهٔ تضمن مصدرِ معلوم وی نو معنیٰ به یئ وی نیول او دا دَ "کل ما وضع له" صفت دې او کهٔ مجهول وی نو بیا یئ معنیٰ ده نیولی شوی او دا دَ "جزء ما وضع له" صفت دې نو کُل یا جزء ته تضمن وئیل پکار دی ، دلالت ته نهٔ دی وئیل پکار .

واجيب عنه بالجوابين المذكورين السابقين

بیا په تضمن کښې دوه قوله دی . یو قول دَ منطقیینو دې چه : ارادة جزء لكن لا من حيث انه فى ضمن الكل " او اصوليين حضرات وائی " ارادة الجزء من حيث انه فى ضمن الكل " او دَ " وان كان جزء " قید ځکه دې کهٔ چرې جزء نهٔ وی نو دلالت مطابقی به وی .

﴿ علىٰ ما يلازمه فى الذهن بالالتزام ﴾ دا هم مبتداء محذوف الخبر دې عبارت دارنګه دې " سميت الخ " او دلته کښې هم هغه اعتراض دې کهٔ التزام مصدرِ معلوم کرځوئ نو معنیٰ ده " لازم

Maktaba Tul Ishaat.com

ګرفتـن " یعنی لازم نیول ، او دا دَ " ما وضع له " صفت دې او کۀ چرې مـصـدرِ مجهول یئ ګرځوئ نو بیا به معنیٰ وی " لازم ګرفته شُده " او دا امرِ خارج دې . نو دا التزام دَ ماوضع له یا دَ امرِ خارجی صفت ګرځول پکار دی ، دَ دلالت نۀ ؟

**جواب** : ددې جـواب هـم هغـه دې کـوم چـه مـخـکښـی پـه مـطـابـقی او تضمنی کښی تیر شوې دې . باقی پاتې شوه دا خبره چه دَ امرِ خارجـی سـره یئ دَ لازم قید ولې اولګوو ؟ نو ددې جواب دادې چه کۀ داسې نـۀ وی نـو لازمیـږی دَ امـورِ غیـرِ متـنـا هیه احصار په یو آن کښی او دا محال ده .

﴿ عـلـیٰ ما یلازمه فی الذهن ﴾ دلتـه کښی لفظ دَ یلازم استـعـمـال شوې دې ددې دَ وضاحت کولو نه مخکښی دَ دوو تمهیدی خبرو پیژندل انتهائی ضروری دی .

١﴾...... دَ جهـان دوه قسـمـونـه دی . ﴿١﴾ جهـانِ خـارجی یعنی هـغـه جهان کوم چه ظاهرًا موجود دې ، کوم څیزونه چه خکته ، پورته ، اخوا دیخوا په نظر راځی نو دا په جهانِ خارجی کښی شامل دی .

٢﴾...... جهانِ ذهنی : هغه جهان کوم چه په ذهن کښی آباد دې ، دا دَ ټولـو څیـزونـو صـورت چـه کوم په ذهن کښی راځی نو دا جهانِ ذهنی دې . یعنی چه کوم څیزونه مونږ ته په خارج کښی په نظر راځی نو هم دا څیزونه په ذهن کښی هم پراتۀ دی .

**دلزوم تعریف** :

" دَ یو امرِ خارجی په داسې شان سره کیدل چه معنیٰ موضوع له ددې امرِ خارج نه بغیر اونهٔ موندلې شی .

## د لازم اقسام ( په اعتبار د تقسیمِ اول )

۱﴾...... لازمِ ماهیت : چه یو ماهیت لره لازم وی یعنی چه په جهانِ خارجی کښې هم وی او په جهانِ ذهنی کښې هم وی ، لکه زوجیت اربع لره لازم دې . دَ څلورو ماهیت چه په کوم یو څیز کښې هم وی نو دَ هغې جُفت کیدل لازم دی لکه څلور کتابونه وغیره .

۲﴾...... لازم وجودِ خارجی : چه دا صرف په جهانِ خارجی کښې واقع وی . یعنی چه په دې کښې ملزوم په خارج کښې دننه بغیر دَ لازم نه اونهٔ موندلې شی لکه خرق ( څیرې کول ) غرق ( ډوبیدل ) او حرق ( سوزول ) .

۳﴾...... لازم وجودِ ذهنی : چه په دې کښې دَ ملزوم تصور بغیر دَ لازمِ ذهنی نه نهٔ شی کیدې یعنی چه دَ هغه وقوع صرف په جهانِ ذهنی کښې وی ، لکه دَ قابلیتِ علم وقوع صرف په جهانِ ذهنی کښې دې .

دَ لزومِ ذهنی دوه قسمونه دی :

۱﴾...... لزومِ ذهنی عقلی ۲﴾...... لزومِ ذهنی عرفی

### لزومِ ذهنی عقلی :

دَ یو امرِ خارجی داسې کیدل چه دَ معنیٰ موضوع له تصور آمر خارجی نه بغیر عقلاً محال وی . لکه چه بصر عمی لره لازم

Maktaba Tul Ishaat.com

دي .

**لزومِ ذهنی عرفی :**

دَ یو امرِ خارجی داسې کیدل چه دَ معنیٰ موضوع له تصور ددې امرِ خارج نه بغیر عرفًا محال وی . لکه چه سخاوت حاتم طائی سره په عرف کښې لازم دې .

**د عبارت تشریح** : تصورِ ملزوم چه په ذهن کښې اوموندلې شی نو تصورِ لازم به هم ضرور وی لکه دَ اعمیٰ تصور بغیر دَ بصر نه نهٔ وی . دَ اعمیٰ تعریف دادې : " عدم البصر من شانه ان یکون بصیرًا " یعنی لیدل نهٔ شی کولې مګر صلاحیت دَ لیدو پکښې وی . یعنی په ذهن کښې دَ عدم البصر تصور بغیر دَ بصر نه نهٔ شی کیدې نو څوك چه دَ لیدو صلاحیت دَ سر نه لری نهٔ ( مثلًا دیوال ) نو هغه نابینا څنګه کیدې شی .

**فائده** : په دلالتِ التزامی کښې معتبر لازم وجودِ ذهنی دې ، باقی معتبر نهٔ دی .

او کهٔ چرې لازمِ ماهیت مراد اخلې نو دَ اعمیٰ ماهیت سره به بصر لازم شی او بیا به هر ړوند لیدونکې اوګرځی . او کهٔ چرې لازم وجودِ خارجی مراد اخلې نو دَ اعمیٰ سره به په خارج کښې بصر لازم شی نو بیا به هر ړوند لیدونکی شی . نو معلومه شوه چه دا لازم وجود ذهنی دې څکه چه اعمیٰ سره به په ذهن کښې بصر لازم شی یعنی اعمیٰ به دَ لیدو صلاحیت لری مګر فی الحال لیدل نهٔ شی کولې .

**سوال** : تاسو دلالت دَ اعمىٰ على البصر ، دلالت التزامى گرځولې دې حالانکه بصر خو دَ عدمْ البصر جزء دې او دا دلالت تضمنى دې، التزامى خو نهٔ دې .

**جواب** : دَ اعمىٰ معنىٰ عدم البصر نهٔ دې ځکه چه دَ عدم البصر نه مراد يا فقط عدم يا البصر او يا دَ دواړو عدم او بصر درميانى نسبة په دې طور چه بصر خارج دې . اوس خو عدم نهٔ شى جوړيدې ځکه چه عدم په معنىٰ دَ معدوم او اعمىٰ موجود وى معدوم نهٔ دې او فقط دَ اعمىٰ معنىٰ بصر هم نهٔ شى کيدې ځکه چه بصر په معنىٰ دَ بصير دې او عمى په معنىٰ دَ بصير نهٔ دې . او کله چه هر يو جُدا جُدا نهٔ جوړيدې نو ددې په رايو ځائ کيدو سره هم نهٔ شى جوړيدې . ددې مجموعه ځکه نهٔ شى جمع کيدې چه په دې سره به اجتماعِ دَ متنافيينو لازميږى يعنى عدم په معنىٰ دَ معدوم او بصر په معنىٰ دَ بصير او هغه موجود وى نو موجود او معدوم دَ يو بل منافى دى .

نو اوس صرف هم دا صورت دې چه دَ عدم نسبت وى بصر طرف ته او بصر خارج وى ځکه چه مضاف اليه په مضاف کښى نهٔ داخليږى لکه " جاء نى غلام زيد " او دا خبره ظاهره ده چه په خارج باندِ دلالتِ التزامى وى .

**سوال** : بيا معترض اعتراض کوى چه دا تعريف مانع نهٔ دې ځکه چه دا په غير باندِ صادقيږى ؟

**جواب** : دَ عمى په تعريف کښى به مونږ يو بل قيد هم لګوو

Maktaba Tul Ishaat.com

" عدم البصر عما من شانه ان یکون بصیرًا ، وهو لیس بوجود فی الجدار فلا اعتراض فافهم . "

**سوال :** بیا سوال واردیږی چه دا تعریف جامع نهٔ دي ځکه چه دا پیدائشی ړوند ته شامل نهٔ دي ، ځکه چه علماء وائیٔ چه دَ هغه دَ شان نه هم بصارة نشته دي .

**جواب :** دلته کښی یو قید بل معتبر دي یعنی " عما من شانه ومن شان نوعه ان یکون بصیرًا " بیا هم سوال واردیږی چه دا تعریف خپلو افرادو ته شامل نهٔ دي ځکه چه دَ عقرب دَ نوع نه بصارت مقصود دي په دي باندي نهٔ صادقیږی ؟

**جواب :** دلته کښی یو قید بل هم معتبر دي یعنی " عما من جنسه ان یکون بصیرًا " او دَ عقرب دَ جنس نه بصارت دي .

## لازم باعتبار تقسیمِ ثانی

**تمهید ثانی :** بعضِ وختونه یو څیز په بل څیز پوري اونختي وی ، کوم څیز چه پیوست وی هغې ته لازم وائی او دَ کوم څیز پوري چه اونختي وی او پیوسته شوي وی نو هغې ته ملزوم وائی . او ددي دواړو په درمیان کښی چه کوم تعلق دي هغې ته لزوم وائی .

لازم باعتبار تقسیمِ ثانی په څلور قسمه دي : چه ددي دَ تقسیم دوه طریقې دی . یو دا چه لازم په دوه قسمه دي ﴿۱﴾ بَیِّن ﴿۲﴾ غیرِ بین . بیا دواړه په دوه دوه قسمه دي ﴿۱﴾ بمعنیٰ الاخص ﴿۲﴾ بمعنی

الاعم ، دویمه طریقه داده چه دَ اول نه ددې لازم څلور قسمونه جوړ کړې
۱﴾ بین بمعنی الاخص ۲﴾ بین بمعنی الاعم ۳﴾ غیرِ بین بمعنی الاخص ۴﴾ غیرِ بین بمعنی الاعم

**بین بمعنی الاخص** : هغه دې چه دَ ملزوم په تصور سره دِ لازم تصور راشی لکه څنګه چه دَ عمی په تصور سره دَ بصر تصور راځی .

**غیرِ بین بمعنی الاخص** : هغه دې چه دَ ملزوم په تصور سره دَ لازم تصور نهٔ راځی لکه دَ زوجیت دَ تصور نه دَ اربعه تصور نهٔ راځی .

**بین بمعنی الاعم** : هغه دې چه دَ لازم او ملزوم په تصور سره جزم باللزوم راشی ، او دَ څهٔ دلیل احتیاج باقی پاتې نهٔ شی لکه چه دَزوجیت او دَ اربعه په تصور سره جزم باللزوم راځی دَ څهٔ دلیل حاجت نهٔ وی .

**غیرِ بین بمعنی الاعم** : چه دَ دواړو په تصور سره جزم باللزوم نهٔ راځی بلکه دلیل طرف ته احتیاج باقی وی لکه " العالم حادث " چه ددې دواړو په تصور سره جزم باللزوم نهٔ راځی بلکه دلیل طرف ته حاجت باقی پاتې کیږی چه " لانه متغیر و کل متغیر حادث "

**سوال** : اوس لوازم په څلور قسمه شول نو دلته کښې کوم یو لازم مراد دې ؟

جواب : په دې کښې دوه مذهبه دی ۱﴾ **یو دَ جمهورو**

Maktaba Tul Ishaat.com

مذهب دي ۲ ﴾...... ثاني دَ امامِ رازي رحمه الله . جمهور لازمِ بین بمعنی الاخص وائي او امام رازي رحمه الله بالمعنیٰ الاعم وائي .

دَ صاحبِ ایساغوجي مثال "وصنعة الکتابة بالالتزام" دي دَ امام رازي رحمه الله په مسلك دي او علمائے جمهور وائي چه دَ دلالتِ التزامي دپاره دا مثال درست نۀ دي ددې وجې نه چه انسان ملزوم دي او قابلیتِ علم لازم دي ، لیکن دَ انسان په تصور سره دَ قابلیتِ علم تصور په یقیني طور باندې نۀ راځي .

امام رازي رحمه الله فرمائي چه دا صحیح دي یعني دَ انسان په قابلیتِ علم باندې دلالت جائز دي ځکه چه په دې کښې دَ لزوم یقین کیږي ، چه دَ انسان په تصور سره او دَ قابلیتِ علم په تصور سره دَ لزوم یقین راځي ددې وجې نه صحیح دي .

**سوال** : آیا دَ هر ماهیت دپاره دَ لازم کیدل ضروري دي یا نۀ ؟

**جواب** : په دې کښې هم دَ جمهورو او دَ امام رازي رحمه الله اختلاف دي ، جمهور وائي چه دَ هر ماهیت دپاره دَ لازم کیدل ضروري نۀ دي کۀ چرې بین بمعنی الاخص وي نو تیك ده او کۀ نۀ وي نو ضرورت نشته دي :

او امام رازي رحمه الله فرمائي چه دَ هر ماهیت دپاره دَ لازم کیدل ضروري دي . کۀ چرې نور څۀ نۀ وي نو کم از کم دا خو به ضرور وي چه "لیس غیره" مګر دا صحیح نۀ ده ځکه چه دَ یو څیز په تصور سره دَ غیر تصور هم نۀ راځي ، لا دا خبره چه دَ "لیس غیره"

اولنې مثال قابلیتِ علم دې دا یو داسې قابلیت دې چه دَ انسان نه علاوه الله تعالیٰ بل چاته ندې ورکړې .

دویم مثال صنعتِ کتابت دې یعنی دَ لیکلو صنعت او کاری ګری دا هم الله پاك صرف دَ انسان سره خاص کړې دې په دنیا کښې دَ انسان نه علاوه بل هیڅ څیز دَ لیکلو صلاحیت نۀ لری .

**سوال** : دَ مصنف مثال علی مذهب الجمهور صحیح نۀ دې څکه چه هغوی دَ لازم نه مراد لازمِ بین بمعنی الاخص اخلی یعنی دَ ملزوم په تصور سره به دَ لازم تصور راځی حالانکه دَ انسان په تصور سره خو دَ قابلیتِ علم تصور نۀ راځی ، او دَ امام رازی رحمه الله په نزد باندې دا مثال درست دې څکه چه امام رازی رحمه الله دَ لازم نه مراد لازمِ بین بمعنیٰ الاعم اخلی ، یعنی دَ ملزوم په تصور سره به جزم باللزوم راځی او دلیل ته به څۀ حاجت نۀ پاتې کیږی او دلته کښې دَ انسان او دَ قابل العلم په تصور سره جزم باللزوم راځی ، کۀ چرې په تحقیق سره اوکتلې شی نو امام رازی رحمه الله هم دَ بمعنی الاخص قائل دې نو دَ دواړو مذاهبو په نزد مثال درست نۀ دې .

**جواب** : دا مثال فرضی دې .

**سوال** : ستاسو دا تعریف نۀ دَ خپلو افرادو دپاره جامع دې او نۀ دَ دخول دَ غیر نه مانع دې څکه چه یو مثال داسې دې چه هغه کُل هم دې او جزء هم او خارج هم . او په تعریفونو کښې التباس پریو څی اوګوره شمس ( نمر ) په دې کښې بعضِ وائی چه شمس دَ جرم او دَ ضَوء دواړو دپاره دې ، او بعضِ ددې قائل دی چه وضع خو یئ دَ جرم دپاره شوې ده

Maktaba Tul Ishaat.com

لیکن ضوء ورسره لازم دي ، او بعضِ ددې دَ عکس قائل دی ، او کوم خلق چه دَ دواړو دپاره دَ وضع قائل دی نو دَ هغوی په نزد باندې به په دواړو باندې دلالتِ مطابقی وی او هریو باندې دلالتِ تضمنی او کوم خلق چه ددې قائل دی چه وضع دَ جرم دپاره شوې ده او ضَوء ورسره لازم دې نو دَ هغوی په نزد باندې به په جرم باندې دلالتِ مطابقی وی او په ضوء باندې به دلالت التزامی وی او څوك چه دا وائی چه وضع دَ ضوء دپاره ده او جرم ورسره لازم دې نو دَ دوی په نزد باندې برعکس دې

**جواب** : ددې سوال جواب دادې چه په تعاریفو کښې حیثیات معتبر وی . "لولا الحیثیات لبطل الحکمة" په دې حیثیت سره چه دَ کل دپاره وضع دې نو دلالت مطابقی دې او په دې حیثیت سره چه وضع یې دَ جزء دپاره دې نو دلالت تضمنی دې او په دې حیثیت سره چه وضع دَ کُل دپاره ده او دا خارج ورسره لازم دې نو دلالت التزامی دې نو هیڅ اعتراض او التباس نشته .

**وجه حصر** : په دې عبارت سره دَ مصنف علیه الرحمت غرض دَ دلالتِ لفظیه وضعیه په درې قسمونو کښې دَ منحصر کیدو وجه بیانول دی . فرمائی چه په دلالتِ لفظیه وضعیه کښې دَ لفظ دلالت دَ دریو حالتونو نه خالی نهٔ دې . یا خو به لفظ په پوره معنیٰ موضوع له باندې دلالت کوی یا به دَ معنیٰ موضوع له په جزء باندې دلالت کوی او یا به دَ موضوع له په لازم باندې دلالت کوی ، اول ته دلالت مطابقی او دویم ته تضمنی او دریم التزامی وائی .

**دلالت مطابقي** : دا هغه دلالتِ لفظيه وضعيه دي چه لفظ په خپله پوره معنیٰ موضوع له باندي دلالت اوکړی لکه دَ انسان دلالت په مجموعه حیوانِ ناطق باندي ،

**دلالت تضمني** : دا هغه دلالتِ لفظيه وضعيه دي چه لفظ دَ خپلي معنیٰ موضوع له په جزء باندي دلالت اوکړی لکه دَ انسان دلالت په حیوان باندِ یا صرف په ناطق باندي .

**دلالت التزامي** : دا هغه دلالتِ لفظيه وضعيه دي چه لفظ په خپل معنیٰ موضوع له په لازم باندي دلالت اوکړی لکه دَ انسان دلالت په قابلیتِ علم باندي .

## دَ دلالتِ مطابقي وجه تسمیه

مطابقت په معنیٰ دَ موافقت سره دي او دا دَ " طابق النعل بالنعل " نه ماخوذ دي ، په دي کښی لفظ دَ خپلي تمامِ معنیٰ موضوع له سره موافق دي هغه موافق چه دَ هغې نه مقدار هم پوره مراد کیدي شی او معنیٰ موضوع له هم پوره مراد کیدي شی ، او په دي کښی یاء دپاره دَ نسبت ده .

## دَ دلالتِ تضمني وجه تسمیه

دلالتِ تضمنی ته تضمن ځکه وئیلی شی چه دَ تضمن معنیٰ ده په بغل ( ترخ ) کښی نیول ، چونکه په دي دلالت کښی مدلول دَ معنیٰ موضوع له په ترخ کښی وی ددي وجي نه دي ته دلالت تضمني وائی .

Maktaba Tul Ishaat.com

## د دلالت التزامی وجه تسمیه

دلالتِ التزام تـه التـزام ځکه وائی چه دَ التزام معنیٰ ده ' لازم کیدل ' او پـه دې دلالـت کښـی معنیٰ مدلول دَ معنیٰ موضوع له سره لازم وی ددې وجې نه ورته دلالت التزامی وائی

﴿ ان کان له جزء ﴾ : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله دا فرمائی کۀ چرې دَ معنیٰ موضوع له جزء وی نو دلالتِ تضمنی به موندلې شی او کۀ چرې دَ معنیٰ موضوع له جزء نۀ وی نو دلالتِ تضمن به هم نۀ وی .

## په دلالتِ مطابقی او تضمنی کښی د نسبت بیان

پـه دلالـتِ مـطابقي او تضمنی کښی دَ عموم وخصوص مطلق نسبت دې . دلالـتِ مـطابـقـه عـامِ مـطـلـق دې او دلالتِ تضمنی خاصِ مـطـلـق دې ، یعنی مطابقی بغیر دَ تضمنی نه موندلې شی او تضمنی بـغیر دَ مطابقی نه نۀ شی راتلې .، ځکه چه په دلالتِ مطابقی کښی په کُـل مـعـنیٰ مـوضـوع لـه باندې دلالت وی چه دا اصل دې او په دلالت تـضـمـنـی کښـی پـه جزء بـانـدې وی چه دا فرع دَ کُل ده او فرع بغیر دَ اصل نه نۀ شی موجود کیدې ، او اصل بغیر دَ فرع نه راتلې شی . " ان کان له جزء " سره مصنف رحمه الله هم دې طرف ته اشاره کوی .

## په دلالت مطابقی او التزامی کښی نسبت

پـه دلالـتِ مـطـابـقـی او الـتـزامـی کښی هم دَ عموم وخصوص مطلق نسبت . دلالتِ مطابقی عامِ مطلق دې او دلالتِ التزامی خاص

مطلق دې، يعني دلالتِ مطابقی بغیر دَ دلالتِ التزامی نه موندلې شی او التزامی بغیر دَ مطابقی نه نۀ شی راتلې، ځکه چه په مطابقی کښې په ملزوم او متبوع باندې دلالت وی او په التزامی کښې په لازم او تابع باندې دلالت وی او لازم بغیر دَ ملزوم نه او تابع بغیر دَ متبوع نه نۀ شی راتلې.

او امام رازی رحمه الله فرمائی چه دَ دې دواړو په درمیان کښې دَ تساوی نسبت دې، یعنی چه چرته کښې دلالتِ التزامی وی نو هلته کښې به مطابقی ضرور وی ځکه چه دَ هر امرِ خارج لازم دپاره دَ "ما وضع له" کیدل ضروری دی او چرته چه دلالت مطابقی وی نو هلته کښې به التزامی ضرور وی ځکه چه دَ هر ماهیت دپاره دَ لازم کیدل ضروری دی. په تضمنی او التزامی کښې هم دوه مذاهب دی، دَ جمهورو په نزد باندې نسبت دَ عموم وخصوص من وجه دې په دې کښې به درې مادې وی. په یو کښې به تضمنی او التزامی دواړه په یو ځائ تضمنی وی من دون الالتزام.

" وفي موضع عكسه اى يوجد الالتزام دون التضمن "

او دَ امام رازی رحمه الله په نزد باندې نسبت دَ عموم وخصوص مطلق دې، تضمنی عام مطلق، او التزامی خاص مطلق دې، دَ تضمنی سره دَ التزامی کیدل ضروری نۀ دی، " بخلاف العكس لانه لا يوجد خارج بدون ما وضع له " پس ددې نه دې واضحه وی چه په اولنی دلالتونو کښې، وضعی، طبعی او دَ عقلی په

Maktaba Tul Ishaat.com

درمیان کښې حصرِ استقرائی دې او دَ مطابقی، تضمنی او التزامی په درمیان کښې حصرِ عقلی دې.

**سوال**: دا تاسو چه څۀ اووئیل چه قابلیتِ علم او فنِ کتابت انسان سره لازم دی دا خبره درست نۀ ده ځکه چه ډیر انسانان داسې دی چه په هغوی کښې صلاحیتونه نشته لکه دَ بانډې وغیره خلق؟

**جواب**: اګر چه بالفعل دا څیزونه په هغوی کښې نشته لیکن بالقوه پکښې ضرور دی. کۀ چرې یو بانډیچی سره دَ لیکلو او لوستلو اهتمام اوکړې شی نو دا صلاحیت په هغوی کښې پیدا کیدې شی.

" ثم اللفظ اما مفرد وهو الذی لا یراد بالجزء منه دلالة علیٰ جزء معناه کالانسان واما مؤلف وهو الذی لا یکون کذالك کقولك رامی الحجارة. "

**ترجمه**: بیا به لفظ یا مفرد وی، مفرد هغه لفظ دې چه ددۀ دَ جزء نه ددۀ دَ معنیٰ په جزء باندې دَ دلالت اراده نۀ وی شوی او یا به مرکب وی او مرکب هغه لفظ دې چه هغه داسې نۀ وی لکه ستا دا قول " دَ کاڼړی ویشتونکې "

**تشریح**: په دې عبارت کښې مصنف رحمه الله دَ لفظ دوه قسمونه بیانوی چه دَ لفظ دوه قسمونه دی ۱﴾...... مفرد ۲﴾...... مرکب لیکن دا یاد ساتئ چه دَ لفظ نه مراد " اللفظ الدال بالوضع مطابقةً " دې

نحوی حضرات دَ مفرد او مرکب بالکل آسان تعریف کوی، دَ

هغوى په اصطلاح كښې مفرد هغه دې چه هغه يواځې وى او مركب هغه دې چه هغه دَ دوو يا دَ زياتو الفاظو دَ رايو ځاى كيدو نه جوړ وى، او منطقى حضرات ددې بل تعريف كوى .

**دَ مفرد تعريف** : مفرد هغه لفظ دې چه ددهٔ دَ جزء نه ددهٔ په معنىٰ باندې دَ دلالت اراده اونكړې شى . لكه زيد . او دَمفرد څلور صورتونه دى :

۱﴿...... چه بالكل دَ لفظ جزء نهٔ وى لكه همزه استفهام .

۲﴿...... دَ لفظ جزء وى خو معنىٰ والا به نهٔ وى لكه انسان .

۳﴿...... دَ لفظ جزء به هم وى او معنى دار به هم وى ليكن په معنىٰ مقصودى به دالت نهٔ كوى لكه دَ يو بنده نوم عبد الرحمٰن وى .

۴﴿...... دَ لفظ جزء به هم وى او معنىٰ دار به هم وى او په معنىٰ مقصودى به دلالت هم كوى ليكن تا به ددې معنىٰ اراده نهٔ وى كړې، لكه چه دَ يو كس نوم حيوانِ ناطق وى .

**فائده** : مفرد دَ څلورو څيزونو په مقابله كښې . ۱﴿...... دَ مفرد ، تثنيه او جمع په مقابله كښې . ۲﴿...... مفرد دَ مضاف او دَ شبه مضاف په مقابله كښې . ۳﴿...... مفرد دَ جملې او دَ شبه جمله په مقابله كښې . ۴﴿...... مفرد دَ مركب په مقابله كښې . دلته كښې هغه مفرد مراد دې كوم چه دَ مركب په مقابله كښې دې .

**سوال** : ستاسو دَ مفرد دا تعريف مانع نهٔ دې ځكه چه دا په مهمل باندې هم صادقيږى ځكه چه په مهمل كښې هم دَ لفظ دَ جزء نه دَ

Maktaba Tul Ishaat.com

معنیٰ په جزء باندې دَ دلالت اراده نۀ وی ؟

**جواب** : دَ لفظ نه مراد لفظِ موضوع دې .

**سوال** : کۀ چرې لفظِ موضوع مراد وو نو بیا یئ ورسره موضوع ولې نۀ ذکر کوو ؟

**جواب** : دَ شهرت دَ وجې نه چه لفظِ موضوع په دوه قسمه دې مفرد او مرکب ، نو ځکه یئ دَ موضوع قید اونۀ لګوو .

**جوابِ ثاني** : په اللفظ کښې الف لام عهدی دې په دې کښې اشاره ده لفظِ موضوع طرف ته .

**جوابِ ثالث** : کۀ چرې اعاده دَ معرفې دَ معرفې سره وی نو ثاني عینِ اول وی .

**سوال** : ستاسو تعریف جامع نۀ دې ځکه چه دا په انسان باندې صادق نۀ دې ځکه چه دَ لفظ اجزاء دَ حروفِ ابجد په لحاظ سره دَ معنیٰ په اجزاء باندِ دلالت کوی ، لکه الف په یو باندې دلالت کوی او "ن" په پنځوس او "س" په شپیتو باندې دلالت کوی او یو الف یو عدد او بیا نون پنځوس اعداد دی نو په دې لحاظ سره لفظِ انسان په ۱٦۲ عدد باندې دلالت کوی . دَ معنیٰ په اجزاء باندې دَ لفظ اجزاء دلالت کوی .

**جواب** : دَ ارادې او دَ دلالت نه مراد هغه دې چه په طریق دَ اهل اللغة وی نۀ دا چه دَ اهلِ ابجد په حساب سره وی .

**سوال** : بیا هم تعریف جامع نۀ دې ځکه چه په "ضرب" کښې دَ لفظ اجزاء دَ معنیٰ په اجزاؤ باندې دال دی ، دَ لفظ دوه اجزاء دی ماده او هیئت او دَ معنیٰ درې اجزاء دی ، نسبت ، زمانه او حدث . نو ماده په

حدث باندې دلالت کوی او هیئت په نسبت او زمانه باندې .

**جواب** : دَ اجزاؤ نه مراد هغه دی چه " مرتب فی السمع " وی یعنی اول جزء هغه دې چه اول ذکر وی او دویم هغه چه روستو ذکر وی لکه رامی الحجارة کښی چه دی اول جزء " رامی " دې او دویم جزء " الحجارة " دې په خلاف دَ ضرب . ځکه چه ددې په تکلم سره ماده او هیئت په یو وخت کښی آوریدلې شی .

**سوال** : ستاسو دا تعریف مانع نهٔ دې ځکه چه دا په مرکباتو صادق راځی لکه زید قائم .

**جواب** : دَ دلالت نه مراد عام دې کهٔ بالفعل وی او کهٔ بالقوة ، دلته کښی اګر چه بالفعل نهٔ سهی لیکن بالقوة دې .

دَ مرکب بل نوم مؤلف دې بعضِ وائی چه دا دواړه متحد دی " وبعضهم قائلون بانهما مخالفان " کوم خلق چه دَ اختلاف قائل دی هغوی وائی چه مؤلف هلته وی چه دَ اجزاؤ په درمیان کښی تناسب وی لکه زید قائم . " والمرکب اعم من ان یکون متناسب الاجزاء ام لا کما فی زید ، عمرو بکر وغیر المتناسب کما فی زید حجر والانسان حجر وغیره ذالك . "

**مرکب** : هغه لفظ دې چه دَ هغه دَ جزء نه دَ هغه دَ معنیٰ په جزء باندې دَ دلالت اراده کړې شوې وی لکه رامی الحجارة .

دَ مؤلف دَ وجود دپاره پنځهٔ شرطونه دی . ﴿۱﴾...... دَ لفظ به جزء وی ﴿۲﴾...... دَ معنیٰ به هم جزء وی ﴿۳﴾...... دَ لفظ جزء به دال وی ﴿۴﴾......

Maktaba Tul Ishaat.com

معنیٰ مقصودی به وی ﴿۵﴾...... دَ دلالت قصد به هم وی .

په اولنی شرط سره " رق " په وخت دَ علميت خارج شو .

**سوال** : په دې کښې يئ دَ علميت شرط ولې لګولې دې ؟

**جواب** : ځکه چه دا قبل از علميت مرکب وو .

په دويم شرط سره ترينه " نقيط " خارج شو ځکه چه ددې جزء دَ معنیٰ په جزء باندې دال نهٔ دې .

**سوال** : دَ نقيط تعريف دې " ما يكون قابلًا للاشارة الحسية " او ددې اجزاء خو وی .

**جواب** : دَ نقطې نه مُراد ددې مصداق دې ، مفهوم مراد نهٔ دې

په دريم شرط سره زيد خارج شو ځکه چه ددې اجزاء دَ مسمیٰ په اجزاؤ باندې دال نهٔ دی .

په څلورم شرط سره ترينه عبد الله په وخت دَ علميت خارج شو چه عبد په عبوديت باندې او لفظِ الله په الوهيت باندې دال دی ، مګر دا معنیٰ مقصودی نهٔ ده .

په پنځم شرط سره حيوان ناطق خارج شو په وخت دَ علميت .

**فائده** : دَ مفرد او دَ مرکب کيدل دَ نحوی حضراتو په نزد باندې بالذات دَ لفظ صفات دی او بالتبع دَ معنیٰ صفات دی ، او دَ حضراتِ مناطقه معامله برعکس ده . " لان النحاة يبحثون عن الالفاظ والمنطقيون عن المعانی . "

"فالمفرد اما كلي وهو الذى لا يمنع نفس تصور مفهومه عن وقوع الشركة فيه كالانسان واما جزئي وهو الذى يمنع نفس تصور مفهومه عن وقوع الشركة فيه كزيد ."

**ترجمه** : بس مفرد به يا كلي وي ، او كلي هغه دي چه ددې دَ مفهوم صرف تصور په دې كښې دَ شركت دَ واقع كيدو نه مانع نهٔ وي لكه انسان . او يا به جزئي وي او جزئي هغه دې چه ددهٔ دَ مفهوم محضِ تصور په دې كښې دَ شركت دَ واقع كيدو نه مانع وي لكه زيد .

**تشريح** : مصنف رحمه الله دَ كلياتِ موقوف عليه دَ فارغ كيدو نه بعد دَ كلياتِ خمسه آغاز او شروع كوي ، په دې عبارت سره دَ مصنف رحمه الله غرض دَ مفرد اقسام بيانول دي چه دَ مفرد دوه قسمونه دي .﴿١﴾...... كلي ﴿٢﴾...... جزئي . بيا په دې كښې دَ هريو تعريف كؤل دي .

**د كلي تعريف** : كلي هغه دې چه ددې دَ مفهوم صرف تصور په دې كښې دَ شركت دَ واقع كيدو نه مانع نهٔ وي لكه انسان .

**د جزئي تعريف** : جزئي هغه مفهوم دې چه ددې نفسِ تصور په دې كښې دننه دَ شركت دَ واقع كيدو نه مانع وي . لكه زيد .

تاسو وئيلي دي چه دا كلي او جزئي دَ مفرد قسمونه دي حالانكه په تيسير المنطق كښې دا دَ مفهوم اقسام ذكر كړې شوي دي .

**سوال** : تاسو اووئيل چه دا كلي او جزئي دَ مفرد اقسام دي ، حالانكه او كلي په حقيقت كښې دَ معنى او مفهوم اقسام دي لكه څنګه

Maktaba Tul Ishaat.com

چه په تیسیر المنطق کښی دا دَ مفهوم اقسام بیان کړې شوی دی ؟

**جواب** : حملًا علی المجاز ، تسمیة الدال باسم المدلول "

کلیت او جزئیت په حقیقت کښی بالذات دَ معنیٰ صفات دی او بالعرض و بالتبع دَ لفظ صفات دی . لکه څنګه چه إفراد او ترکیب په اصل کښی دَ لفظ صفتونه دی او بالتبع دَ مفهوم صفات دی .

**سوال** : مجازًا دَ اختیارولو څهٔ ضرورت دې ؟

**جواب** : دَ مبتدی دَ سهولت دپاره ځکه چه هغه لفظِ مفرد معلوم کړې وو " بخلاف المعنیٰ المفرد لانه لا یعلمه "

**سوال** : کهٔ چرې دَ مفرد موصوف راؤویستلې شی نو کلامِ حقیقی جوړیدې شی . " والمجاز یختار حین التعذر عن الحقیقة "

**جواب** : کهٔ چرې دَ " المفرد " موصوف ' المعنیٰ ' ذکر کړې شی او دَ " مفهومه " ضمیر معنیٰ طرف ته راجع کړې شی نو لازم به شی دَ مفهوم ثبوت دَ مفهوم دپاره " وهو غیر جائز "

**جواب ثاني** : په المفرد کښی الف لام عهدِ خارجی دې او ددې معهود مذکور وی او هغه لفظِ مفرد دې په خلاف دَ معنیٰ مفرد ، چه هغه مذکور نهٔ دې .

او کوم خلق چه ددې موصوف المعنیٰ ذکر کوی نو په هغوی باندې دا سوال واردیږی چه ثبوتِ مفهوم للمفهوم لازمیږی " واجیب عنهم باختیار صنعة الاستخدام " او صنعةِ استخدام دادې چه دَ یو لفظ نه دَ اعتباراتِ مختلفه په لحاظ سره مختلف معانی مُراد کړې شی .

او دلته کښې دَ ضمیر دَ رجوع په وخت لفظِ مفرد او دَ معرَّف دَ جوړیدو په وخت معنیٰ مراد وی .

**سوال** : دَ مصنف دلته کښې " لا یمنع " متعدی ذکر کول درست نهٔ دی بلکه " لا یمنع " لازمی ذکر کوُل پکار دی ، یعنی نهٔ منع کیږی مفهوم دَ نفسِ تصور .

**جواب** : لا یمنع دَ مبالغې دپاره ذکر کړې شوی دې ګویا چه ددې نفسِ تصور کُل لره نهٔ منع کوی .

**سوال** : دَ نفس ذکر مستدرك دې ځکه چه " تصور مفهومه " وئیل کافی دی ؟

**جواب** : کهٔ چرې دَ نفس ذکر نهٔ وې نو دَ بعضِ کلیاتو جزئی جوړیدل به لازم راتلل ، لکه واجب الوجود او شمس وغیره او بعضِ به هیڅ نهٔ جوړیدل . ډیر کلیات داسې دی چه دَ هغې په خارج کښې هیڅ فرد نهٔ وی لکه " لا شیئ " او ډیر زیات کلیات داسې دی چه دَ هغې په خارج کښې صرف یو فرد دې ، لکه واجب الوجود . کهٔ چرې مونږ دَ کلی او دَ جزئی په تعریف کښې دَ نفسِ تصور قید نهٔ وو لګولې نو دا کلیات به جزئیات ګرځیدل نو بیا به دَ کلی تعریف جامع نهٔ وو او دَ جزئی تعریف به مانع نهٔ وو نو دَ کلی دَ تعریف دَ جامع کیدو او دَ جزئی دَ تعریف دَ مانع کیدو دپاره مونږ دا قید لګولې دې .

## د کلي اقسام په اعتبار د وجودِ خارجي

کلی به دَ دوو حالاتونو نه خالی نهٔ وی یا به ممتنع الوجود وی

Maktaba Tul Ishaat.com

اویا به ممکن الوجود . دَ ممتنع الوجود مثال : شریكِ باری تعالیٰ .

بیا به ممکن الوجود دَ دوو حالاتونو نه خالی نهٔ وی ، یا به یئ په خارج کښې یو فرد وی یا به یئ په خارج کښې هیڅ فرد نهٔ وی . کهٔ چرې په خارج کښې یئ هیڅ یو فرد نهٔ وی نو دَ هغې مثال لکه دَ یاقوت غر .

کهٔ چرې په خارج کښې یئ څهٔ فرد وی نو بیا به خالی نهٔ وی یا به صرف یو فرد وی اویا به زیات وی کهٔ چرې یو فرد وی نو بیا به خالی نهٔ وی دَ دویم امکان به وی لکه نمر . یا به دَ دویم امکان نهٔ وی لکه واجب الوجود . او چه افراد یئ زیات وی نو بیا به دَ دوو حالتونو نه خالی نهٔ وی متناهی به وی اویا به غیرِ متناهی وی دَ اول مثال لکه کواکبِ سیاره دَ ثانی مثال لکه انسان .

**فائده** : بعضِ خلق کلی لره په جزئی باندې مقدم کوی او بعضِ ددې برعکس کوی نو دَ فریقِ اول څو دلائل ذکر کوو :

**اولنې دلیل** : دَ کلی تعریف عدمی دې او دَ جزئی تعریف وجودی دې او عدم په وجود باندې مقدم وی .

**دویم دلیل** : کلی مقصود بالبحث دې ځکه چه په قولِ شارح کښې ذکر کیږی او مقصود مقدم وی په غیرِ مقصود باندې .

## د فریق ثانی دلائل :

اولنې دلیل : دَ جزئی تصور وجودی دې او دَ کلی عدمی دې او وجود اشرف وی دَ عدم نه .

دویم دلیل : جزئی بسیط دې او کلی مرکب دې او بسیط مقدم وی په مرکب باندې .

**فائده** : دَ کلي په مختلف اعتباراتو سره مختلف نومونه دی .دَ کلی مفهوم ته کلي منطقي وائی او دَ هغې مصداق ته کلی طبعی وائی ، او دَ دوارو مجموعې ته کلي عقلي وائی .

## د کلي وجه تسميه

په کلی یاء دپاره دَ نسبت ده یعنی کُل والا ، او داخپله جزء وی ددې کُل بل وی لکه حیوان چه دا اول کُل وو اوس دَ انسان دپاره جزء دې

## د جزئي وجه تسميه

په دې کښې هم یاء دپاره دَ نسبت ده یعنی جزء والا ، او دا خپله کلي وی او جزء ددې بل وی لکه چه انسان اول کُل وو اوس جزء دې .

**فائده** : دَ کلي دَ جزئیاتو درې نومونه دی ﴿۱﴾...... جزئیات ﴿۲﴾...... افراد ﴿۳﴾...... اشخاص

★......★......★......★......★......★......★......★

★......★......★......★......★......★

★......★......★......★

★......★......★

★......★

★

Maktaba Tul Ishaat.com

## ﴿ کلیاتِ خمسه ﴾

**" والکلی اما ذاتی وهو الذی یدخل تحت حقیقة جزئیاته کالحیوان بالنسبة الی الانسان والفرس واما عرضی وهو الذی بخلافه کالضاحك بالنسبة الی الانسان . "**

**ترجمه** : ...... او کلی به یا ذاتی وی ، او کلی ذاتی هغه دې چه دَ خپلو جزئیاتو دَ حقیقت لاندې داخل وی ، لکه دَ حیوان نسبت انسان او فرس طرف ته . او یا به کلی عرضی وی . عرضی هغه دې چه ددې خلاف وی لکه دَ ضاحك نسبت انسان طرف ته .

**تشریح** : په دې عبارت سره دَ مصنف رحمه الله غرض دَ کلی ذاتی او دَ کلی عرضی تعریف کوُل دی .

**وجه حصر** : دَ کلی صرف دوه قسمونه دی چه ددې وجه حصر داده چه کلی به دَ خپلو افرادو او جزئیاتو په حقیقت کښې داخل وی یا نهٔ ، کهٔ چرې داخل وی نو کلی ذاتی شو او کهٔ داخل نهٔ وی نو عرضی .

دَ کلي ذاتی او عرضی په تعریف دَ پو هیدو نه مخکښې په یوه فائده ځان پو هه کول ضروری دی .

**فائده** : دَ کومو څیزونو دَ یو ځائ کیدو نه چه یو څیز جوړ شي نو هغه څیزونو ته ددې څیز حقیقت او ماهیت او ذات وائی ، کهٔ

چرې دَ هغې نه چرته یو څیز هم اوباسې نو دَ هغه څیز حقیقت باقي نهٔ پاتې کیږي لکه حیوانِ ناطق دَ انسان حقیقت دې کهٔ چرې حیوان یا ناطق ددې خارج کړې شي نو مکمل حقیقت باقي نهٔ پاتې کیږي . ددې نه علاوه چه کوم دَ خپلو افرادو په حقیقت کښې داخل نهٔ وي هغې ته عوارض وائي لکه ضاحِك .

**کلي ذاتي** : هغه کلي دې چه دَ خپلو افرادو په حقیقت کښې داخل وي یعنې چه دَ خپلو افرادو پوره حقیقت وي یا دَ حقیقت جزء وي . دَ اول دپاره مثال لکه انسان دَ ثاني دپاره مثال حیوان .

**کلي عرضي** : چه دا دَ خپلو افرادو نهٔ پوره حقیقت وي او نهٔ دَ حقیقت جزء وي بلکه دَ حقیقت نه خارج وي لکه ضاحِك دَ انسان دپاره کلي عرضي دې .

**سوال** : تا اووئیل چه کلي ذاتي هغه دې چه دَ خپلو افرادو او جزئیاتو په حقیقت کښې داخل وي ، په دې تعریف سره نوع دَ حکمِ کلي نه اووتهٔ ځکه چه هغه بعینهٖ حقیقت دې .

**جواب** : دَ یدخل چه کومه معنیٰ تا مراداخستې ده په دغه اعتبار سره ستا سوال ټیك دې لیکن مونږ دَ یدخل معنیٰ دلته کښې تضاد مراد اخلو چه " لا یکون خارجًا " یعنې دَ حقیقت نه به خارج نهٔ وي په دې لحاظ سره نوع ته هم کلي وئیل صحیح دي ځکه چه هغه خارج نهٔ دې .

**فائده** : دَ کلي ذاتي او عرضي درې تعریفونه دي :

Maktaba Tul Ishaat.com

۱﴾...... **الذاتی هو الذی یدخل تحت حقیقة افراد جزئیاته والعرضی بخالفه ـ**

۲﴾...... **الذاتی هو الذی داخل تحت حقیقة افراد جزئیاته والعرضی ما هو خارج عنها ـ**

۳﴾...... **العرضی هو الذی خارج عنها والذاتی بخلافه وهو جید حیث لا یرد علیه ما اورد علی الاولین ـ "**

**الحاصل** : دَ ذاتی دوه معانی دی : ۱﴾...... داخل ۲﴾...... غیرِ خارج . دلته کښی دَ ذاتی نه مراد غیرِ خارج دې ځکه چه دَ داخل معنیٰ وی جزءِ حقیقت ، کهٔ چرې دَ ذاتی معنیٰ داخله کړې نو دَ کلی ذاتی مطلب به دا وی چه کلی ذاتی هغه کلی دې چه دَ خپلو جزئیاتو دَ حقیقت جزء وی . نو په دې صورت کښی به نوع دَ کلی ذاتی کیدو نه خارج شی . ځکه چه نوع دَ خپلو جزئیاتو دَ حقیقت جزء نهٔ دې بلکه پوره حقیقت دې . نو نوع لره په کلی ذاتی کښی دَ داخلولو دپاره دَ ذاتی معنیٰ مونږ غیرِ خارج کوو .

کلی ذاتی یې په کلی عرضی باندې ولې مقدم کړو؟

**جواب** : ذات همیشه دپاره په عوارضاتو باندې مقدم وی نو ځکه یې کلی ذاتی په عرضی باندې مقدم کړو .

**فائده** : دَ بعضِ څیزونو حقیقتونه دادی : انسان ، حیوانِ ناطق . اَس حیوانِ صاهل . خَر . حیوان ناهِق . اوښ ، حیوانِ ذوخوار . بکری ، حیوانِ ذورغاء ، شیر ، حیوانِ مفترس . او دَ حیوان حقیقت " هو جسم حساس متحرك بالارادة " دې .

## د کلی ذاتی او د کلی عرضی وجه تسمیه

په کلی ذاتی کښی یاءِ نسبتی ده یعنی ذات والا . ذاتی ته ذاتی ددې وجې نه وائی چه کلی ذاتی دَ خپلو افرادو او جزئیاتو په ذات یا حقیقت کښی داخل وی . او په عرضی کښی هم یاء دپاره دَ نسبت ده یعنی عارض کیدونکې . او عرضی ته ځکه عرضی وائی چه دا کلی خپلو افرادو او جزئیاتو ته عارض کیږی ، او په حقیقت کښی یئ داخل نۀ وی .

" والذاتی اما مقول فی جواب ما هو بحسب الشركة المحضة كالحيوان بالنسبة الى الانسان والفرس وهو الجنس ويرسم بانه كلى مقول علىٰ كثيرين مختلفين بالحقائق فی جواب ما هو واما مقول فی جواب ما هو بحسب الشركة والخصوصية معًا كالانسان بالنسبة الىٰ زيد وعمرو وغيرهما وهو النوع ويرسم بانه كلى مقول علىٰ كثيرين مختلفين بالعدد دون الحقيقة فی جواب ما هو واما غير مقول فی جواب ما هو بل مقول فی جواب ای شیئ هو فی ذاته وهو الذی يميز الشیئ عما يشاركه فی الجنس كالناطق بالنسبة الى الانسان وهو الفصل ويرسم بانه كلى مقول على الشیئ فی جواب ای شیئ هو فی ذاته . "

**ترجمه** : او کلی ذاتی به یا وئیلی شی دَ ما هو په جواب کښی

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ شرکتِ محضه په اعتبار سره لکه حیوان دَانسان او دَ فرس په نسبت او دا جنس دې . او ددې تعریف دارنګه کولې شی چه جنس هغه کلی دې چه دا وئیلی شی په جواب دَ ما هو کښې په داسې کثیر جزئیاتو باندې چه دَ هغې حقائق مختلف وی او یا به ( دا کلی ذاتی ) وئیلی شی په جواب دَ ما هو کښې دَ شرکت او دَ خصوصیت دواړو په اعتبار سره لکه انسان دَ زید وعمرو په نسبت او دا نوع ده . او ددې تعریف دارنګه کیدې شی چه نوع هغه کلی دې چه دا دَ ماهو په جواب کښې په داسې کثیر افرادو باندې وئیلی کیږی ، او کوم چه دَ ماهو نۀ بلکه دَ "ای شیء هو فی ذاته" په جواب کښې وئیلی شی ( یعنی دا شئ په خپل ذات کښې څۀ څیز دې ؟ ) او هغه داسې کلی دې چه هغه دا شئ په خپل جنس کښې دَ شریك نورو مشارکاتو نه جُدا کړی لکه ناطق دَ انسان دپاره او دا فصل دې او ددې تعریف دارنګه کیدې شی چه فصل هغه کلی دې چه دا په څۀ څیز باندې دَ "ای شئ هو فی ذاته" په جواب کښې محمول وی .

**تشریح** : مصنف رحمه الله دَ کلی ذاتی تقسیم کوی دَ کلی ذاتی درې اقسام دی ۱ ...... جنس ۲ ...... نوع ۳ ...... فصل .

**وجه حصر** : کلی به دَ خپلو تمامو افرادو پوره حقیقت وی یا به نۀ وی ، کۀ چرې دَ خپلو تمامو افرادو حقیقت وی نو دې ته نوع وائی او کۀ چرې پوره حقیقت نۀ وی نو بیا به دَ دوو حالتونو نه خالی نۀ وی یا به جزءِ مشترك وی یا جزء ممیز . کۀ چرې جزءِ مشترك وو نو

جنس دې او کۀ داسې نۀ وی نۀ فصل .

وجه حصر داده چه کلی ذاتی به دَ دوو حالتونو نه خالی نۀ وی یابه دَ ما هو په جواب کښې صادقیږی او یا به دَ "ای شئ هو فی ذاته" په جواب کښې . کۀ چرې دَ ما هو په جواب کښې وئیلی کیږی نو بیا به دَ دوو حالتونو نه خالی نۀ وی یا خو به دَ شرکتِ محضه په اعتبار سره وئیلی شی او یا به دَ شرکت او خصوصیت دواړو په اعتبار سره . اول جنس دې او ثانی نوع ده او کۀ چرې دَ "ای شیئ هو فی ذاتهٖ" په جواب کښې وئیلی کیږی نو دا فصل دې .

**فائده** : دَ منطقی حضراتو په نزد باندې دَ سوال کؤلو څۀ آداب او آلې دی . دَ تصوراتو په باره کښې دَ سوال دوه آلې دی ﴿۱﴾...... ما ﴿۲﴾...... ای .

اهلِ منطق هر قسم سوال کؤل په څلورو کلماتو کښې منحصر کړې دی . ما ، ایٌ ، هل ، لم . (سلم العلوم ص ۳۰)

﴿ ما ﴾ دَ ما مقصد دا وی چه په دې سره داسې جواب ورکړې شی چه په دې سره دَ مسئول عنه تصور حاصل شی ، ددې وجې نه ددې په جواب کښې نوع ، جنس یا داسې عرضیات ښودلی شی چه په هغې سره دَ مسئول عنه تصور حاصل شی . دَ الله پاك ارشاد دې :

" واما من خفت موازینه فامه هاویه وما ادراك ماهیه نار حامیة "

**ترجمه** : ...... او دَ چا چه وزن (ایمان) سپَك ثابت شو نو دَ هغه ځائ به هاویه وی او تاته څۀ معلومه ده چه هاویه څۀ څیز دې ؟ هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

کرم اُور دې ."

سوال ماهى دې ، ددې په جواب کښې يئ " نار حامية " اوفرمائيل چه په دې سره ددې حقيقت واضح شو .

فرعون حضرت موسىٰ عليه السلام ته وئيلى وو " ما رب العٰلمين " مګر دَ الله پاك دَ حقيقت اِدراك ناممکن دې ، صرف دَ هغه په صفاتو سره دَ هغه معرفت حاصليږى ددې وجې نه ورته حضرت موسىٰ عليه السلام جواب ورکړو " رب السمٰوٰت والارض وما بينهما " او دَ الله پاك ارشاد مبارك دې : " وما تلك بيمينك يا موسىٰ قال هى عصاى " په دې جواب کښى " عصا " ددې مشاراليه نوع ده .

﴿ اَیُّ ﴾ : دَ تعيين دپاره دې او دا تعيين به په اعتبار دَ مضاف اليه سره وى ، کهٔ چرې مضاف اليه متعدد وى دَ هغې تعيين کؤل مطلوب وى چه په هغې کښى مذکور صفت وى لکه سليمانؑ اوفرمائيل : " يا ايها الملأ ايکم ياتينى بعرشها قبل ان ياتونى مسلمين ." اې دربار والو ! په تاسو کښى څوك دې چه ماته دَ هغې تخت حاضر کړى ددې نه مخکښى چه هغه ماته فرمانبرداره حاضره شى.

او کهٔ چرې مضاف اليه صفت وى لکه " اى شئ هو فى ذاته " نو ددې منشاء به دا وى چه داسې فصل ذکر کړې شى چه کوم افراد له دهٔ سره په جنس کښى شريك دى چه دَ هغې نه يئ جُدا کړى .

﴿ هل ﴾ : په هَل سره دَ نسبتِ خبريه دَ وقوع يا دَ عدمِ وقوع

په ابره کښې سوال کولې شي لکه " هل زید قائم ، هَل محمود موجود ."

﴿ لِمَ ﴾ : دا دَ لامِ جاره او ما استفهامیه نه مرکب دي دا دَ نسبتِ خبریه دَ سبب دَ معلومولو دپاره راځي لکه " لِمَ غبتَ " ته ولې غائب وې ؟ " په جواب کښې به راځي " لانی کنتُ مریضًا " ځکه چه زهٔ بیمار وُم .

**سوال** : دَ استفهام کلمات خو نور هم شته تاسو صِرف څلور ولې ذکر کړل ؟

**جواب** : باقي کلمات هم په دې کښې دَ بعضِ په معنیٰ راځي اداتِ استفهام په درې قسمه دي . حروفِ استفهام او هغه دوه دي همزه او هَل . اسماءِ استفهام لکه مَن ، ما ، این ، متیٰ ، انی کیف ، ای ' افعالِ استفهام لکه په حدیثِ جبرئیل کښې دی " اخبرنی عن الاسلام " ماته دَ اسلام په باره کښې خبر راکړئ .

دارنګه دَ الله پاك ارشاد دې : " انبؤنی باسمآء هٰؤلآء " ماته ددې څیزونو نومونه اوښایئ .

او دارنګه دَ الله تعالیٰ ارشاد دې : " انبئهم باسمآئهم " اې آدم ! دوی ته ددې څیزونو نومونه اوښایه .

او فرمائی : " ویستنبؤنك احق هو " او دوی ستا نه پوښتنه کوی چه دا عذاب واقعی امر دې ؟ "

Maktaba Tul Ishaat.com

**نکته :**

په دې پورته مثالونو کښې یو فعلِ استفهام دې او بل حرفِ استفهام ، چونکه مقصد یو دې نو ددې وجې نه هم یوشان جواب ورکړې شو " قُل ای وربی انه الحق " تهٔ ورته اووایه چه زما دې قسم وی په خپل رب هغه واقعی امر دې " دَ فعلِ استفهام نه کله جمله انشائیه جوړیږی لکه " اخبرنی " او کله ترینه جمله خبریه جوړیږی لکه : یستفتونك "

باقی پاتې شوه دا خبره چه بقیه ادواتِ استفهام په دې څلورو کښی څنګه داخل دی ؟

همزه خو دَ هَل په معنیٰ کښی دې . مَن ، این متیٰ ، انی ، کیف دَ " ای " په شان دَ طلبِ تعیین دپاره دی . مثلًا این دَ تعیینِ مکان دپاره ، متیٰ دَ تعیینِ وخت دپاره، کیف تعیین حال او انی دَ تعیینِ حال یا تعیینِ مکان دَ طلب دپاره عمومًا رائحی . او " مَن " دَ تعیینِ شخص دَ طلب دپاره دې او دَ تعیین دَ طلب دپاره ای استعمالیږی . لهٰذا دا ټول په ای کښی داخل شول . البته کهٔ چرې کیف دَ سبب دَ معلومولو دپاره دې نو دَ " لِمَ " تابع به وی .

باقی پاتې شول افعالِ استفهام نو هغه به په ما یا ای کښی داخل وی . دَ ما مثال " اخبرنی عن الاسلام " دَ ای دَ معنیٰ مثال " یسألونك عن الخمر المیسر " په دې کښی دَ حقیقت استفهام نشته بلکه دَ حلت یا دَ حرمت تعیین مقصود دې .

دَ تعریفاتو دَ طلب دپاره " ما " دي دَ قضایا دپاره " هَل " او دَ ذاتیاتو او عرضیاتو دپاره " ما " او کله کله دَ حجت او دلیل دپاره څهٔ لفظِ مفرد نهٔ وی نو دَ هغې دپاره لِمَ استعمالولې شی . دارنګه ددې نه علاوه په نورو ادواتِ مرکبه " مَن ، این ، عم "وغیره سره دَ تعیین سوال کیږی لهٰذا دا په ای کښې داخل منلې شی .

## د اصطلاحِ ما هو بیان

چه ددې حاصل دادې چه کله هم څوك سائل دَ " ما هو " په ذریعې سره دَ څهٔ څیز دَ ماهیت په باره کښې سوال اوکړی نو په جواب کښې مُجیب لره څهٔ پیش کول پکار دی ؟ ددې دارومدار دَ سائل په سوال باندې دې چه دَ سائل سوال به دَ دوو حالاتو نه خالی نهٔ وی دَ " ما هو " په ذریعې سره به یا دَ امرِ واحد په باره کښې سوال کوی او یا به دَ امرِ متعدد په باره کښې سوال کوی کهٔ چرې دَ امرِ واحد په باره کښې سوال اوکړی نو بیا به دا امرِ واحد دَ دوو حالتونو نه خالی نهٔ وی یا به دَ جزئی په باره کښې سوال کوی او یا به دَ کلی په باره کښې . او کهٔ چرې دَ امورِ کثیره او اشیاءِ متعدده په باره کښې سوال اوکړي نو بیا به دا دَ دوو حالتونو نه خالی نهٔ وی یا څیزونه به یا متفقة الحقیقت وی یا به مختلفة الحقیقت وی . نو دا بهر حال څلور صورتونه شو .

**اولنۍ صورت** : چه سائل دَ ما هو په ذریعې سره دَ امرِ واحد جزئی په باره کښې سوال اوکړی نو په جواب کښې به نوع واقع کیږی لکه " زید ما هو ؟ " نو په جواب کښې به " انسان " راځی .

Maktaba Tul Ishaat.com

**دویم صورت:** چه سائل دَ ما هو په ذریعې سره دَ امرِ واحد کلي په باره کښې سوال اوکړي نو په جواب کښې به حدِ تام واقع کیږي لکه الانسان ما هو ؟ په جواب کښې به حیوانِ ناطق وئیلی شي .

**دریم صورت:** چه سائل په ما هو سره دَ امورِ متعدده او اشیاءِ کثیره متفقة الحقائق په باره کښې سوال اوکړي نو ددې په جواب کښې به هم نوع واقع کیږي لکه " زید وعمرو وبکر ما هم ؟ ' نو په جواب کښې به انسان راځي .

**څلورم صورت:** چه سائل دَ امورِ متعدده او اشیاءِ کثیره مختلفة الحقائق په باره کښې په ما هو سره سوال اوکړي نو په جواب کښې به جنس واقع کیږي لکه " الانسان والفرس والبقر ما هم ؟ " نو په جواب کښې به حیوان راځي نو په دې صورتِ اربعه مذکوره کښې په یو صورت کښې جنس واقع کیږي او په دوو صورتونو کښې نوع او په یو صورت کښې حدتام واقع کیږي .

## د جنس تعریف :

" هو کلي مقول علیٰ کثیرین مختلفین بالحقائق فی جوابِ ما هو " جنس هغه کلي دې چه دا دَ ما هو په جواب کښې په داسې کثیر افرادو باندې وئیلی کیږي چه دَ هغې حقائق مختلف وي . لکه حیوان جنس دې دَ انسان او دَ فرس وغیره دپاره .

**فوائد قیود:** کلي ، مستدرک دې ، ' مقول ' جنس دې په دې تعمیم دې چه تمامو جزئیاتو او کلیاتو ته شامل دې . ' الکثیرین '

فصلِ اول دې . ددې فائده داده چه په دې سره ترينه جزئيات خارج شول . ' مختلفين بالحقائق ' دويم قيد دې په دې سره ترينه نوع اووتله .

﴿۱﴾...... فصل او " في جواب ما هو " دريم قيد دې په دې سره ﴿۲﴾...... خاصه ﴿۳﴾...... عرضِ عام تهول اووتل . ددې وجې نه فصل او خاصه دَ " اى شيئ هو في ذاته " په جواب کښې راځى او عرضِ عام دَ هيڅ ځيز په جواب کښې نهٔ راځى .

**فائده** : لفظِ کلى ته بعضِ خلق مستدرك وائى او بعضِ ورته غيرِ مستدرك وائى . اولنې فريق وائى چه کلى او مقول علىٰ کثيرين متحد في المعنىٰ دى او په صورت دَ عدمِ استدراك کښې تکرار لازميږى چه امرِ قبيح دې .

او کوم خلق چه يئ مستدرك نهٔ جوړوى هغوى وائى چه کلى مقسم دې او جنس ، نوع ، فصل دا قِسمونه دى او مقسم په خپلو قسمونو کښې معتبر وى . دويم جواب دادې چه تفصيل بعد الاجمال کثير الورود دې لکه " يريد اللهٰ بکم اليسر ولا يريد بکم العسر " دويم مثال " ان الانسان خُلق هلوعًا اذا مسه الشر جزوعًا واذا مسه الخير منوعًا " ځکه چه هلوع اجمال دې او مخکښې تفصيل دې .

سوال : تاسو په تعريفِ هٰذا کښې دوه الفاظ استعمال کړې دى يو کلى او دويم کثيرين . حالانکه کلى خو نوم دې دَ هغه ځيز چه په کثيرينو صادق راځى او دَ کثيرين دَ مجموعې نوم کلى دې نو دا خو تحصيل دَ حاصل شو ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

**جواب** : کلي مقسم دي او دَ مقسم ذکر په تعریف کښې دننه کولې شي . او بل دا چه په کثیرین سره دَ هغه کلیاتو خارج کؤل مقصود دی چه دَ هغې په دنیا کښې صرف یو فرد دې یا دَ هغې دَ جزئیاتو بالکل وجود شته دې نۀ ، لکه دَ سرو زرو غر وغیره .

**سوال** : کثیرین دَ جمعې صیغه ده او جمع کم از کم دَ دریو نه شروع کیږی نو ګویا چه مصنف دا ښودل غواړی کۀ چرې دَ دریو یا دَ دریو نه دَ زیاتو په باره کښې سوال اوکړې شی نو په جواب کښې به وی او کۀ کم وی نو نۀ . حالانکه دا خبره صحیح نۀ ده ځکه چه دَ " الانسان والحیوان ما هما " جواب هم کلي دې . یعنی دَ دوو سوالونو په باره کښې هم سوال کولې شی ؟

**جواب** : دَ منطقی حضراتو جمع دَ مافوق الواحد نه شروع کیږی .

## د جنس اقسام باعتبار تقسیم اول

۱﴿..... جنسِ قریب : چه دَ خپلو جمیع ماتحت افرادو په اعتبار سره تمامِ مشترك وی . یعنی بعضِ هغه افراد دَ کومو په اعتبار سره تمام مشترك دې دَ هغې په یو ځل سوال اوکړی شی نو په جواب کښې به هم دا جنس راځی او کۀ چرې دَ هغه افرادو په یو ځائ سوال اوکړې شی چه دَ هغې په اعتبار سره تمامِ مشترك نۀ وی نو په جواب کښې به هم دا جنس نۀ واقع کیږی بلکه ددې نه علاوه به بل یو جنس واقع کیږی .

ددې دوارو مثالونه :

﴿۱﴾...... جسمِ نامی : دا دَ نباتاتو په اعتبار سره تمام مشترك دې لهذا کهٔ چرې دَ نباتاتو په باره کښې سوال اوکړې شی نو په جواب کښې به جسمِ نامی راځی . مثلًا الانسان والفرس والشجر ما هی " نو په جواب کښې به جسمِ نامی واقع کیږی او کهٔ چرې نباتات ورسره ملاؤ نکړې شی نو بیا به جسمِ نامی نهٔ واقع کیږی مثلًا : الانسان والفرس ما هما " نو په جواب کښې به الحیوان راځی او جسمِ نامی به په جواب کښې نهٔ راځی .

﴿۲﴾...... جسمِ مطلق : دا دَ جماداتو په اعتبار سره تمامِ مشترك دې لهذا کهٔ چرې دَ جماداتو ملاؤولو سره سوال اوکړې شی نو جواب به جسمِ مطلق وی مثلًا : الأنسان والشجر والحجر ما هی ؟ نو په جواب کښې الجسم المطلق راځی او کهٔ چرې جمادات ورسره ملاؤ نکړې شی مثلًا الانسان والشجر ما هما ؟ نو په جواب کښې به الجسم النامی راځی . او دَ " الانسان والفرس ما هما " په جواب کښې به الحیوان راځی .

﴿۳﴾...... جوهر : دا دَ عقولو په اعتبار سره تمامِ مشترك دې لهذا دَ عقولو دَ ملاؤولو سره چه سوال اوکړې شی نو په جواب کښې جوهر راځی مثلًا " الانسان والشجر والعقل ما هی " نو په جواب کښې به الجوهر راځی او کهٔ چرې بغیر دَ عقولو نه سوال اوکړې شی نو په جواب کښې به جوهر نهٔ واقع کیږی مثلًا " الانسان والفرس او الشجر والحجر ما هما ؟ نو په جواب کښې به الحیوان یا الجسم

Maktaba Tul Ishaat.com

النامی یا الجسم المطلق واقع کیږی .

**خلاصه** : دا درې واړه یعنی جسمِ نامی ، جسمِ مطلق او جوهر دَ انسان دپاره جنسِ بعید دی او جسمِ نامی دَ نباتاتو دپاره جنسِ قریب دې او جسمِ مطلق دَ نباتاتو دپاره جنسِ قریب دې او جوهر دَ عقولو دپاره جنسِ قریب دې .

په آسان الفاظو کښی داسې اووایئ کوم چه دَ خپلو مشارکاتو نه دَ هر مشارك په جواب کښی واقع کیږی نو هغه جنسِ قریب دې لکه حیوان .

او کوم چه دَ خپلو مشارکاتو نه دَ هر مشارك په جواب کښی نهٔ واقع کیږی بلکه دَ بعضِ په جواب کښی واقع کیږی او دَ بعضِ نهٔ نو هغه جنسِ بعید دې لکه نامی .

دَ جنس دوه قسمونه دی . ﴿١﴾...... جنسِ قریب ﴿٢﴾...... جنسِ بعید . دَ اجناسو څو اقسام دی . حیوان دَ لاندې درجې جنس دې دې ته اسفل وائی . جسمِ نامی او جسمِ مطلق دَ متوسط درجې جنس دې دې ته جنسِ متوسطه وائی ، او کوم چه دَ تولو نه اعلیٰ دې هغه جوهر دې چه دې ته جنسِ عالی یا جنسِ الاجناس هم وائی .

## د نوع تعریف :

" هو کلی مقول علیٰ کثیرین متفقین بالحقائق فی جواب ما هو . " نوع هغه کلی ذاتی دې چه دَ ما هو په جواب کښی په داسې کثیر افرادو باندې وئیلی کیږی چه دَ هغې حقائق یو شان وی لکه

انسان .

**فوائد وقیود :** کلی مستدرك دي . ' مقول ' جنس دي په دي کښې تعمیم دي چه تمامو کلیاتو او جزئیاتو ته شامل دي . او الکثیرین فصلِ اول دي . ددې فائده داده چه په دې سره ترینه جزئیات اووتل او ' متفقین بالحقائق دویم قید دي چه په دې سره ترینه جنس خارج شو .

او " فی جواب ما هو " دریم قید دي چه په دې سره ترینه باقی کلیات یعنی ﴿۱﴾...... فصل ﴿۲﴾...... خاصه ﴿۳﴾...... عرضِ عام تول اووتل

## د شرکتِ محضه او د شرکت وخصوصیت معنا مطلب

جنس هغه کلی ذاتی دي چه دا دَ ما هو په جواب کښې دَ شرکتِ محضه په اعتبار سره وئیلی شی یعنی کهٔ چرې دَ جنس ډیر افراد رایوځائ کړې شی او دَ په ما هو سره دَ هغې په باره کښې سوال اَوکړې شی نو په جواب کښې جنس واقع کیږی . او کهٔ چرې دَ جنس دَ یو فرد په باره کښې په ما هو سره سوال اوکړې شی نو په جواب کښې به جنس نهٔ واقع کیږی . لکه دَ حیوان دَ ډیرو افرادو مثلًا دَ انسان وفرس وغنم په باره کښې سوال اوکړې شی چه الانسان والغنم والفرس ما هم ؟ نو په جواب کښې به جنس یعنی حیوان واقع کیږی . او کهٔ چرې دَ جنس دَ یو فرد مثلًا دَ فرس په باره کښې په ما هو سره سوال اوکړې شی چه الفرس ما هو ؟ نو په جواب کښې به جنس نهٔ واقع کیږی .

Maktaba Tul Ishaat.com

او نوع هغه کلي ذاتي دې چه دا دَ ماهو په جواب کښې دَ شرکت او دَ خصوصیت دواړو په اعتبار سره اووئیلی شي یعني کله چرې دَ نوعې دَ ډیرو افرادو په باره کښې سوال اوکړې شي په ماهو سره نو په جواب کښې به نوع واقع کیږي او کله چرې دَ نوع دَ یو فرد په باره کښې په ماهو سره سوال اوکړې شي . نو بیا هم په جواب کښې نوع واقع کیږي لکه دَ انسان دَ ډیرو افرادو مثلًا دَ زید عمر او بکر په باره کښې سوال اوکړې شي چه " زید وعمرو وبکر ماهم ؟ نو په جواب کښې انسان واقع کیږي او کله چرې دَ انسان دَ یو فرد په باره کښې په ماهو سره سوال اوکړې شي چه زید ماهو ؟ نو بیا هم به په جواب کښې انسان واقع کیږي .

**سوال** : تاسو وایئ چه نوع دَ خپلو افرادو دَ ماهیت عین وی حالانکه دَ انسان معنیٰ حیوانِ ناطق او ددې دَ افرادو زید عمرو بکر معنیٰ حیوانِ ناطق مع هٰذا التشخص ده " فاین العینیة ؟ "

**جواب** : جواب دادې چه " ماهیة علی قسمین کلی وشخص والمراد هٰهنا الماهیة الکلیة لا الشخصیة فلا اعتراض ."

**د فصل تعریف** : هو کلي یقال علی الشیئ فی جواب ای شیئ هو فی ذاته " فصل هغه کلي ذاتي دې چه دا په یو څیز باندې دَ " ای شیئ هو فی ذاته " په جواب کښې محمول کیږي لکه ناطق دَ انسان دپاره فصل دې .

**فوائد قیود :**

كـلـي مسـتـدرك دي ' مـقول ' جنس دي چه تمامو جزئياتو لره شـامل دي ' اى شئ هو فى ذاتهٖ ' قيد او فصل دي چه په دي سره ترينه باقـي څلور واړه كليات اووتل ځكه چه جنس او نوع دَ ماهو په جواب كښي وئيلي كيږي او حال دادي چه خاصه دَ " اى شئ هو فى عرضهٖ " پـه جـواب كښي وئيلي كيږي او عرضِ عام دَ هيڅ څيز په جواب كښي نۀ واقع كيږي .

**د اى شئ هو فى ذاته مطلب** : اى شئ په اصل كښي وضع كـړې شـوې دي دَ طـلـبِ مـميـز دپاره ليكن كله چه دَ اى شئ سره دَ فى ذاتهٖ قيـد اولـګـولې شى نو بيا مطلوب مميزِ ذاتي وى يعني فصل وى او كـۀ چرې دَ اى شئ سره دَ فـى عـرضـهٖ قيـد اولـګـولې شى نو بيـا مطلوب مميزِ عرضي وى يعني خاصه . نو دَ " الانسان اى شئ هو فى ذاتـهٖ " مـطـلـب بـه دا وى چـه دَ انـسـان څۀ داسې مميزِ ذاتي اوښايه چه هـغـه دۀ لـره پـه جـنـس كـښـي دَ شريك نورو مشاركاتو نه جُدا كړى چه هغه ناطق دي.

**قاعده** : دَ " اى " كـلـمـه هـمـيشـه دپاره مضاف وى او دا هـمـيشـه دپـاره پـه درمـيـان كـښـي واقـع كيږي ددې نه مخكښي چه كوم لـفـظ وى هغه مبتدا وى او ددې نه بعد هميشه دپاره مضاف اليه وى او دا دَ خپـل مـضـاف اليه سره مبتداءِ ثاني واقع كيږي او هو ضميرِ فصل دې او فـى ذاتـهٖ چه ددۀ په آخر كښي ذكر كيږي نو دا دَ مـبـتـداءِ ثاني دپاره خبر ګرځي او دا مبتداء سره دَ خبر نه دَ اول مبتداء دپاره خبر جوړيږي .

Maktaba Tul Ishaat.com

خلاصه دا راؤوتله چه دَ " ای " نه مخکښې به یو څیز وی او یو څیز به تـرے روستـو وی او کـلـه چه سائل په ' ای ' سره سوال کوی نو په هغه وخت کښې به غرض دا وی چه دَ ' ای ' کوم ماقبل دې هغه لره به دَ ای دَ مـدخـول دَ مشارکاتو نه جُدا کؤل مقصود وی . مثلًا کله چه تا دَ لرې نـه یو څیز اولیدو او تا یقین اوکړو چه دا یو حیوان دې لیکن دا معلومه نۀ وه چـه کوم یو حیوان دې نو په دې وخت کښې به تۀ سوال کوې چه " هٰذا ای حیوان " په دې وخت کښې دَ سائل غرض دادې چه دَ ' ای ' نه مـاقبـل یـغـنـی مـتـعین حیوان دَ ' ای ' دَ مدخول حیوان دَ مشارکاتو نه جُدا کـړې شی ، نو اوس به په جواب کښې دا وئیلی شی " هو حیوان ، او فـرس او حـمـار " دا درې واړه دَ حیـوان دَ مشارکاتو نه دی فرس وئیلو سره هغه متعین کړه چه دَ هٰذا نه مراد فرس دې .

**سوال** : مـصـنف تـه څـۀ بـاعـث پـیـښ شـو چـه دَ سابقه عاداتو نه یئ مخالفت اوکړو او دَ مقول په ځائ باندې یئ یقال اووې ؟

**جواب** : ددې نه جواب دادې چه تفنن فی العبارة مقصود دې

**سوال** : دَ علیٰ کثیرین په ځائ باندې دَ علی الشئ وئیلو څۀ وجه ده ؟

**جواب** : چونکه فصل ممیز وی او دَ ممیز دپاره انفراد مناسب دې .

## د جسمِ مطلق ، سطح ، خط او د نقطه تعریف

" مـن لـه طول وعـرض وعـمـق " دَ کوم څیـز دپاره چـه طول وعـرض او عـمـق وی نـو هـغـې تـه جسمِ مطلق وائی او داسې څیز چه دَ هـغـې دپاره طول وعـرض وی مـگـر جوَر والې ورله نۀ وی نو هغې ته

سطح وائی او داسې څیز چه هغې لره طول وی او عرض یعنی پلَنوالې او جوَروالې ورله نۀ وی نو هغې ته خط وائی او دَ کوم څیز دپاره چه نۀ طول وی او نۀ عرض او نۀ عمق نو هغې ته نُقطه وائی ددې تولو مثال اوراقِ کتاب دې دَ ورق (کاغذ) کونه یعنی ګوټ نقطه ده دَ هغې اوږدوالې خط دې او پلَنوالې يې سطح ده او پوره کتاب جسمِ مطلق دې . ځکه چه ددې دپاره طول وعرض او عمق درې واړه شته .

**جوهر** : هغه دې چه هغه بذاتهٖ قائم وی یعنی پخپله قائم وی .

**نتیجه** : دَ لاندې درجې دَ جنس نوم جنسِ قریب دې او دَ جنسِ متوسطه او جنسِ عالی نوم جنسِ بعید دې .

دَ فصل قسمونه : دَ فصل دوه قسمونه دی . ﴿۱﴾ قریب ﴿۲﴾ بعید

**فصلِ قریب** : هغه دې چه خپل ماهیت لره دَ مشارکات فی الجنس القریب نه جُدا کړی . لکه ناطق ماهیتِ انسانی لره دَ جنس قریب یعنی دَ حیوانیت دَ مشارکاتو نه جُدا کړو .

**فصلِ بعید** : هغه دې چه دا خپل ماهیت لره دَ مشارکات فی الجنس البعید نه جُدا کړی لکه حساس ماهیتِ انسانی لره دَ جنسِ بعید یعنی دَ جسم نامی دَ مشارکاتو نه جُدا کړو .

**فائده** : کله چه په یو علم کښې دَ یو څیز تقسیم در تقسیم کوی نو هر قسم چه دَ بل قسم نه په کومه وجه سره امتیاز لری نو هغه فصل دې ، لکه دَ لفظ موضوع دوه قسمونه دی مفرد ومرکب .

Maktaba Tul Ishaat.com

موضوع جنس او مفرد مركب دواړه انواعه دی . دَ مفرد فصل دادې چه ددې جزء دَ معنیٰ په جزء باندې دلالت نهٔ کوی . دَ مرکب فصل دادې چه ددې جزء دَ معنیٰ په جزء باندې دلالت کوی . بیا دَ مفرد او مرکب دَ دواړو اقسام دی ، دا اقسام چه کله نوع ګنړئ نو مفرد مرکب جنس ګرځی دَ مفرد انواع اسم ، فعل او حرف دی . او دَ هر یو دپاره فصل دې مثلًا دَ اسم فصلِ معنیٰ مستقل مطابقی بدون احد الازمنة الثلاثة دې .

بیا دَ اسم انواع مذکر او مؤنث دی . دَ هر یو دپاره فصل وی حفصه لفظِ موضوع مفرد دې او بیا په مفرد کښی اسمِ مؤنث دې ، دَ مونث فصل خو دادې چه ددې په آخر کښی علامتِ تانیث دې . دا فصلِ قریب دې او کهٔ چرې دا فصل یئ بیان کړو چه معنیٰ مستقل بدون احد الازمنة الثلاثة دې نو دا فصلِ بعید دې ځکه چه په دې سره خو ترینه فعل اووتلو مګر مذکر ترے خارج نهٔ شو او کهٔ چرې ددې دپاره فصل دا بیان کړی چه ددې جزء دَ معنیٰ په جزء باندې دلالت نهٔ کوی نو دا فصلِ ابعد دې وعلیٰ هٰذا القیاس .

" واما العرضی فهو اما ان یمتنع انفکاکه عن الماهیة وهو العرض اللازم او لا یمتنع وهو العرض المفارق و کل واحد منهما اما یختص بحقیقة واحدة وهو الخاصة کالضاحك بالقوة او بالفعل للانسان ویرسم بانها کلیة یقال علیٰ ما تحت حقیقة واحدة فقط قولًا عرضیًا واما ان یعم حقائق فوق واحدة وهو

**العرض العام کالمتنفس بالقوة او بالفعل للانسان وغیره من الحیوانات ویرسم بانه کلی یقال علیٰ ماتحت حقائق مختلفة قولًا عرضیًا .“**

**ترجمه** : او لیکن کلی عرضی یا خو به ددۀ دَ ماهیت نه جُدا کؤل ممتنع وی او دا عرضِ لازم دي او یا به ممتنع نۀ وی او دا عرضِ مفارق دي او په دې کښې به یا خو هریو دَ یو حقیقت افرادو پورې خاص وی نو دا خاصه ده لکه ضاحك بالقوة یا ضاحك بالفعل دَ انسان دپاره او ددې تعریف داسې کولې شی چه خاصه هغه کلی (عرضی) دې چه دا صرف دَ یو حقیقت په افرادو وئیلی شی ، په عرضی طور باندې . یا به دَ یو نه زیاتو حقیقتونو ته شامل وی او هغه عرضِ عام دې لکه متنفس بالقوة یا متنفس بالفعل دَ انسان او دَ نورو حیواناتو دپاره او ددې تعریف داسې کولې شی چه عرضِ عام هغه کلی دې چه دا دَ څو حقائقو په افرادو باندې اووئیلی شی ، په عرضی طور باندې .

**تشریح** : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله دَ کلی عرضی اقسام ذکر کوی دَ کلی عرضی دوه قسمونه دی : ﴿۱﴾ ...... خاصه ﴿۲﴾ ...... عرضِ عام .

**وجه حصر** : دَ کلی عرضی دوه صورتونه دی یا به مختص بالحقیقة الواحده وی یا به نۀ وی ، کۀ چرې دَ یو حقیقت پورې خاص وی نو دا خاصه ده او کۀ چرې دَ یو حقیقت پورې خاص نۀ وو بلکه دَ مختلف حقیقت افرادو باندې وئیلی شو نو دا عرضِ عام دې .

Maktaba Tul Ishaat.com

**د خاصه تعريف** : هي كلية تقال على ماتحت حقيقة واحدة فقط قولًا عرضيًا ." هغه خاصه هغه كلي عرضي دي چه دَ يو حقيقت افرادو پورې خاص وي لكه ضاحك بالقوة او ضاحك بالفعل دَ انسان دپاره خاصه ده .

**فوائد قيود** : كلية مستدرك دي 'تقال' جنس دي " حقيقة واحدة ' اولنې فصل دي چه په دې سره ترينه جنس او عرضِ عام اووتل ځكه چه دا دواړه دَ څو حقيقتونو په افرادو باندې وئيلى شي .

او قولًا عرضيًا دويم قيد دي چه په دې سره نوع او فصل اووتل ځكه چه هغه كلي عرضي نۀ دى بلكه ذاتي دى .

**ضاحك بالقوة او ضاحك بالفعل** : په دې دوو مثالونو سره مصنف رحمه الله دَ خاصې تقسيم طرف ته اشاره كوى چه دَ خاصې دوه قسمونه دى ۱﴾..... خاصه شامله ۲﴾..... او خاصه غيرِ شامله .

**خاصه شامله** : خاصه شامله هغه خاصه ده چه هغه ددې شئ تمامو افرادو ته شامل وى لكه ضاحك بالقوة دَ انسان دپاره .

**خاصه غير شامله** : خاصه غيرِ شامله هغه ده چه هغه ددې شئ تمامو افرادو ته شامل نۀ وى لكه ضاحِك بالفعل دَ انسان دپاره .

**د عرض عام تعريف** :

" هو كلى مقول على ما تحت حقائق مختلفة قولًا عرضيًا .

يعنى عرض عام هغه كلي عرضي دې چه دا دَ څو حقائقو په افرادو باندې وئيلى شي . لكه متنفس بالقوة يا متنفس بالفعل دَ انسان او دَ

نورو حیواناتو دپاره ځکه چه ددې افرادو حقائق مختلف دی .

**فوائد قیود** : کلي مستدرك دې ' یقال ' جنس دې حقائق مختلفة اولنې فصل دې چه په دې سره نوع ، فصل او خاصه ټول اووتل ځکه چه دَ دې دَ افرادو حقیقت یو وی ' قولًا عرضیًا ' دویم قید دې چه په دې سره ترینه جنس اووتلو ځکه چه هغه عرضي نهٔ وی بلکه ذاتي وی .

**متنفس بالقوة او متنفس بالفعل** : په دې دوو مثالونو سره مصنف رحمه الله دَ عرضِ عام تقسیم طرف ته اشاره اوکړه چه دَ عرضِ عام هم دوه قسمونه دی . ﴿۱﴾...... عرضِ عام شامله ﴿۲﴾...... عرضِ عام غیرِ شامله .

**عرض عام شامله** : عرضِ عام شامله هغه عرضِ عام دې چه هغه ددې شئ تمامو افرادو ته شامل وی لکه متنفس بالقوة دَ انسان او دَ حیواناتو دپاره .

**عرض عام غیر شامله** : عرضِ عام غیرِ شامله هغه عرضِ عام دې چه دا دَ هغه شئ تمامو افرادو ته شامل نهٔ وی لکه متنفس بالفعل دَ انسان او دَ حیوان دپاره .

بیا په دې کښې دَ هر یو دوه دوه قسمونه دی ، لازم او مفارق . اول ددې تعریفونه اوپیژنئ .

**د عرض تعریف** : " هو الکلي الخارج المقول علی الشئ " یعني عرضي هغه کلي دې چه دَ شئ نه خارج وی او په شئ باندې

Maktaba Tul Ishaat.com

محمول وی .

**عرضِ لازم** : دا هغه عرض دې چه ددۀ دَ ماهیت نه جُدا کول ممتنع وی لکه زوجیت اربعه لره لازم دې .

**عرضِ مفارق** : هغه عرض دې چه ددۀ دَ ماهیت نه جُدا کول ممتنع نۀ وی لکه په مخ باندې دَ غصې په وخت سور والې . اوس دَ لازم او دَ مفارق په تقسیم باندې ځان پوهه کړئ . بیا دَ عرضِ لازم او عرضِ مفارق نه دَ هر یو دوه دوه قسمونه دی . خاصه او عرضِ عام یعنی ټول څلور قسمونه شو . ۱﴾ خاصه لازم ۲﴾ خاصه مفارق ۳﴾ . عرضِ عام لازم ۴﴾ او عرضِ عام مفارق .

**د خاصې تقسیم** : دَ خاصې دوه قسمونه دی ۱﴾ خاصله لازم ۲﴾ خاصه مفارق .

**وجه حصر** : خاصه خو به یا دَ خپلو افرادو او جزئیاتو دَ حقیقت سره همیشه دپاره پیوست وی او یا به په عرضی طور باندې چه کله کله به جُدا کیږی . کۀ چرې همیشه دپاره ورسره پیوست وی نو خاصه لازم ده او کۀ چرې په عارضی طور باندې وی نو خاصه مفارق شوه .

**د خاصه لازم تعریف** : خاصه لازم هغه کلی عرضی دې چه دا دَ خپلو افرادو دَ حقیقت سره همیشه دپاره پیوست وی لکه دَ خندا صلاحیت په انسان کښی همیشه دپاره دې .

**د خاصه مفارق تعریف** : خاصه مفارق هغه کلی دې چه

دا دَ خپلو افرادو دَ حقیقت سره په عارضی طور باندې پیوست وی لکه ضاحِك بالفعل ، چه دا دَ انسان سره په عارضی طور باندې لازم دې ځکه چه انسان خو همیشه دپاره خندا نهٔ کوی بلکه کله خاندی او کله نهٔ .

**د عرضِ عام تقسیم** : دَ عرضِ عام هم دوه قسمونه دی .

۱ ﴾..... عرضِ عام لازم ۲ ﴾..... عرضِ عام مفارق

**وجه حصر** : عرضِ عام به یا خو دَ خپلو افرادو دَ حقیقت سره لازم وی همیشه دپاره ، او یا په عرضی طور باندې ،کهٔ چرې همیشه دپاره ورسره لازم وی او پیوست وی نو دې ته عرضِ عام لازم وائی او کهٔ چرې په عارضی طور باندې وی نو دې ته عرضِ عام مفارق وائی .

**د عرضِ عام لازم تعریف** : دا هغه کلی عرضی دې چه دَ خپلو افرادو دَ حقیقت سره همیشه دپاره لازم او پیوست وی لکه متنفس بالقوة دَ انسان او حیوان دپاره عرضِ عام لازم دې . یعنی دَ ساه اخستو صلاحیت په هر حیوان کښې موجود دې .

**د عرضِ عام مفارق تعریف** : عرضِ عام مفارق هغه کلی عرضی دې چه دا دَ خپلو افرادو دَ حقیقت سره همیشه دپاره لازم نهٔ وی بلکه کله کله جُدا کیږی هم . لکه متنفس بالفعل . انسان او حیوان سره په عارضی طور باندې لازم دې ، ځکه چه کله کله ساه بندولې هم شی .

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ کلي عرضي اولاً دوه قسمونه دی : ﴿۱﴾ لازم ﴿۲﴾ مفارق بيا دویم تقسيم دادې چه دَ کلي عرضي ثانيًا دوه قسمونه دی ﴿۱﴾ خاصه ﴿۲﴾ عرضِ عام .

**فائده** : مونږ دلته کښې دَ مصنف رحمه الله طرز نۀ دې اختيار کړې . ځکه چه دَ هغې په اختيارؤلو سره څو خرابئ لازم راځی ﴿۱﴾ ...... دَ مصنف رحمه الله په طرز باندې به دَ تقسيمِ اول په اعتبار سره کلياتِ خمس دا وی . جنس .نوع . فصل . لازم . مفارق . حالانکه کلياتِ خمسه دادی جنس ، نوع ، فصل ، خاصه ، عرضِ عام . کۀ چرې خاصه او عرضِ عام هم شامل کړې شی نو بيا هم دا خبره لازميږی چه دَ کلياتِ خمس په ځائ باندې کلياتِ سبعه دی او دا هم غلطه ده . ددې وجې نه مونږ دَ مصنف طرز اختيار نکړو .

**د کلیات خمسه وجه حصر** :

کلي به دَ دوو حالو نه خالي نۀ وی دَ خپلو افرادو دَ حقيقت نه به خارج وی او يا به خارج نۀ وی . کۀ چرې دَ خپلو افرادو دَ حقيقت نه خارج نۀ وی نو بيا به دَ دوو حالو نه خالي نۀ وی . دَ ای شئ په جواب کښې به واقع کيږی او يا به دَ " ماهو " په جواب کښې . کۀ چرې دَ ای شئ په جواب کښې واقع کيږی نو دا فصل دې او کۀ چرې دَ ماهو په جواب کښې واقع کيږی نو دا بيا دَ دوو حالو نه خالي نۀ دې يا به دَ شرکتِ محضه په اعتبار سره واقع کيږی او يا به دَ شرکت او خصوصيت دواړو په اعتبار سره .

کـځ چرې دَ شرکتِ محضه په اعتبار سره واقع کیږي نو دا جنس دي او چـه کـوم دَ شرکت او خصوصیت دواړو په اعتبار سره واقع کیږي نو دا نوع شوه .

اوکځ چرې کلي دَ خپلو افرادو دَ حقیقت نه خارج وي نو بیا به دَ دوو حـالـو نـه خالي نۀ وي یا به دَ یو حقیقت دَ افرادو سره خاص وي او یا به دَ مختلف حقائقو په افرادو وئیلی شي . کځ چرې دَ یو حقیقت افرادو پورې خـاص وي نـو دا خاصه شوه او کځ چرې دَ مختلف حقیقتونو په افرادو محمول کیږي نو دا عرضِ عام شو .

## په کلیات خمسه کښې تقدیم وترتیب

جـنـس . نـوع . فـصـل . دا درې واړه يې په خاصـه او عرضِ عام ځـکـه مـقـدم کـړل چـه اولنی درې څیزونه دَ ذاتیاتو نه دي او آخري دوه عـرضـي دي . دا قـاعـده ده چـه ذاتیاتو په عرضیاتو باندې مقدم وي نو ځکه يې پرې اولنی درې مقدم کړل .

بیا يې جنس په نوع باندې ځکه مقدم کړو چه جنس په منزله دَ جزء دې او نـوع پـه منزله دَ کُل . او دا ضابطه ده چه جزء په کُل باندې مـقـدم وي . او بـلـه دا چـه جنس عام دې او نوع خاص او دا هم قاعده ده چـه عـام په خاص باندې مقدم وي ددې وجې نه يې جنس په نوع مقدم کړو .

بیـا یـې نـوع پـه فـصـل باندې ځکه مقدم کړو چه کُل دَ جزء نه بعد وي جنس جزء وو او نوع کُل .

Maktaba Tul Ishaat.com

دویمه وجه دَ تقدیم داده چه نوع او جنس دَ ماهو په جواب کښې واقع کیږي ددې وجې نه یې دواړه یو ځای ذکر کړل .

بیا یې خاصه په عرضِ عام باندې ځکه مقدم کړه چه هغه دَ ای شئ په جواب کښې راځي او عرضِ عام دَ هیڅ څیز په جواب کښې نهٔ واقع کیږي .

**فائده** : دلته کښې درې مقدمات دي :

**اولنئ مقدمه** : داده چه امور په دوه قسمه دي واقعي او اعتباري . واقعي هغه دي چه دَ اعتبارِ معتبر تابع نهٔ وي او اعتباري هغه دي چه هغه دارنګه نهٔ وي .

**دویمه مقدمه** : داده چه دَامورِ اعتباریه مفهوم دادې چه دَ ذهن په ابتداء کښې حاصل شي .

**دریمه مقدمه** : داده چه کوم تعریف په ذاتیاتو باندې مشتمل وي هغې ته حَد او کوم چه په عرضیاتو باندې مشتمل وي هغې ته رسم وائي . او تعریف دَ دواړو په درمیان کښې مشترك دې .

**سوال** : کلیات امورِ اعتباریه دي او ددې مفهوم هغه دې کوم چه مذکور دې او هغه هم ذاتي دي نو مصنف لره دَ " یرسم وترسم " په ځای باندې " یحد وتحد " وئیل پکار وو ؟

**جواب** : کیدې شي چه دا خپله عرض وي او ذاتیات ددې نور وي لیکن دا جواب صحیح نهٔ دې ځکه چه عدمِ علم بالحد دا عدمِ علم بالرسم لره مستلزم نهٔ وي . صحیح جواب دادې چه دلته کښې لفظِ "

مقول، یقال، تقال " عرضی دي او باقی ذاتی دی او کوم چه مرکب وی د ذاتی او عرضی دواړو نه نو هغه عرضی وی.

لیکن مناسب دا وو چه لفظِ تعریف یئ ذکر کړي وي نو دواړو ته به شامل وو.

**فائده** : تعریف بالذاتیات ته حد وئیلی شی او تعریف بالعوارض ته رسم وائی. اوس سوال دا واردیږی چه مصنف دَ کلیاتِ خمسه دَ تعریف دپاره دَ رسم لفظ ذکر کړو، دَ حد لفظ یئ ولې اونهٔ ووې ؟

**جواب** : دَ مصنف رحمه الله په خیال کښی دا وو چه دَ کلیاتِ خمسه په تعریف کښی ما کوم مفهومات ذکر کړل ممکنه ده چه دا مفهومات ددې کلیاتو ذاتیات نهٔ وی بلکه عوارض وی او تعریف بالعوارض رسم وی. ددې وجې نهٔ مصنف رحمه الله دَ رسم لفظ ذکر کړو او دَ حد یئ ذکر نکړو.

" القول الشارح الحد قول دال علیٰ ماهیة الشئ وهو الذی یترکب عن جنس الشئ وفصله القریبین کالحیوان الناطق بالنسبة الی الانسان وهو الحد التام والحد الناقص وهو الذی یترکب من جنس البعید وفصله القریب کالجسم الناطق بالنسبة الی الانسان والرسم التام وهو الذی یترکب من الجنس القریب للشئ وخاصته اللازم کالحیوان الضاحك فی تعریف الانسان

Maktaba Tul Ishaat.com

**والرسم الناقص ما يتركب عن عرضيات تختص جملتها بحقيقة واحدة كقولنا في تعريف الانسان انه ماش علىٰ قدميه عرض الاظفار بادى البشرة المستقيم القامة ضاحك بالتبع . "**

**ترجمه** : قولِ شارح هغه حدِ تام دې چه دلالت کوی دَ څیز په ما هیت باندې او دا یا مرکب کیږی ددې څیز دَ جنس قریب او فصلِ قریب نه لکه حیوان ناطق شو په نسبت سره انسان ته او دا حدِ تام دې او حدِ ناقص هغه دې کوم چه مرکب وی ددې څیز دَ جنسِ بعید او فصلِ قریب نه لکه جسمِ ناطق شو په نسبت سره انسان ته . او رسمِ تام هغه دې چه هغه مرکب وی ددې څیز دَ جنسِ قریب او دَ خاصه لازمه نه لکه حیوانِ ضاحك دَ انسان په تعریف کښی او رسمِ ناقص هغه دې چه هغه مرکب وی دداسې عرضیاتو نه چه دَ هغې مجموعه دَ یو حقیقت سره خاص وی لکه زمونږ دا قول شو دَ انسان په تعریف کښی " بیشکه په خپلو خپو تلونکې دې ، پلنو نوکانو والا ، ظاهری څرمن والا ، سیدها قامت والا او په طبعی طور باندې خندلو والا . "

# القول الشارح

**ترکیب** : القول الشارح مرفوع بالضمه لفظًا مبتداء چه ددې خبر هٰذا محذوف دې یا دا خبر دې او هٰذا یئ مبتداء محذوف ده .

**تشریح** : دَ علم دوه قسمونه دی تصور او تصدیق . په تصوراتو کښی قول شارح مقصود دې او په تصدیقاتو کښی حجت

مقصود دي . په دې عبارت سره مصنف رحمه الله دَ تصوراتو دَ مبادی نه بعد مقاصدِ تصورات چه قولِ شارح دي ددې بیان کوی .

**فائده** : صرف منطق یو داسې علم دې چه په دې کښې دَ تعریف تعریف او ددې اقسام وشرائط بیانیږی په باقی علومو کښې نهٔ، په هغې کښې دَ اشیاء او دَ الفاظو تعریف کولې شی .

مصنف دلته کښې درې څیزونه بیانوی ۱﴾...... دَ قولِ شارح تعریف ۲﴾...... دَ تعریف شرائط . یعنی دَ کوم څیز دَ تعریف کؤلو دپاره دَ کومو کومو شرائطو ضرورت وی . ۳﴾...... دَ تعریف اقسام .

**د تعریف تعریف** : دَ قولِ شارح تعریف . داسې مرکب کلام ته وائی چه په دې سره دَ معرف حقیقت واضح شی . لکه " الکلمة لفظ وضع لمعنیٰ مفرد " په دې سره دَ کلمې حقیقت واضح شو او کهولاؤ شو . په تعریف سره په دوو څیزونو کښې یو څیز معلومیږی ۱﴾...... اطلاع علی الذاتیات . ۲﴾...... امتیاز عن جمع ما عداه . اوس به دَ تعریف حاصل دا وی چه قولِ شارح داسې مرکب کلام ته وائی چه په دې سره دَ معرّف حقیقت کهولاؤ شی چه په دې سره دَ هغه ذاتیات معلوم شی یا کم ازکم چه هغه معرّف دَ خپل جمیع اغیارو نه جُدا شی

**فائده** : چرته چه اطلاع علی الذاتیات وی نو هلته کښې امتیاز عن جمیع ما عدا " هم ضرور وی لیکن برعکس داسې نهٔ ده . لکه دَ انسان تعریف په حیوانِ ناطق سره . په دې سره دَ انسان ذاتیات

Maktaba Tul Ishaat.com

معلوم شول او دَ خپل جمیع ما عدا نه هم جُدا شو .

**د قول شارح وجه تسمیه** : قولِ شارح ته قولِ شارح ځکه وائی چه دَ قول معنیٰ ده مرکب ، او دا هم دَ دوو کلیانو نه مرکب وی دَدې وجې نه ورته قول وائی . او شارح ورته ځکه وائی چه دَ شارح معنیٰ ده وضاحت کولو والا . نو په دې سره دَ معرف وضاحت کیږی ځکه ورته شارح وائی .

**فائده** : دَ تعریف پنځه نومونه دی ۱﴾...... قولِ شارح ۲﴾...... تعریف ۳﴾...... معرِّف ۴﴾...... حد ۵﴾...... رسم . او دَ معرَّف هم پنځهٔ نومونه دی ۱﴾...... مقول علیه الشارح ۲﴾...... معرَف ۳﴾...... ذوتعریف ۴﴾...... محدود ۵﴾...... مرسوم .

بیا ددې دوه قسمونه دی ۱﴾...... حد ۲﴾...... رسم . په دې باندې دَ پوهیدو نه مخکښې ځان په یوه فائده پوهه کړئ

**فائده** : منطقی حضرات چه کله دَ یو څیز تعریف کوی نو په کلیاتو سره کوی په جزئیاتو سره نهٔ . او بیا په کلیاتو کښې هم کلیاتِ خمسه سره تعریف کوی او بیا کله په ذاتیاتو سره او کله په عرضیاتو سره .

کهٔ دَ یو څیز تعریف په کلیاتِ ذاتیات سره اوکړې شی نو هغې ته حَد وائی او کهٔ چرې په عرضیاتو سره اوکړې شی نو رسم ورته وائی

**د حد تعریف** : حد هغه قول دې چه دا دَ یو څیز په ماهیت باندې دلالت کوی یعنی تعریف بالذاتیات ته حد وائی .

**د رسم تعریف :** رسم هغه قول دې چه دَ یو څیز په لازم باندې دلالت کوی یعنی تعریف بالعوارض ته رسم وائی .

## د تعریف اقسام

په حد او رسم کښې دَ هر یو دوه دوه قسمونه دی نو دارنګه دَ قولِ شارح څلور قسمونه شول . ﴿۱﴾...... حدِ تام ﴿۲﴾...... حدِ ناقص ﴿۳﴾...... رسمِ تام ﴿۴﴾...... رسم ناقص .

**وجه حصر :** تعریف به په ذاتیاتو سره کولې شی او یا په عرضیاتو سره ، کهٔ چرې په ذاتیاتو سره اوکړې شی نو دا حد دې او کهٔ چرې په عرضیاتو سره اوکړې شی نو دا رسم دې . بیا کهٔ چرې په ذاتیاتو سره مکمل تعریف وی نو هغې ته حدِ تام وئیلی شی او کهٔ چرې په ذاتیاتو سره مکمل تعریف نهٔ وی بلکه څهٔ کمی پاتې شی نو دې ته حدِ ناقص وائی . او کهٔ چرې په عرضیاتو سره مکمل تعریف کړل وی نو رسمِ تام وائی او کهٔ چرې مکمل تعریف نهٔ وی بلکه څهٔ کمی پکښې وی نو رسمِ ناقص ورته وائی .

**فائده :** منطقی خلق وائی چه تهٔ دَ یو څیز کوم تعریف هم کوې نو په هر یو څیز کښې به دننه پنځهٔ کلیات ضرور وی نوع به جم وی فصل به هم وی ، دَ هغې جنس به هم وی او خاصه به یئ هم وی او عام به یئ هم وی لکه انسان دې نو په دهٔ کښې دننه پنځهٔ کلیات موجود دی .

**فائده :** تعریف چه کله هم دَ یو څیز کولو شی ,و هغه به په

Maktaba Tul Ishaat.com

دې کلیاتِ خمسه سره کولې شی ، دَ بهر نه به څهٔ څیز نهٔ شی راؤړلې .

**فائده** : دَ کلیاتِ خمسه نه به عرضِ عام په تعریف کښی نهٔ شی ذکر کولې ، او باقی څلور کلیات به ذکر کیږی .

**فائده** : عرضِ عام به په تعریف کښی ځکه نهٔ شی ذکر کولې چه په دې سره دَ تعریف کوم مقصود دې یعنی امتیاز عن جمیع ما عدا ، نو هغه په دې سره نهٔ حاصلیږی .

**فائده** : باقی څلور کلیاتو کښی نوع خو معرّف واقع کیږی او باقی درې په تعریفاتو کښی واقع کیږی .

**فائده** : په تعریف کښی دَ دوو کلیاتو نه دَ یو کیدل ضروری

۱﴾...... فصل ۲﴾...... خاصه .

ځکه چه په دې دوو کلیاتو سره امتیاز عن جمیع ماعدا حاصلیږی .

فائده : کهٔ چرې په تعریف کښی فصل موجود وی نو دَ هغې نوم ' حَد ' دې او کهٔ چرې خاصه وی نو دَ هغې نوم دې ' رسم ' کله چه په هر تعریف کښی فصل موجود دې نو ددې سره به جنسِ قریب ملاوه وو نو کله چه دَ هر تعریف فصلِ قریب او جنسِ قریب یو ځائ شی نو دَ هغې نوم دې حدِ تام او کله چه دَ فصلِ قریب سره هیڅ څیز ملاؤ نکړې شی یا ورسره جنسِ بعید یو ځائ کړې شی نو دَ هغې نوم دې حدِ ناقص . او په دې پنځو کلیاتو کښی چه خاصه او ددې سره دَ هم دې معرّف جنسِ قریب ملاؤ کړې شی نو هغې ته رسمِ تام وائی او

کۀ چرې صرف خاصه ذکر کړې شي یا ورسره جنسِ بعید ملاؤ کړې شي نو دې ته رسمِ ناقص وائی .

**حد تام :** هغه دې چه دا دَ معرف دَ جنسِ قریب او فصلِ قریب نه مرکب وی . لکه حیوان ناطق دَ انسان دپاره حد تام دې .

**حد ناقص :** هغه دې چه دا دَ معرف دَ جنسِ بعید او دَ فصلِ قریب نه مرکب وی یا صرف دَ فصلِ قریب نه وی لکه جسمِ ناطق یا صرف ناطق . دَ انسان حدِ ناقص دې .

**رسمِ تام :** هغه دې چه دَ جنسِ قریب او دَ خاصې نه مرکب وی لکه حیوان ضاحِك دَ انسان دپاره رسمِ تام دې .

**رسم ناقص :** هغه دې چه دا دَ جنسِ بعید او دَ خاصه نه مرکب وی یا صرف دَ خاصه نه لکه جسمِ ضاحك یا صرف ضاحك دَ انسان دپاره رسمِ ناقص دې .

**د حد تام وجه تسمیه :** حدِ تام ته حدِ تام ددې وجې نه وئیلی کیږی چه دَ حد معنیٰ ده " المنع " یعنی منع کول . او دا تعریف هم په ذاتیاتو باندې دَ مشتمل کیدو دَ وجې نه دَ دخولِ غیر نه مانع وی . ځکه ورته حد وائی ، او تام ورته ددې وجې نه وائی چه دا تعریف په تمام ذاتیاتو باندې مشتمل وی ځکه ورته تام وائی .

**د حد ناقص وجه تسمیه :** حدِ ناقص ته حدِ ناقص ددې وجې نه وائی چه دَ حد معنیٰ ده منع کول ، دا تعریف هم په ذاتیاتو باندې دَ مشتمل کیدو دَ وجې نه دَ دخول غیر نه مانع گرځی . ددې

Maktaba Tul Ishaat.com

وجې نه ورته حد وائی او ناقص ورته ددې وجې نه وائی چه دا تعریف په بعضِ ذاتیاتو باندې مشتمل وی .

**رسم تام وناقص وجه تسمیه** : رسمِ تام ته رسمِ تام ددې وجې نه وائی چه دَ رسم معنیٰ ده اثر او خاصه هم اثر وی او دا تعریف بالخاصه دې گویا چه تعریف بالاثر دې . او تام ورته ددې وجې نه وائی چه دا دَ حدِ تام مشابه دې دَ جنسِ قریب په موندلې کیدو کښې او ناقص ته ناقص ددې وجې نه وائی چه دې دَ حدِ ناقص مشابه دې دَ جنس قریب په نۀ کیدو کښې .

## دَ تعریف شرائط

**اولنې شرط** : اول شرط دادې چه تعریف به دَ معرف برابر وی په اعتبار دَ صدق ، یعنی چرته کښې چه معرف رښتونی راځی نو هلته کښې به تعریف هم رښتونی واقع کیږی او ددې برعکس به هم وی . داسې تعریف جامع او مانع وی ، دَ جامع کیدو مطلب دادې چه خپل تمام افراد به ځان کښې راجمع کوی هیڅ یو فرد ترینه بهر کیدې نۀ شی او دَ مانع کیدو مطلب دادې چه دَ خپلو افرادو نه علاوه نور افراد په ځان کښې نۀ پرېږدی یعنی جامع لجمیع الافراد او مانع عن دخول الاغیار وی .

**دویم شرط** : تعریف به دَ معرف نه اجلیٰ او زیات واضح وی په اعتبار دَ مفهوم . کۀ چرې تعریف دَ معرف نه اعرف او اجلیٰ نۀ وی نو دداسې تعریف هیڅ فائده نۀ وی . لکه چه څوك دَ حرکت دَ تعریف

په باره کښې پوښتنه اوکړي او دَ هغه په جواب کښې اووئيلې شي چه دا دَ سکون ضِد دې نو دا تعريف بے کاره دې ځکه کۀ چرې هغه ته دَ سکون علم وې نو هغه ته خو به دَ حرکت دَ تپوس کؤلو ضرورت نۀ وو. دَ تعريف مزيد شرائط په شرح التهذيب يا بدرُ النجوم شرح سلم العلوم کښې اوګورئ.

**فائده**: دَ رسم ناقص صاحبِ ایساغوجی یو دریم تعریف هم ذکر کړې دې. او مناطقه حضراتو صرف دوه تعريفونه ذکر کړې دی. چه ددې حاصل دادې چه په تعريف کښې څو داسې عرضِ عام ذکر کړې شي چه دَ هغې مجموعه ددې شئ سره خاص وی یعنی خاصه اوګرځی. ددې حکم به خاصې والا وی، لهٰذا دا به ددې شئ دپاره رسمِ ناقص وی. دَ ایساغوجی نه هم دا تعریف معلومیږی. لکه " په خپلو قدمونو باندې تلونکې، پلنو نوکانو والا، ظاهری څرمن والا، سید ها قامت والا او په طبعی طور باندې خنديدلو والا " دَ انسان رسمِ ناقص دې.

یاد ساتئ دا تعریف بالعرض العام نۀ دې بلکه تعریف بالخاصة المرکبه دې.

**فائده**: منطقی خلق وائی چه دَ هر یو څیز دَ تپوس کؤلو دپاره یو ترتیب وی. کله چه دَ یو څیز دَ تحقیق دپاره سوال کولې شی نو دَ ټولو نه مخکښې به تۀ دَ تعریفِ لفظی پوښتنه کوې او په دویم نمبر کښې به دا تحقیق کوې چه آیا دا څیز موجود دې یا نۀ. په دریم

Maktaba Tul Ishaat.com

نمبر کښې به دَ تعریفِ حقیقی په باره کښې سوال کوې او په څلورم نمبر کښې به دَ هغې نښانی ، خاصه او صفات معلومه وې .

دَ تعریفِ لفظی دَ سوال کؤلو دپاره لفظِ " ما " دې چه دې ته ما شارح وائی او په دویم نمبر کښې دَ هغه څیز دَ موجود کیدو یا نهٔ موجودُ کیدو په باره کښې دَ سوال دپاره حرفِ هَل دې چه دې ته هلِ بسیطه وائی .

په دریم نمبر کښې دَ تعریفِ حقیقی دَ تپوس کؤلو دپاره لفظِ " ما ' دې چه دې ته ما حقیقیه وائی او په څلورم نمبر کښې دَ صفاتو دَ تپوس کؤلو دپاره حرفِ هل دې چه دې ته هلِ مرکبه وائی .

په دې باره کښې دَ عربئ یوه مقوله مشهوره ده . " الهل بین الـمائین و الماء بین الهلین " یعنی هل بسیطه دَ دوو " ما " په درمیان کښې دې یعنی دَ ما شارحه او ما حقیقیه په درمیان کښې . او ما حقیقةً دَ دوو " هل " په درمیان کښې دې یعنی دَ هلِ بسیطه او هلِ مرکبه په درمیان کښې .

★ ...... ★ ...... ★ ...... ★ ...... ★ ...... ★ ...... ★ ...... ★

★ ...... ★ ...... ★ ...... ★ ...... ★ ...... ★

★ ...... ★ ...... ★ ...... ★ ...... ★

★ ...... ★ ...... ★

★ ...... ★

★

## التصديقات

قولِ شارح ﴿۱﴾ ...... دَ منطقي حضراتو مقصود دوه ځيزونه دی .

﴿۲﴾ ...... دليـل وحجت . مصنف رحمه الله دَ اولنی ځيز دَ فراغت نه بعد دويم مقصود يعنی دليل وحجت بيانوی .

**سوال** : دويـم مـقـصـد دليـل وحـجـت دې ، ددې بيـانول پکار دی نو مصنف رحمه الله دَ قضايا بيان ولې شروع کړو ؟

**جواب** : مـقـصدِ ثانی خو دليل وحجت دې مگر ددې پيژندل مـوقـوف وو دَ عـکسِ مستوی په پيژندلو باندې ، او هغه موقوف وو دَ تـناقـض پـه پيژندلو ، او بيا ددې پيژندل موقوف وو په قضايا باندې نو ځکه اول مصنف رحمه الله دَ قضايا بحث کوی ، او بيا دَ تناقض او بيا دَ عـکسِ مستـوی او بيـا ددې نـه بـعـد بـه مـقـصدِ ثانی ( دليـل وحجت ) بيانوی .

## القضايا

**" القضايا ، القضية هی قول يصح ان يقال لقائله انه صادق فيه او كاذب وهی اما حملية كقولنا زيد كاتب واما شرطية متصلة كقولنا ان كانت الشمس طالعة فالنهار موجود واما شرطية منفصلة كقولنا العدد اما ان يكون زوجًا او فردًا فالجزء الاول من الحملية يسمیٰ موضوعًا والثانی محمولًا والجزء الاول من**

Maktaba Tul Ishaat.com

**الشرطية يسمىٰ مقدمًا والثانی تاليًا والقضية اما موجبة كقولنا زيد كاتب واما سالبة كقولنا زيد ليس بكاتب وكل واحد منهما اما مخصوصة كما ذكرنا واما كلية مسورة كقولنا كل انسان كاتب ولا شئ من الانسان بكاتب واما جزئية مسورة كقولنا بعض الانسان كاتب واما مهملة كقولنا الانسان كاتب . "**

**ترجمه** : ...... القضايا ، قضيه هغه قولِ مرکب دې چه ددې ویونکی ته رښتونی یا دروغ وئیلی شی او دا به یا حملیه وی لکه زمونږ دا قول شو زید کاتب دې او یا به شرطیه متصله وی لکه زمونږ دا قول شو " کۀ چرې نمر راؤوختلو نو ورځ به موجود وی یا به شرطیه منفصله وی لکه زمونږ دا قول " دا عدد به یا جفت وی او یا طاق " بس دَ حملیه جزءِ اول ته به موضوع او جزءِ ثانی ته به محمول وائی او دَ قضیه شرطیه جزءِ اول ته مقدم او جزءِ ثانی ته به تالی وائی . او قضیه ، یا به موجبه وی لکه زمونږ دا قول زید کاتب دې یا به سالبه وی لکه زمونږ دا قول زید کاتب نۀ دې ، او بیا به هر یو په دوی کښی یا مخصوصه وی لکه څنګه چه مونږ ذکر اوکړو یا به کلیه مسوره وی لکه زمونږ دا قول بعضِ انسانان کاتب دی . " او یا به مهمله وی لکه زمونږ دا قول " انسان کاتب دې . "

**ترکیب** : القضایا خبر دې دَ مبتداءِ محذوف په اصل کښی دارنګه وو " هٰذا بحث القضایا "

**تشریح** : په دې عبارت سره دَ مصنف رحمه الله غرض د قضیه تعریف او دَ هغې اقسام بیانول دی . ' القضایا ' جمع دَ قضیة ده په معنیٰ دَ " حکم کړې شوی " .

**د قضیه تعریف** : دَ قضیه هم هغه تعریف دې کوم چه دَ جملې خبریه دې . دا هغه قولِ مرکب دې چه ددې ویونکی ته دروغژن یا رښتونی وئیلی شی .

یاد ساتئ چه صدق وکذب دَ کلام او متکلم دواړو صفت جوړیدې شی .

**فوائد قیود** : په تعریف کښې لفظِ قول په منزله دَ جنس دې دا تمام مرکباتِ ناقصه او تامه او انشائیاتو ته شامل دې . ' یصح ان یقال ' فصل دې په دې سره ترینه مرکباتِ ناقصه او مرکباتِ انشائیه خارج شول .

﴿۲﴾...... مرکب تام قصد به الحکایة عن الواقع " قضیه هغه ده چه په دې سره دَ څۀ واقعې حکایت مقصود وی .

بیا قضیه په دوه قسمه ده . یا به ملفوظ وی او دَ ملفوظ په تعریف کښې به قول هم ملفوظ وی نو دلته کښې اختلاف دې چه دَ ملفوظه او معقوله په درمیان کښې مشترك دې او اکثر وائی چه په معقوله کښې حقیقت او په ملفوظه کښې مجاز دې او په قول کښې اختلاف دې بعضِ وائی چه په ملفوظه کښې حقیقت او په معقوله کښې مجاز دې ، لیکن په دې دواړو مذاهبو کښې حقیقت او مجاز والا

Maktaba Tul Ishaat.com

مذهب صحيح دي ځکه چه قاعده ده " اللفظ اذا دار بين الحقيقة والمجاز والاشتراك فحمل الحقية والمجاز اولیٰ من الاشتراك "

**سوال** : ستاسو په تعريف کښې " قول يحتمل الصدق والکذب " جامع نۀ دي ځکه چه ډير زيات قضايا دی چه په هغې کښی صرف او صرف صدق دي ، کذب ( دروغ ) په کښی بالکل نۀ وی . لکه الله احد ، السماء فوقنا ، الارض تحتنا " په دي باندي نۀ صادقيږی ځکه چه دا صرف صدق دي او داسې ډير زيات قضايا دی چه په هغې کښی صرف کذب وی لکه السماء تحتنا ، الارض فوقنا " وغيره ؟

**جواب** : دلته کښی واؤ په معنیٰ دَ " او " سره دي يعنی چه په دي کښی دَ صدق يا دَ کذب احتمال وی . مګر دا صحيح جواب نۀ دي ځکه چه لفظِ احتمال ددي منافی دي .

صحيح جواب دادي چه په دي کښی دَ صدق وکذب احتمال وی قطع نظر دَ امورِ خارجيه نه .

يعنی په نفسِ کلام کښی دَ رښتياؤ او دروغو دواړو احتمال وی بغير دَ دلائلِ خارجيه نه . کۀ چري دَ دلائلِ خارجيه په وجه سره ددي رښتيا ثابت شی نو دا به زمونږ دَ تعريف خلاف نۀ وی .

" والحق هو التعريف الثانی "

**سوال** : يقال دَ قول نه مشتق دي او کۀ چري ددي صله لام وی نو دَ خطاب په معنیٰ کښی وی نو مصنف رحمه الله لره پکار وو چه دَ " انه " نه ځائ باندي يی انك صادق وئيلی وو . يا يی " فيه " حذف کړي

وې او دَ "انه" ضمیریئ قول طرف ته راجع کړې وې ؟

**جواب**: دا لام دَ قول صِله نۀ ده بلکه په معنیٰ دَ عن یا په معنیٰ دَ فیه سره دې یعنی ددې قول دَ قائل دَ جانب نه یا ددۀ په حق کښې اووئیلی شی ۰

## اقسامِ قضیه

دَ قضیه دوه قسمونه دی ۱﴿...... حملیه ۲﴿...... شرطیه ، بیا دَ حملیه پنځۀ اقسام دی ۱﴿...... مخصوصه ۲﴿...... طبعیه ۳﴿...... محصوره کلیه ۴﴿...... محصوره جزئیه ۵﴿...... مهمله .

دَ قضیه شرطیه دوه قسمونه دی ۱﴿...... متصله ۲﴿...... منفصله ، بیا دَ متصله دوه قسمونه دي ۱﴿...... لزومیه ۲﴿...... اتفاقیه بیا دَ منفصله دوه قسمونه دی ۱﴿...... عنادیه ۲﴿...... اتفاقیه . بیا منفصله برابره خبره ده کۀ عنادیه وی یا اتفاقیه ددې دری **قسمونه دی** ۱﴿...... حقیقیه ۲﴿...... مانعة الجمع ۳﴿...... مانعة الخلو دَ قضیه دوه قسمونه دی ۱﴿...... حملیه ۲﴿...... شرطیه .

**قضیه حملیه**: دا هغه قضیه ده چه دا دَ دوو مفردو نه مرکبه وی لکه زید قائم . یا دَ یو مفرد او یو مرکب نه جوړ شوی شوی او په دې کښې یو څیز دَ بل دپاره ثابت کړې شوې وی یا دَ یو څیز نه دَ بل څیز نفی شوې وی .

## د قضیه حملیه تقسیمِ اولیٰ په اعتبار د نسبت

دَ قضیه حملیه دوه قسمونه دی ۱﴿...... موجبه ۲﴿...... سالبه .

Maktaba Tul Ishaat.com

کۀ چرې يو څيز دَ بل څيز دپاره ثابت کړې شوی وی نو دې ته موجبه وائی لکه زید قائم او کۀ چرې نفی کړې شوی وی نو سالبه ورته وائی لکه " زید لیس بقائم "

دَ قضیه حملیه جزءِ اول ته موضوع او جزءِ ثانی ته محمول وائی . دَ موضوع او دَ محمول په درمیان کښې یو نسبت وی ، په دغه نسبت چه کوم يو لفظ دلالت کوی هغې ته رابطه وائی .

**رابطه** : دې ته نسبتِ حکمیه هم وائی دا دَ موضوع او دَ محمول په درمیان کښې ربط پیدا کوی ، کۀ چرې دَ موضوع ومحمول سره رابطه مذکور وی نو دې قضیه ته ثلاثیه وائی او کۀ چرې مذکور نۀ وی بلکه محذوف وی نو بیا ورته ثنائیه وائی .

**فائده** : دا رابطه په عربی جملو کښې اکثر محذوف وی لکه دَ زید هو قائم په ځائ باندې زید قائم وئیلی شی .

**فائده** : دَ قضیه حملیه دَ اثبات درې طریقې دی :

**اولنۍ طریقه** : اوله طریقه داده کۀ چرې دَ يو څيز ثبوت وی نو دَ دویم څيز دپاره یا دَ يو څيز به سلب وی .

**دویمه طریقه** : کۀ چرې دَ قضیه دواړه جانبین بالفعل یا بالقوة مفرد وی نو حملیه به وی او کۀ داسې نۀ وی نو شرطیه .

**دریمه طریقه** : دَ قضیه په انحلال سره کۀ چرې منحل الی مفردین وی نو حملیه او کۀ داسې نۀ وی نو شرطیه .

**د موضوع وجه تسمیه** : موضوع ته موضوع ددې وجې نه وائی

چه دَ موضوع معنیٰ ده " ایخودل " او دا هم په خپل ځایٔ باندې ایخودې شی نو ځکه ورته موضوع وائی .

**د محمول وجه تسمیه** : محمول ته محمول ددې وجې نه وائی چه دَ محمول معنیٰ ده " بار کړې شوې " نو دا هم په موضوع باندې بار کولې شی نو ځکه ورته محمول وائی .

**﴿ وکل واحد منهما اما مخصوصة ﴾** : په دې عبارت کښې دَ قضیه حملیه دَ تقسیمِ ثانی بیان دې ، په اعتبار دَ موضوع .

دَ قضیه حملیه په اعتبار دَ موضوع پنځهٔ قسمونه دی

۱﴾...... مخصوصه ۲﴾...... طبعیه ۳﴾...... محصوریه کلیه

۴﴾...... محصوره جزئیه ۵﴾...... مهمله .

**وجه حصر** : قضیه حملیه دَ دوو حالو نه خالی نۀ ده ، ددې موضوع به یا شخصِ معین وی او یا به کلی وی . کۀ چرې موضوع یۓ شخصِ معین وه نو قضیه شخصیه شوه .

او کۀ چرې موضوع کلی وو نو بیا به دَ دوو حالو نه خالی نۀ وی حکم دَ کلی به په طبیعت باندې وی او یا به افرادو باندې ، کۀ چرې حکم دَ کلی په طبیعت باندې وو نو قضیه طبعیه شوه او کۀ چرې حکم دَ کلی په افرادو باندې وو نو بیا به دَ دوو حالتونو نه خالی نۀ وی دَ افرادو شمیر به بیان کړې شوې وی او یا نۀ . کۀ چرې دَ افرادو شمیر بیان کړې شوې نۀ وو نو دا قضیه مهمله شوه او کۀ چرې دَ افرادو شمیر او تعداد بیان کړې شوې وو نو دا قضیه محصوره مسوره شوه . او بیا به

Maktaba Tul Ishaat.com

په قضیه محصوره کښې حکم په تمام افرادو باندې وی یا په بعضو باندې . کۀ چرې حکم په تمام افرادو باندې وو نو محصوره کلیه شوه او کۀ چرې حکم په بعضِ افرادو باندې وو نو دې ته محصوره جزئیه وائی .

بیا په دې پنځو قسمونو کښې دَ هر یو دوه دوه قسمونه دی ﴿۱﴾..... موجبه ﴿۲﴾..... سالبه اوس دَ قضیه حملیه په اعتبار دَ موضوع سره لَس قسمونه شول .

۱..... **قضیه مخصوصه** : دا هغه قضیه حملیه ده چه ددې موضوع شخصِ معین وی لکه " زید ولاړ دې . "

۲. **قضیه طبعیه** : دا هغه قضیه حملیه ده چه ددې موضوع کلی وی او حکم دَ کلی په طبیعت باندې وی لکه " هر انسان ساه لرونکې دې . "

۳. **قضیه مهمله** : دا هغه قضیه حملیه ده چه ددې موضوع کلی وی او حکم دَ کلی په افرادو باندې وی لیکن دَ افرادو کمیت نۀ وی بیان کړې شوی . لکه " انسان جاندار دې "

٤. **قضیه محصوره کلیه** : دا هغه قضیه حملیه ده چه ددې موضوع کلی وی او حکم دَ کلی په تمام افرادو باندې وی لکه " هر انسان ساه لرونکې دې " .

۵. **قضیه محصوره جزئیه** : دا هغه قضیه حملیه ده چه ددې موضوع کلی وی او حکم دَ کلی په بعضِ افرادو باندې وی . لکه " بعضِ حیوان انسانان دی . "

**سوال** : مصنف رحمه الله دَ قضیه حملیه درې اقسام بیان کړې دی او دَ قضیه طبعیه والا قسم یې ولې نهٔ دی بیان کړې ؟

**جواب** : قضیه طبعیه یې ځکه نهٔ دې بیان کړې چه قضیه طبعیه په علوم او نتیجه ورکؤلو کښې معتبر نهٔ ده .

## وجه تسمیه

۱﴾...... شخصیه : ددې معنیٰ ده " شخص والا " یاء پکښې دپاره دَ نسبت ده ، او حکم په معین شخص باندې کیږی نو ځکه ورته شخصیه وائی .

۲﴾...... طبعیه : په معنیٰ دَ " طبیعت والا " چونکه په دې قضیه کښې حکم په ماهیت او طبیعت باندې کیږی نو ځکه ورته طبعیه وائی .

۳﴾...... محصوره : ( ګیر کړې شوې ) دا دَ موضوع په تمام افرادو باندې حکم کوی ګویا چه افراد په ګیرا کښې راوَلی .

مسوره : ( احاطه کړې شوی ) دا هم دَ افرادو مقدار بیانوی ګویا چه په افرادو یې احاطه کړې ده .

۴﴾...... مهمله : ( پریخودلې شوی ) په دې کښې هم دَ افرادو مقدار پریخودې شی .

Maktaba Tul Ishaat.com

| قضيه نوم | | مثالونه |
|---|---|---|
| ١﴿ قضيه حمليه شخصيه موجبه | | زيد كاتب |
| ٢﴿ قضيه حمليه شخصيه سالبه | | زيد ليس بكاتب |
| ٣﴿ قضيه حمليه طبعيه موجبه | | الانسان نوع |
| ۴﴿ قضيه حمليه طبعيه سالبه | | الانسان بنوع |

| د قضيه نوم | | مثالونه |
|---|---|---|
| قضيه حمليه مهمله موجبه | | الانسان كاتب |
| قضيه حمليه محصوره موجبه كليه | | كل انسان كاتب |
| قضيه حمليه محصوره سالبه كله | | كل انسان ليس بكاتب |
| قضيه حمليه محصوره موجبه جزئيه | | بعض الانسان كاتب |
| قضيه حمليه محصوره سالبه جزئيه | | بعض الانسان ليس بكاتب |

ليكن په منطق كښې صرف دَ قضايا محصوره نه بحث كيږي . چه ددې علت دَ مرقات يا دَ شرح تهذيب په شرح كښې اوګورئ .

﴿ واما كلية مسورة ﴾ : په دې سره مصنف رحمه الله دَ قضيه محصوره مسوره اقسام بيانوی . دَ قضيه محصوره څلور اقسام دی . ١﴿...... موجبه كليه ٢﴿...... موجبه جزئيه ٣﴿...... سالبه كليه ۴﴿...... او سالبه جزئيه .

**وجه حصر** : حكم به يا په تمام افرادو وی او يا به په بعضِ افرادو . كۀ چرې دَ موضوع په تمام افرادو باندې حكم وو نو دا كليه ده

او کۀ چرې په بعضِ افرادو وی نو جزئیه شوه . بیا به په دې کښې هریو خالی نۀ وی یا به پکښې حکمِ ایجابی وی او یا سلبی . اول موجبه ده ، دویمه سالبه ده . دارنګه دوو ته چه په دوو کښې ضرب ورکړې نو څلور قسمونه جوړیږی .

**موجبه کلیه** : دا هغه قضیه محصوره ده چه په دې کښې محمول دَ موضوع دَ هر هر فرد دپاره ثابت کړې شوی وی لکه " کل انسان حیوان "

**موجبه جزئیه** : دا هغه قضیه محصوره ده چه په دې کښې محمول دَ موضوع دَ بعضِ افرادو دپاره ثابت کړې شوی وی لکه " بعض الحیوان انسان "

**سالبه کلیه** : دا هغه قضیه محصوره ده چه په دې کښې محمول دَ موضوع دَ هر هر فرد نه نفی کړې شوې وی . لکه " لا شئ من الانسان بحر "

**سالبه جزئیه** : دا هغه قضیه محصوره ده چه په دې کښې محمول دَ موضوع دَ بعضِ افرادو نه سلب کړې شوې وی لکه " بعض الحیوان لیس بانسان "

**فائده** : قضیه محصوره ته مسوره هم وائی ددې څلور قسمونه دی . په دې کښې چه دَ کلییت او جزئیت کوم الفاظ مقرر [illegible] دی [illegible] " سور " وائی دَ هر قسم دپاره څۀ الفاظ مقرر

**د محصورات اربعه سور :** ۱﴾...... موجبه کلیه : ددې دپاره دوه سور مقرر دی . ۱﴾...... کُل ۲﴾...... الف لامِ استغراقی لکه " کل انسان کاتب . ان الانسان لفی خسر "

او کوم یو لفظ چه هم ددې حروفِ سور په معنیٰ کښې وی برابره خبره کئ دَ هرې ژبې لفظ وی لکه په پښتو ژبه کښې دَ موجبه کلیه سور " هر " دې .

۲﴾...... **موجبه جزئیه** : ددې دپاره یو سور دې او هغه لفظِ ( بعض ) او ( واحد ) دې او هغه نکره چه په اثبات کښې واقع وی . ' بعض الانسان کاتب ' .

۳﴾...... **سالبه کلیه** : ددې دپاره دوه حرفِ سور مقرر دی ۱﴾...... لا شئ ۲﴾...... لا واحد . لکه " لا شئ من الانسان بحجر ' ولا واحد من الانسان بحجر " او نکره تحت النفی دا هم دَ سالبه کلیه سور دې .

٤﴾...... **سالبه جزئیه** : ددې دپاره هم درې حروفِ سور دی ۱﴾ (بعض لیس) ۲﴾ (لیس بعض) او (لیس کل) بعض الانسان لیس بکاتب وغیره .

**سور** : سور ته سور ددې وجې نه وائی چه دا مشتق دې دَ سور البلد نه او سور البلد دَ ښار دیوال ته وائی نو لکه څنګه چه دیوال تمام ښار په ګیرا کښې راوستې وی نو دارنګه دا الفاظ هم کلیه وجزئیه لره په ګیرا کښې راولی .

﴿اما شرطية متصلة﴾ : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله دَ قضيه شرطيه قسمونه بيانوی .

**قضيه شرطيه** : دا هغه قضيه ده چه دَ دوو قضيو نه مرکب وی او ددې دواړو قضيو په درميان کښې يو خاص ربط وی لکه "کۀ چرې نمر راؤختلو نو ورځ به موجود وی" او "دا عدد يا خو جُفت دې يا طاق ." دَ قضيه شرطيه جزءِ اول ته مقدم او جزءِ ثانی ته تالی وائی .

**د مقدم وجه تسميه** : مقدم ته مقدم ددې وجې نه وائی چه دَ مقدم معنیٰ ده "مخکښې کيدونکې" او دا قضيه شرطيه هم مخکښې وی ځکه ورته مقدم وائی .

**د تالی وجه تسميه** : تالی ته تالی ددې وجې نه وائی چه دَ تالی معنیٰ ده روستو راتلونکې او دا هم په قضيه شرطيه کښې روستو راځی نو ځکه ورته تالی وائی .

دَ قضيه شرطيه بيا دوه قسمونه دی :

**شرطيه متصله** : دا هغه قضيه شرطيه ده چه په دې کښې دَ يو قضيه په تسليمولو باندې دَ دويمې قضيه دَ ثبوت يا دَ نفی حکم وی . کۀ چرې دَ ثبوت حکم وی نو دې ته متصله موجبه وائی او کۀ چرې دَ نفی حکم وی نو دې ته متصله سالبه وائی . دَ اول دپاره مثال "ان کانت الشمس طالعة فالنهار موجود" کۀ چرې نمر طلوع شی نو ورځ به موجود وی" او دَ دويم مثال "ليس البتة ان کان زيد انسانًا کان فرسًا" داسې خبره نۀ ده کۀ چرې زيد انسان وی نو اَس به هم وی ."

Maktaba Tul Ishaat.com

**شرطیه منفصله** : دا هغه قضیه شرطیه ده چه په دې کښې دَ دواړو قضیو په درمیان کښې دَ جُدایئ ثبوت یا دَ نفی حکم وی . کۀ چرې دَ ثبوت حکم وی نو دې ته منفصله موجبه وائی لکه : دا څیز به یا وُنه وی او یا کانړې . " او کۀ چرې دَ نفی حکم وی نو منفصله سالبه به ورته وائی لکه " داسې خبره نۀ ده چه نمر طلوع شوې وی او یا ورځ موجود وی . "

" والمتصلة اما لزومية كقولنا ان كانت الشمس طالعة فالنهار موجود واما اتفاقية كقولنا ان كان الانسان ناطقًا فالحمار ناهق والمنفصلة اما حقيقية كقولنا العدد اما زوج او فرد وهو مانعة الجمع والخلو معًا واما مانعة الخلو فقط كقولنا اما ان يكون زيد فى البحر واما أن لا يغرق . "

**ترجمه** : ...... او متصله به یا لزومیه وی لکه زمونږ دا قول کۀ چرې نمر راؤختلو نو ورځ به موجوده وی یا به اتفاقیه وی لکه زمونږ دا قول کۀ چرې انسان ناطق دې نو خَر ناهق دې او منفصله به یا حقیقیه وی لکه زمونږ دا قول دا عدد جفت دې یا طاق او دا مانعة الجمع او مانعة الخلو دواړه دی او یا به صرف مانعة الجمع وی لکه زمونږ دا قول دا څیز یا خو وُنه ده او یا کانړې . او یا به صرف مانعة الخلو وی لکه زمونږ دا قول زید یا خو په اوبو کښې دې یا ډوبیدونکې نۀ دې .

**تشریح** : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله دَ قضیه

متصله او قضیه منفصله اقسام بیانوی . دَ قضیه متصله دوه قسمونه دی ۱﴾...... لزومیه ۲﴾...... اتفاقیه

**متصله لزومیه** : دا هغه قضیه شرطیه متصله ده چه ددې دَ دوو قضیو په درمیان کښې داسې قسمه تعلق وی کۀ چرې اول قضیه اوموندلې شی نو دَ دویمې موندل به لازمی وی لکه " ان کانت الشمس طالعة فالنهار موجود "

**فائده** : دَ قضیه متصله لزومیه دَ دواړو قضیو ( نسبتونو ) په درمیان کښې یو تعلق او علاقه وی .

**د علاقه تعریف** : ددې دوه تعریفونه کولې شی .

۱﴾...... مابه یستصحب الشیئ الشیئ الآخر " داسې څیز چه ددې دَ وجې نه دویم څیز مستلزم وی .

۲﴾...... ما بسبب به یستصحب المقدم والتالی " علاقه هغه څیز ته وائی چه ددې په سبب مقدم دَ تالی ملګرې ګرځی . او مستلزم کیږی .

ددې علاقې دوه قسمونه دی : (۱) دَ تضایف علاقه (۲) دَ علیت علاقه .

**علاقه تضایف** : چه دَ دوو څیزونو په درمیان کښې داسې تعلق او نسبت وی چه په هغې کښې دَ هر یو پیژندل په بل باندې موقوف وی لکه د بوت تصور دَ بنوت په تصور باندې موقوف دې " او دَ بنوت تصور دَ ابوت په تصور باندې موقوف دې . داسې لکه " کۀ چرې زید

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ عمرو پلار دې نو عمرو دَ زید څوي دې ."

**علاقه علیت** : دَ علاقه علیت درې صورتونه دی :

﴿۱﴾ مقدم دَ تالی دپاره علت وی لکه " ان کانت الشمس طالعة فالنهار موجود " په دې کښې طلوعِ شمس ( مقدم ) علت دې دَ وجودِ نهار . او وجودِ نهار تالی معلول دې .

﴿۲﴾ تالی دَ مقدم دپاره علت وی لکه " ان کانت النهار موجودًا فالشمس طالعة " په دې کښې شلوعِ شمس ( تالی ) علت دې دَ وجودِ نهار . او وجودِ نهار مقدم معلول دې .

﴿۳﴾ مقدم او تالی دواړه دَ یو بل علت معلول وی لکه " ان کانت الارض مضیئة فالنهار موجود " دا دواړه معلول دی دَ طلوعِ شمس .

**متصله اتفاقیه** : دا هغه قضیه شرطیه ده چه ددې دَ دواړو قضیو په درمیان کښې داسې قسمه تعلق نهٔ وی . یعنی چه اول قضیه اومونډلې شي نو دَ دویم مونډل به ضروری نهٔ وی بلکه اتفاقً به جمع شوې وی لکه " کهٔ چرې زید انسان دې نو کاڼې جماد دې . "

## وجوهات تسمیه

**متصله** : دا دَ اتصال نه مشتق دې په معنیٰ دَ " ملاویدو " سره په دې کښې دَ دوو قضیو په درمیان کښې اتصال راځی نو ځکه ورته متصله وائی .

**منفصله** : دا دَ انفصال نه دې په معنیٰ دَ " جُدایئ " سره په

دي کښې هم دَ دوو قضیو په درمیان کښې دَ جُدایئ دَ ثبوت حکم یا دَ نفی حکم لګولې شی .

**لزومیه** : ددې وجې نه چه دَ دوو قضیو په مینځ کښې دَ لزوم والا تعلق وی .

**اتفاقیه** : ددې وجې نه چه دوه قضیې اتفاقًا راجمع شوې وی .

**عنادیه** : عنادیه دَ عناد نه مشتق دې په معنیٰ دَ دشمنئ سره نو په دې کښې هم دواړه قضیې دَ ذات په اعتبار سره دَ جُدایئ تقاضا کوی ددې وجې نه ورته عنادیه وائی .

## د شرطیه منفصله درې قسمونه دی

﴿۱﴾...... حقیقیه ﴿۲﴾...... مانعة الجمع ﴿۳﴾...... مانعة الخلو .

**حقیقیه** : دا هغه قضیه شرطیه منفصله ده چه ددې دَ دواړو قضیو په درمیان کښې داسې منافات او جُدائی وی چه نۀ دواړه په یو ځیز کښې جمع کیدې شی او نۀ دواړه معدوم کیدې شی لکه " هٰذا العدد اما زوج او فرد " دا عدد جُفت دې او یا طاق . "

**مانعة الجمع** : دا هغه قضیه شرطیه منفصله ده چه ددې دواړو قضیو کښې داسې قسم جُدائی وی چه دواړه په یو ځیز کښې خو جمع کیدې نۀ شی . لیکن دا ممکنه وی چه دا دواړه جُدا کړې شی لکه : هٰذا الشئ اما شجر او حجر " دا ځیز یا خو وُنه ده او یا کانړې دې

**مانعة الخلو** : دا هغه قضیه شرطیه منفصله ده چه ددې دواړو قضیو کښې داسې جُدائی وی چه دواړه دَ یو ځیز نه معدوم

Maktaba Tul Ishaat.com

کيدې خو نۀ شي ليکن دا ممکن وي چه دواړه په يوځيز کښې جمع شي لکه " اما ان يکون زيد في البحر واما ان لا يغرق " زيد په اوبو کښې دې يا ډوبيدونکې نۀ دې . "

**وجه تسميه** : په دې کښې ياءِ نسبتي ده يعني حقيقت والا ، او په دې کښې هم انفصالِ حقيقي يعني د جانبينو نه دې او تاء ددې وجې نه ده چه ددې موصوف قضيه ده . مانعة الجمع په دې وجه سره چه مقدم او تالي لره د جمع کيدو نه منع کوي .

او مانعة الخلو ورته ځکه وائي چه مقدم او تالي لره د معدوم کيدو نه منع کوي .

د موجبه کليه متصله سور : کلما ، اذما ، مهما ، حيثما ، مما

د موجبه کليه منفصله سور : دائمًا دې .

د سالبه کليه متصله او منفصله سور : ليس البتة .

د موجبه جزئيه متصله او منفصله سور : قد يکون

د سالبه جزئيه متصله او منفصله سور : قد لا يکون .

**" وقد يکون المنفصلات ذات اجزاء کقولنا هٰذا العدد اما زائد او ناقص او مساو . "**

**ترجمه** : او بعضِ وختونه د منفصله ډير اجزاء وي لکه زمونږ دا قول : دا عدد به يا زائد وي ، يا ناقص او يا مساوي .

**تشريح** : د قضيه منفصله په عام طور باندې دوه جزونه وي . لکه " دا عدد يا جُفت دې او يا طاق . " ليکن کله کله د قضيه منفصله

دَ دوو نــه زیات اجزاء هــم وی لـکــه " دا عـدد یا زائـد دي یا ناقص او یا مساوی .

**فائده** : دَ عـدد تعریف : (۱) الـعـدد مـا یعدّ " (۲) نصف مجموع حاشیتین .

دَ عدد دوه قسمونه دی (۱) عدد منطقی (۲) عدد اصم

**عدد منطقی** : دا هغه عدد دي چه په کسورو باندې پوره په پوره تقسیمږی .

**عدد اصم** : هغــه عـدد دي چــه پـه کسورو باندې برابر نـهٔ تقسیمږی . بیا دَ عدد منطقی درې قسمونه دی (۱) عدد زائد (۲) عدد ناقص (۳) عدد مساوی .

ددې دَ پیژنـدلـو طـریقه داده چه دَ اصل عدد تجزی اوکړئ ، په تـجزی سره چـه کوم اعداد حاصل شی نو هغه جمع کړئ . کهٔ چرې دَ هغې مجموعه دَ اصل عدد نه کم شی نو هغه اصل عدد ، عددِ ناقص دي او کهٔ چرې دا مـجموعه دَ اصل عدد برابر شی نو هغه اصل عدد ، عـددِ مساوی دې او کـهٔ چـرې دا مجموعه دَ اصل عدد نه زیات شی نو هغه اصل عدد ، عددِ زائد دې . لکه ۱۲ عدد زائد دې . او ۸ عدد ناقص دې او ٦ عدد مساوی دې .

کسـورِ صـحیـحـه نهـهٔ دی (۱) نـصف (۲) ثلث (۳) ربع (۴) خمس (۵) سدس (٦) سبع (۷) ثمن (۸) تسع (۹) عشر .

دَ عـددِ منطقی مثال دَ څلورو عدد دې او دَ اصم مثال دَ یوولسو

Maktaba Tul Ishaat.com

عدد دې . بیا منطق په درې قسمه دې : (۱) زائد (۲) ناقص (۳) مساوی .

**عدد زائد** : کۀ چرې مجموعه کسور دَ عدد نه زیات وی نو عددِ زائد دې لکه دَ ۱۲ عدد دلته کښې مجموعه کسور پنځلس دی ځکه چه دَ ۱۲ نصف ٦ دې او ثلث یئ ۴ دې او ربع یئ ۳ دې او سدس یئ ۲ ده نو مجموعه پنځلس شوه .

**عدد ناقص** : هغه دې چه مجموعه کسور دَ عدد نه کم وی لکه څور چه ددې نصف دوه راځی ربع یئ یو نو مجموعه درې شو .

**عددِ مساوی** : هغه دې چه مجموعه کسور دَ عدد برابر وی لکه شپږ ، چه ددې نصف درې او ثلث یئ دوه او سدس یئ یو نو مجموعه شپږ شو .

**سوال** : زائد ، ناقص او مساوی خو کسور جوړیږی نو عدد ته ولې زائد ، ناقص او مساوی وائی ؟

**جواب** : دا نقشه نعتِ بحالهٖ نۀ دې بلکه بحالِ متعلقهٖ دې یعنی چه دَ عدد متعلق کومه مجموعه دَ کسورو ده . په درې قسمه دی زائد ، ناقص او مساوی .

بعضِ حضرات ددې سوال نه دَ بچ کیدو دپاره دا تعریف کوی چه زائد هغه وی چه دَ کسورو مجموعه ناقص وی دَ عدد نه او ناقص هغه دې چه مجموعه کسور زائد وی دَ عدد نه او مساوی هغه دې چه مجموعه کسور دَ عدد برابر وی .

**سوال**: قضیه منفصله دَ دوو نه دَ زیاتو ځیزونو نه نهٔ شی مرکب کیدې ځکه چه کله یئ "زائد" اووې نو ناقص به نهٔ وی. اوس به مساوی یا نهٔ. کهٔ چرې مساوی وی نو اجتماعِ ضدین لازمیږی او کهٔ چرې نهٔ وی نو ارتفاعِ ضدین لازمیږی.

**جواب**: دا یوه قضیه منفصله نهٔ ده بلکه دوه منفصلې دی دا په اصل کښې داسې وو "العدد اما زائد وغیره، اما ناقص وغیره او مساوی."

★......★......★......★......★......★......★......★......★

★......★......★......★......★......★......★

★......★......★......★......★

★......★......★......★

★......★......★

★......★

★

Maktaba Tul Ishaat.com

# ﴿ التناقض ﴾

" التناقض وهو اختلاف القضيتين بالايجاب والسلب بحيث يقتضي لذاته ان يكون احداهما صادقة والاخرىٰ كاذبة كقولنا زيد كاتب وزيد ليس بكاتب . "

**ترجمه** : ...... تناقض : تناقض مختلف كيدل دَ دوو قضيو دى دَ ايجاب او دَ سلب په اعتبار سره په دې طور باندې چه دا اختلاف بالذات تقاضه اوكړى ددې خبرې چه په دې دواړو قضيو كښې يوه رښتونې وى او دويمه دروغژنه . لكه زمونږ دا قول : زيد كاتب دې . او زيد كاتب نۀ دې . "

**تشريح** : په دې عبارت سره دَ مصنف رحمه الله غرض دَ تناقض بيانول دى .

په ماقبل كښې يئ دَ قضيې بيان اوكړو اوس دلته كښې دَ قضيه حكم بيانوى .

**د تناقض تعريف** : دَ تناقض لغوى معنىٰ ده اختلاف كول .او تعريف يئ دادې چه دَ دوو قضيو دَ ايجاب او دَ سلب په اعتبار سره داسې مختلف كيدل چه دا اختلاف بالذات دَ يوې قضيې دَ صدق او دَ بلې قضيې دَ كذب تقاضه كوى . يعنى ددې څيز تقاضه كوى كۀ چرې دا رښتونى ده نو دويمه يقينًا دروغ ده . داسې دوو قضيو ته

متناقضین وائی او هرې یوې قضیې ته دَ بلې نقیض وائی .

**فوائد قیود** : اختلاف په منله دَ جنس دې . په دې کښې هر قسم اختلاف داخل شو چه دا اختلاف القضیتین ، اختلاف المفردین او اختلاف المفرد والقضیه درې وارو ته شامل دې . القضیتین دا اولنې فصل دې . په دې سره ترینه اختلاف المفردین او اختلاف المفرد والقضیه دواړه خارج شول .

**بالایجاب والسلب** : دا دویم فصل دې په دې سره ترینه هغه اختلاف اووتلو چه هغه دَ دوو قضیو په درمیان کښې خو وی لیکن دَ ایجاب او دَ سلب په اعتبار سره نهٔ بلکه دَ شرطیه ، حملیه ، محصوره او مهمله په اعتبار سره وی .

**یقتضی** : دا دریم فصل دې په دې سره ترینه هغه اختلاف اووتلو چه هغه دَ دوو قضیو په درمیان کښې خو وی او دَ ایجاب او سلب په اعتبار سره به هم وی لیکن دا اختلاف په دې دواړو قضیو کښې دَ یوې دَ صدق او دَ بلې دَ کذب تقاضه نهٔ کوی . لکه " زید ساکن وزید لیس بمتحرك "

**لذاته** : دا څلورم فصل دې په دې سره ترینه هغه اختلاف اووتلو چه دا اختلاف به دَ دوو قضیو په درمیان کښې خو وی او دَ ایجاب او دَ سلب په اعتبار سره به هم وی او په دې دواړو قضیو کښې به دَ یو دَ صدق او دَ بلې دَ کذب تقاضه هم کوی لیکن دا تقاضا به بالذات نهٔ وی لکه " زید انسان وزید لیس بناطق "

Maktaba Tul Ishaat.com

**د تناقض شرائط**: دَ منطقی حضراتو په تناقض کښې درې شرطونه وی په دې کښې کۀ چرې یو هم مفقود شو نو تناقض به نۀ وی.

**اولنې شرط**: اختلاف به په دوو قضیو کښې وی. په دوو مفردو کښې نۀ شی کیدې.

**دویم شرط**: اختلاف به په ایجاب او په سلب کښې وی چه یوه به موجبه وی او دویمه سالبه، کۀ چرې دواړه موجبې وی یا دواړه سالبې نو تناقض به نۀ وی لکه "زید قائم وزید کاتب"

**دریم شرط**: په دې دواړو کښې کۀ چرې یوه قضیه صادقه اومنلې شی نو دویمه به کاذبه منلې شی لکه "زید قائم وزید لیس بقائم"

دَ دریم شرط دَ متحقق کیدو دپاره په اتو څیزونو کښې مطابقت ضروری دې او کۀ دا مطابقت نۀ وی نو تناقض به هم نۀ وی دا اتۀ څیزونه په یو شعر کښې بند دی چه هغې ته وحداتِ ثمانیه وائی.

"ولا یتحقق ذالك الاختلاف فی المخصوصتین الا بعد اتفاقهما فی الموضوع والمحمول والزمان والمکان والاضافة والقوة والفعل والجزء والکل والشرط فنقیض الموجبة الکلیة انما هی السالبة الجزئیة کقولنا کل انسان حیوان وبعض الانسان لیس بحیوان ونقیض السالبة الکلیة انما هی الموجبة الجزئیة

**كقولنا لا شئ من الانسان بحيوان وبعض الانسان حيوان والمحصورتان لا يتحقق التناقض بينهما الا بعد اختلافهما فی الكلية والجزئية لان الكليين قد تكذبان كقولنا كل انسان كاتب ولا شئ من الانسان بكاتب والجزئيتين قد تصدقان كقولنا بعض الانسان كاتب وبعض الانسان ليس بكاتب "**

**ترجمه** : او دا اختلاف نۀ متحقق کیږی دَ دوو قضیو مخصوصو په درمیان کښی مگر ددې دواړ په موضوع او محمول او زمان ومکان او اضافت وقوة ، فعل او جزء ، کُل او شرط کښی دَ متفق کیدو نه بعد . بس دَ موجبه کلیه نقیض سالبه جزئیه ده لکه زمونږ دا قول شو " هر انسان حیوان دې او بعضِ انسانان حیوان نۀ دی " او دَ دوو قضیو محصورو په درمیان کښی تناقض نۀ متحقق کیږی مگر ددې په کلیت او جزئیت کښی دَ مختلف کیدو نه بعد ځکه چه کله دواړه کلیې دروغ وی لکه زمونږ دا قول " هر انسان کاتب دې ، او هیڅ یو انسان کاتب نۀ دې " او کله دواړه جزئیه صادقې وی لکه زمونږ دا قول " بعضِ انسان کاتب دې او بعض انسانان کاتب نۀ دی "

**تشریح** : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله دَ دوو قضیو مخصوصه ؤ په درمیان کښی دَ تناقض دَ متحقق کیدو دپاره شرائط او دَ دوو قضیو محصوره ؤ په درمیان کښی دَ تناقض دَ متحقق کیدو دپاره یو اضافی شرط بیانوی . فرمائی چه دَ دوو قضیو مخصوصه ؤ

Maktaba Tul Ishaat.com

په درمیان کښې دَ تناقض دَ متحقق کیدو دپاره اتۀ شرطونه دی چه دې ته وحداتِ ثمانیه وائی

درتناقض هشت وحدت شرط دان
وحدتِ موضوع ومحمول ومکان
وحدت شرط واضافت جزوکل
قوت وفعل است در آخر زمان

۱﴾...... موضوع: دَ دواړو قضیو موضوع به یوه وی کۀ داسې نۀ وی نو تناقض به نۀ راځی، اتفاقی مثال لکه زید قائم. زید لیس بقائم. (زید ولاړ دې او زید ولاړ نۀ دې)

احترازی مثال: لکه زید قائم، عمرو لیس بقائم" (زید ولاړ دې او عمرو ولاړ نۀ دې)

۲﴾...... محمول: دَ دواړو قضیو محمول به یو وی نو تناقض به وی کۀ داسې نۀ وی نو بیا به تناقض هم نۀ وی. اتفاقی مثال: زید ناست دې، زید ناست نۀ دې." احترازی مثال: زید فی الدار. زید لیس فی السوق"

۳﴾...... زمانه: دَ دواړو قضیو زمانه به هم یوه وی نو تناقض به وی او کۀ زمانه یوه نۀ وی نو تناقض به نۀ متحقق کیږی اتفاقی مثال: زید سحر اودۀ وو، زید سحر اودۀ نۀ وو. احترازی مثال "زید قائم فی اللیل، زید لیس بقائم فی النهار"

۴﴾...... مکان: دواړه قضیې به په مکان کښې متحد وی اتفاقی مثال: زید په جمات کښې دې، زید په جمات کښې نۀ دې

احترازی مثال : زید قائم فی المسجد ، زید لیس بقائم فی البیت .

﴿۵﴾...... اضافت : دواړه قضیې به په اضافت کښې متحد وی نو تناقض به وی او کۀ داسې نۀ وی نو تناقض به نۀ وی اتفاقی مثال : زید دَ عمرو پلار دې ، زید دَ عمرو پلار نۀ دې ." احترازی مثال " ان کان زید ابًا لعمرو ، زید لیس بأَب لبکر "

﴿۶﴾...... قوة وفعل : دواړه قضیې به په قوة او فعل کښې متحد وی نو تناقض به وی . اتفاقی مثال : زید کاتب ، زید لیس بکاتب " ( مراد په دواړو قضیو کښې بالفعل دې ) احترازی مثال : الخمر مسکر بالقوة . الخمر لیس بمسکر بالفعل "

او دَ دواړو قضیو په قوت وفعل کښې دَ متحد کیدو مطلب دادې کۀ چرې په اولنئ قضیه کښې محمول دَ موضوع دپاره بالفعل ثابت کړې شوې وی نو په دویمه کښې به هم بالفعل نفی کړې شوې وی او کۀ چرې په اولنئ قضیه کښې محمول دَ موضوع دپاره بالقوة ثابت کړې شوې وی نو په دویمه کښې به هم محمول دَ موضوع نه بالقوة نفی کړې شوې وی .

﴿۷﴾...... جزء وکل : دواړه قضیې به په جزء وکُل کښې هم متحد وی نو تناقض به وی او کۀ داسې نۀ وی نو تناقض به هم نۀ وی .
اتفاقی مثال : حبشی تور دې ( دَ کُل په اعتبار سره ) حبشی تور نۀ دې ( دَ کُل په اعتبار سره ) احترازی مثال لکه حبشی تور دې ( یعنی دَ غابښونو نه علاوه ) حبشی تور نۀ دې ( یعنی دَ هغه غابښونه )

دَ دواړو قضیو په جزء وکُل کښې د متحد کیدو مطلب دادې

Maktaba Tul Ishaat.com

کۀ چرې په يوه قضيه کښې محمول دَ موضوع دَ جزء دپاره ثابت کړې شوې، وي نو په دويمه قضيه کښې به محمول هم ددې موضوع نه نفی کړې شوې وی . او کۀ چرې په يوه قضيه کښې محمول دَ پوره موضوع دپاره ثابت کړې شوې وی نو په دويمه قضيه کښې به هم محمول دَ پوره موضوع نه نفی کړې شوې وی .

۸﴿..... شرط : په دواړو قضيو کښې به شرط يو وی ، او کۀ شرط پکښې مختلف وی نو تناقض به هم نۀ وی . اتفاقی مثال : کۀ چرې تۀ ماته راځې نو زۀ به ستا اکرام کوم ، کۀ چرې تۀ ماته نۀ راځې نو زۀ به ستا اکرام نۀ کوم . احترازی مثال : " زيد متحرك بالاصابع ان كان كاتبًا ، زيد ليس بمتحرك الصابع ان كان ليس بكاتب . "

**سوال** : تاسو دَ صحت دَ تناقض دپاره وحدت په اتو ځيزونو کښې منحصر کړې دې حالانکه ددې نه علاوه په نورو ځيزونو کښې هم وحدت ضروری دې نو تناقض به وی او کۀ داسې نۀ وی نو تناقض به هم نۀ وی مثلًا په آله کښې به وحدت وی يعنی په دواړو قضيو کښې به آله يوه وی . احترازی مثال : زيد كاتب بالقلم الپاكستانی ، زيد ليس بكاتب بالقلم التركی . " دارنګه علت به يو وی ، کۀ علت يو نۀ وی نو بيا به هم تناقض نۀ وی . احترازی مثال : النجار عامل اى لسلطان . النجار ليس بعامل اے لزيد " بهر په اتو کښې تناقض بندول صحيح نۀ دی .

**جواب اول** : مصنف رحمه الله دَ تناقض اهم اهم شرائط بيان کړې دی په باقی ځيزونو کښې يئ وحدت دَ مخاطب په ذهن او

فهم باندې اعتماد کؤلو سره پرېخودې دی .

**جواب ثاني** : دَ بعضِ منطقی حضراتو مذهب دادې چه دَ تناقض دپاره درې شرطونه دی (۱) موضوع به دَ دواړو قضیو یو وی (۲) محمول به یو وی (۳) په نسبتِ حکمیه کښی به وحدت وی نو په نسبتِ حکمیه کښی تول هر څۀ راغلل تردې پورې چه آله او علت هم پکښی راغلل .

والمحصورتان لا یتحقق التناقض : سابقه اتۀ څیزونه دَ قضیه محصوصتین دپاره وو . دلته کښی مصنف رحمه الله دا بیان کوی چه په دوو قضیو محصوره ؤ کښی دَ تناقض دَ متحقق کیدو دپاره ددغه اتو شرطونو سره یو بل شرط هم ضروری دې او هغه دادې چه دواړه قضیې به په کلیت او جزئیت کښی هم مختلف وی یعنی کۀ چرې یوه کلیه وی نو دویمه به جزئیه وی .

نو دَ قضیه موجبه کلیه نقیض سالبه جزئیه راځی او کۀ داسې نۀ وی نو تناقض به هم نۀ وی اتفاقی مثال : کل انسان حیوان وبعض الانسان لیس بحیوان " که چرې دواړه قضیې کلیې وی یا دواړه جزئې وی نو تناقض به نۀ وی ځکه چه دا دواړه دروغ کیدې هم شی او صادق کیدې هم . دَ دروغ کیدو والا مثال : ' کل انسان کاتب ولا شئ من الانسان بکاتب "

دَ صادق کیدو والا مثال : بعض الانسان کاتب ، وبعض الانسان لیس بکاتب " حالانکه دَ تناقض دپاره ضروری ده چه په دوو قضیو

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې به یوه رښتونې وي او دویمه کاذبه .

او دَ موجبه کلیه نقیض به سالبه جزئیه راځي ، ددې مثال تیر شوې دې او دَ سالبهِ کلیه نقیض به موجبه جزئیه راځي لکه " لا شئ من الانسان بحیوان وبعض الانسان حیوان " او دَ موجبه جزئیه نقیض به سالبه کلیه راځي او دَ سالبه جزئیه نقیض به موجبه کلیه راځي . ددې مثال تیر شوې دې .

**فائده** : دَ دوو قضیو محصوره ؤ په کلیت او جزئیت کښې مختلف کیدل ددې وجې نه ضروري دي کۀ چرې دواړه کلیې وي نو کله به دواړه کاذب وي لکه زمونږ دا قول : هر انسان کاتب دې ، او هیڅ یو انسان کاتب نۀ دې . " او کله چه دواړه جزئیې وي نو دواړه به صادق وي لکه زمونږ دا قول " بعضِ انسانان کاتب دي او بعضِ انسانان کاتب نۀ دي . "

**سوال** : نقیض الموجبة الکلیة دا مسئله متفرع ده والمحصورتان متفرع علیه دې نو مصنف رحمه الله لره مناسب دا وو چه متفرع علیه یې مقدم ذکر کړې وې " والحال عکسه "

**جواب** : دا دَ ناسخ غلطي ده .

**ضابطه** : دَ تناقض دواړو قضیو کښې به هر یوې قضیې ته دَ بلې نقیض وائي او دواړو ته به نقیضین وائي . چه ددې ارتفاع به هم محال وي او انتفاع هم .

## ﴿ عکسِ مستوی ﴾

" العكس هو تصير الموضوع محمولًا والمحمول موضوعًا مع بقاء الايجاب والسلب والصدق والكذب بحاله والموجبة الكلية لا تنعكس كلية اذ يصدق قولنا كل انسان حيوان ولا يصدق كل حيوان انسان . "

**ترجمه** : دَيوې قضيې عکسِ مستوی دَ موضوع محمول کوُل او محمول موضوع کوُل دی دَ ايجابِ او دَ سلب او دَ صدق او کذب سره په حال باندې ۔

**تشريح** : په دې عبارت سره دَ مصنف رحمه الله غرض دَ عکسِ مستوی تعريف بيانول دی ۔

**د عکسِ مستوی تعريف** : دَ قضيې عکسِ مستوی دادې چه دَ هغې موضوع لره محمول او محمول لره موضوع اوګرځولې شی او دَ اصل قضيې ايجاب او سلب ، صدق او کذب په خپل حال باندې پريخودې شی . کهٔ چرې اصل قضيه موجبه وی نو دَ هغې عکس به هم موجبه وی او کهٔ چرې اصل قضيه سالبه وی نو دَ هغې عکس به هم سالبه وی او کهٔ چرې اصل قضيه رښتونی وی نو عکس به يې هم دارنګه وی .

**فائده** : دا تعريف خو دَ قضيه حمليه په عکس باندې صادق

Maktaba Tul Ishaat.com

راځي ليکن دَ قضيه شرطيه په عکس باندې نۀ صادقيږي ځکه چه په قضيه شرطيه کښې مقدم او تالي وي، موضوع او محمول پکښې نۀ وي ؟

لهٰذا صحيح تعريف هغه دے کوم چه په شرح تهذيب کښې مذکور دې : ' تبديل طرفى القضية مع بقاء الصدق والكيف " دَ قضيه دواړه طرفين تبديل کؤل يعني جزءِ اول لره جزءِ ثاني او جزءِ ثاني لره جزءِ اول ګرځول دَ صدق او دَ کيف يعني دَ ايجاب او دَ سلب دَ بقاء سره . اوس دا تعريف په قضيه حمليه او قضيه شرطيه دواړو باندې صادقيږي .

**سوال** : دَ بقاءِ ايجاب او سلب څۀ وجه ده ؟

**جواب** : منطقي حضراتو په تتبع سره معلومه کړې ده چه هر عکس دَ قضيه عکسِ لازم او صادق هغه دې چه هغه دَ اصل موافق وي ، کۀ چرې اصل صادق وي نو عکس به هم صادق وي او کۀ چرې اصل کاذب وو نو عکس به هم دارنګه وي .

**سوال** : دَ بقاءِ صدق څۀ وجه ده ؟

**جواب** : چونکه اصل ملزوم وي او عکس لازم وي او دَ ملزوم صدق دَ لازم صدق لره مستلزم دې .

**فائده** : دَ عکسِ مستوي په تعريف کښې دَ مصنف رحمه الله نه تسامح شوې ده چه دَ صدق دَ بقاء دَ شرط سره يئ دَ کذب دَ بقاء هم شرط لګولې دې . حالانکه دَ کذب دَ بقاء شرط لګول صحيح نۀ

دی .

ځکه چه دَ اصل قضیه ( ملزوم ) په کذب سره دا لازم نۀ دی چه ددې عکس دې هم کاذب وی لکه " کل حیوان انسان " کاذب دې لیکن ددې عکس " بعض الانسان حیوان " صادق دې .

[ شارح دا فائده لیکلی ده لیکن دا صحیح نۀ ده ځکه چه اصل کاذب وی نو دَ هغې عکس به هم کاذب وی دَ صاحبِ ایساغوجی خبره درست ده ځکه چه " کل حیوان انسان " کاذب قضیه ده نو ددې عکس " بعض الانسان حیوان " هم کاذب دې . ځکه چه هر فرد دَ انسان حیوان دې داسې نۀ ده چه بعضِ انسانان حیوان دی او بعضِ نۀ دی . از مترجم ]

اصل خبره داده چه یو لازم دې او دویم ملزوم ، ملزوم بغیر دَ لازم نه نۀ شی موجود کیدې او لازم بغیر دَ ملزوم نه کله موجود کیږی او کله نۀ . ددې نه داسې تعبیر کولې شی چه وجودِ ملزوم وجودِ لازم لره مستلزم دې او وجودِ لازم وجودِ ملزوم لره مستلزم نۀ دې . دویمه خبره داده چه ملزوم خاص وی او لازم عام وی ددې وجې نه دلته کښې دَ کذب شرط لګول صحیح نۀ دی .

" بل تنعکس جزئیة لانا اذا قلنا کل انسان حیوان یصدق قولنا بعض الحیوان انسان فانا نجد الموضوع موصوفًا بالانسان والحیوان فیکون الحیوان انسانًا والموجبة الجزئیة تنعکس جزئیة بهٰذه الحجة ایضًا والسالبة الکلیة تنعکس کلیة وذٰلک بین

Maktaba Tul Ishaat.com

بنفسه فانه اذا صدق لا شئ من الانسان بحجر يصدق لا شئ من الحجر بانسان والسالبة الجزئية لا تنعكس لزومًا لانه يصدق بعض الحيوان ليس بانسان و لا يصدق عكسه . "

**ترجمه** : بلکه موجبه کليه منعکس کيږي جزئيه ته ( يعنی دَ موجبه کليه عکس موجبه جزئيه راځی ) ځکه چه مونږ کله اووئيل چه هر انسان حيوان دي نو زمونږ دا قول " بعضِ حيوان انسان دي " صادق راځی . او دا ددې وجې نه چه مونږ موضوع لره دَ انسان او دَ حيوان سره موصوف بيا مونده . بس يقينًا ( بعضِ ) حيوان به انسانان وی . او موجبه جزئيه هم دې دليل سره منعکس کيږي جزئيه . او دَ سالبې کليې عکس به سالبه کليه راځی او دا خبره پخپله ظاهره ده ځکه چه کله يو انسان هم کاڼړې نهٔ دې نو هيڅ يو کاڼړې هم انسان نهٔ دې ، دا خبره هم صادق ده او سالبه جزئيه نهٔ منعکس کيږي په لازمی طور باندې ځکه چه دا خبره رښتيا ده چه " بعضِ حيوان انسانان نهٔ دی " او ددې عکس صادق نهٔ دې . "

**تشريح** : دَ تناقض دَ شرائطو نه بعد په دې عبارت کښی مصنف رحمه الله دَ موجبه کليه ، موجبه جزئيه ، او دَ سالبه کليه ، سالبه جزئيه عکس بيانوی .

**د موجبه کليه عکس** : دَ موجبه کليه عکس به موجبه جزئيه راځی او موجبه کليه به نهٔ راځی . ځکه چه موضوع او محمول به په خپل مينځ کښی يا خو مساوی وی يا عام وخاص ، کهٔ

چرې مساوي وي نو دَ موجبه کليه عکس موجبه کليه راتلې شي لکه "کل انسان کاتب ، وکل کاتب انسان " او دَ عام وخاص په صورت کښې به ددې عکس موجبه جزئيه وي ځکه کۀ چرې موجبه کليه وي نو کذب به لازميږي لکه "کل انسان حيوان " او ددې عکس "کل حيوان انسان " دې چه کاذب دې حالانکه دَ عکس دپاره ضروري ده چه اول صادق وي نو عکس به هم صادق وي په دې مثال کښې اول يعنې اصل قضيه صادق ده او ثاني دروغ . نو ضروري به منلې شي چه دَ موجبه کليه عکس به موجبه جزئيه راځي .

او دَ منطقي حضراتو اصطلاح دائمي کلي وي . او کله چه په بعضِ صورتونو کښې دَ موجبه کليه عکس موجبه کليه کاذب راتلو نو ددې وجې نه يئ قاعده جوړه کړه چه ددې عکس به موجبه جزئيه راځي . ددې درې دلائل دي . اقتراقي ، ضمي چه ددې دويم نوم عکسي دې .

دَ دليلِ ضمي خلفي تعريف : " هو ضم نقيض العکس مع الاصل لينتج محالًا " چه دَ عکس نقيض دَ اصل سره ضم کړې شي او ملاؤ کړې شي ددې دپاره چه نتيجه محال شي . "

**د دليل حاصل** : زمونږ دعویٰ اومنه چه دَ موجبه کليه عکس موجبه جزئيه راځي مثلًا : کل انسان حيوان ، ددې عکس موجبه جزئيه " بعض الحيوان انسان " راځي دا اومنه . کۀ چرې نۀ منې نو دَ عکس نقيض " لا شئ من الحيوان بانسان " صادق راځي او

Maktaba Tul Ishaat.com

کۀ داسې نۀ وی نو ارتفاع نقیضین لازمیږی چه دا باطل دې . دې لره دَ اصل سره ضم کړه نو داسې به شی "کل انسان حیوان ولا شیٔ من الحیوان بانسان" په دې کښې حیوان مکرر دې ددې په غورزولو سره دا نتیجه اووتله "کل انسان لیس بانسان" او دا نتیجه غلطه ده ځ. ځکه چه دا سلب الشیٔ عن نفسهٖ دې چه محال دې او دا محال دَ چرتنه لازم راغې نو دلته کښې درې څیزونه دی .

﴿١﴾...... اصل ﴿٢﴾...... ضم ﴿٣﴾...... نقیض . دا محال خو دَ اصل نه نۀ لازمیږی ځکه چه اصل خو صحیح دې هغه خو مفروض الصدق دې او په ضم سره هم صحیح دې ځکه چه په هغې سره شکلِ اول پیدا کیږی او هغه خو بدیهی الانتاج دې نو ضرور به وئیلی شی چه دا دَ عکس دَ نقیض نه محال لازم شو ، او کله چه دَ نقیض نه محال لازم شو نو نقیض دروغ او اصل یعنی عکس صادق دې .

لهٰذا غلطی دَ نقیض نه اوشوه او زمونږ دعویٰ درست شوه . او په دې باندې نور دلائل په شرح مرقات یا شرح تهذیب کښې اوګورئ .

**د موجبه جزئیه عکس :** دَ موجبه جزئیه عکس به هم موجبه جزئیه راځی ځکه چه کله مونږ دَ موضوع دَ بعضِ افرادو دپاره محمول ثابتوو نو دا هم معلومیږی چه دَ محمول دپاره یعنی دَ هغې دَ بعضِ افرادو دپاره موضوع ثابت ده ددې وجې نه به دَ موجبه جزئیې عکس موجبه جزئیه راځی لکه "بعض الانسان حیوان" موجبه جزئیه ده ددې عکس بعض الحیوان انسان دې ( موجبه جزئیه ) .

کۀ چرې دا څوك نۀ منی نو مونږ یې دَ دلیلِ خلفی په ذریعې سره ثابتوو .

**دلیلِ ضمی یا خلفی** : زمونږ دا دعویٰ اومنئ چه دَ موجبه جزئیه عکس موجبه جزئیه راځی او کۀ چرې نۀ منئ نو نقیض اومنئ مثلًا " بعض الحیوان انسان " ددې عکس موجبه جزئیه " بعض الانسان حیوان " دې دا صحیح اومنئ او کۀ نۀ منئ نو ددې نقیض " لا شئ من الانسان بحیوان " به صحیح وی او دا چه کله دَ اصل سره یوځائ کړې شی نو داسې به شی " بعض الحیوان انسان ولا شئ من الانسان بحیوان " نو ددې نتیجه به " بعض الحیوان لیس بحیوان " راځی نو سلب الشئ عن نفسهٖ به لازم شی . چه دامحال دې او دلته کښی درې څیزونه دی اصل ، ضم او نقیض ، اصل او ضم صحیح دی او نقیض باطل دې . دا محال دَ نقیض نه لازم شوې دې لکه څنګه چه تیر شوې دی دَ نقیض په بطلان سره مدعیٰ ثابته شوه .

**د سالبه کلیه عکس** : دَ سالبې کلیې عکس به هم سالبه کلیه راځی . ځکه چه کله محمول دَ موضوع دَ هر هر فرد نه نفی کړې شو نو دَ موضوع هم دَ محمول دَ هر هر فرد نه نفی اوکړې شوه یعنی سالبه کلیه راؤړلې شی لکه " لا شئ من الانسان بحجر " (سالبه کلیه ) ددې عکس راځی " لا شئ من الحجر بانسان " ( سالبه کلیه )

**دلیلِ ضمی** : زمونږ دا دعویٰ اومنئ چه دَ سالبه کلیه عکس سالبه کلیه راځی او دا نۀ منئ نو نقیض اومنئ او کۀ چرې

Maktaba Tul Ishaat.com

نقیض نۀ منئ نو ارتفاع نقیضین به لازم شی چه دا باطل دي مثلًا " لا شئ من الانسان بحجر " سالبه کلیه ده او ددې عکس سالبه کلیه " لا شئ من الحجر بانسان " صحیح اومنئ . او کۀ داسې نۀ وی نو بیا به ددې نقیض صادق راځی چه هغه " بعض الحجر انسان " دې او دا چه دَ اول سره ضم کړې شی نو داسې به شی " لا شئ من الانسان بحجر وبعض الحجر انسان " ددې نتیجه به دا راؤځی " بعض الانسان لیس بانسان " ځکه چه نتیجه تابع دَ ارذل وی او هغه جزئیه او سلب دې نو سلب الشئ عن نفسهٖ به لازمیږی چه دا محال دې لهٰذا دا نقیض محال دې . نو مدعیٰ ثابته شوه ، او کۀ چرې نقیض دې اومنلو نو دَ اصل خلاف به وی مثلًا " لا شئ من الانسان بحجر ، بعض الحجر انسان " ینتج محالاً . دلته کښی درې څیزونه دی اصل ، ضم او نقیض . اصل او ضم صحیح دی او نقیض باطل دې .

**د سالبه جزئیه عکس** : دَ سالبې کلیې عکس په لازمی طور باندې نۀ شی راتلې لکه بعض الحیوان لیس بانسان " دا رښتیا دی ددې عکس " بعض الانسان لیس بحیوان " کاذب دې .

البته کله چه نسبت دَ تباین وی یا دَ عموم وخصوص من وجه وی نو په دغه وخت کښی به دَ سالبه جزئیه عکس سالبه جزئیه راځی ، دَ تباین مثال " بعض من ... س لیس بانسان " ددې عکس " بعض من الانسان لیس بفرس " راځی . دَ عموم وخصوص من وجه مثال : بعض من الحیوان لیس باسود " ددې عکس " بعض من الاسود لیس

بحيوان " دي .

هركله چه په بعضِ صورتونو كښې دَ سالبه جزئيه عكس سالبه جزئيه نهٔ شي راتلې نو قاعده يئ دا جوړه كړه چه دَ سالبې كليې عكس بالكل نهٔ راځي . ځكه چه دَ منطق اصطلاحات او قوانين كلي وي . په دې كښې هيڅ قسمه استثناء نهٔ وي .

## القياس

" القياس قول مؤلف من اقوال متىٰ سلمت لزم عنها لذاتها قول آخر هو اما اقترانى كقولنا كل جسم مركب وكل مركب محدث فكل جسم محدث واما استثنائى كقولنا ان كانت الشمس طالعة فالنهار موجود ولٰكن النهار ليس بموجود فالشمس ليست بطالعة والمكرر بين مقدمتى القياس فصاعدًا يسمىٰ حدا اوسطًا وموضوع المطلوب يسمى حدا اصغرًا ومحموله يسمىٰ حدًا اكبر والمقدمة التي فيها الاصغر يسمىٰ الصغرىٰ والتى فيها الاكبر يسمىٰ الكبرىٰ ."

**ترجمه** : قياس دداسې څو اقوالو هغه مركب دې چه كله دا اقوال تسليم كړې شى نو ددې دَ ذات په وجه سره به يوه بله قضيه لازميږى او دا به يا اقترانى وى لكه زمونږ دا قول هر جسم مركب دې او هر مركب محدث دې ، پس جسم محدث دې . او يا به استثنائى وى لكه زمونږ دا قول : " كهٔ چرې نمر راختلې دې نو ورځ موجود ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

لیکن ورځ موجود نهٔ ده بس نمر نهٔ راختلې او دَ قیاس په درمیان کښې چه کوم څیز مکرر وی دَ هغې نوم حدِ اوسط مقرر کولې شی . دَ نتیجې دَ موضوع نوم حدِ اصغر او دَ محمول نوم حدِ اکبر کیخودې شی . او هغه مقدمه په کوم کښې چه اصغر وی دَ هغې نوم صغریٰ ایخودې شی او هغه مقدمه په کومه کښې چه اکبر وی دَ هغې نوم کبریٰ مقرر ایخودې شی .

**تشریح** : دَ منطقیانو په تصدیقاتو کښې اصل مقصد دلیل وحجت دې . قضایا او دَ هغې احکام دَ دلیل وحجت مبادی دی ددې وجې نه دا مخکښې ذکر کړې شول . اوس مصنف رحمه الله اصل مقصد بیانوی .

دَ دلیل وحجت درې قسمونه دی . ۱﴾...... قیاس ۲﴾...... استقراء ۳﴾...... تمثیل . چونکه قیاس په دې کښې عمده وو نو ځکه یئ هغه بیان کړو .

**د قیاس تعریف** : دَ قیاس لغوی معنیٰ ده " اندازه کوُل " ددې وجې نه پیمانې ته هم قیاس وائی او دویمه معنیٰ یئ برابری ده . مناطقه په یو اصطلاح کښې قیاس " قول مؤلف من اقوال متیٰ سلمت لزم عنها لذاتها قول آخر " ته وائی یعنی قیاس هغه قول دې چه دا مرکب وی دَ څو قضیو نه چه ددې په منلو سره دَ یوې بلې نوی قضیې منل لازمیږی .

لکه " هر انسان حیوان دې او هر حیوان جسم دې " ددې

نتیجه ده " هر انسان جسم دې " دې قولِ مرکب ته قیاس وائی او هغه نوی قضیه چه دَ هغې منل ضروری دی ، هغې ته نتیجه وائی .

دَ نتیجې درې نومونه دی ۱﴾...... نتیجه ۲﴾...... مطلوب ۳﴾...... دعویٰ . دَ منطقی حضراتو اصل موضوع دلیل وحجت او تعریف دې دا بنیادی حیثیت لری په تمامو علومو کښې دا بنیادی حیثیت لری .

**فوائدِ قیود** : قول په دوه قسمه دې ملفوظ او معقوله .

او قیاس هم په دوه قسمه دې په معقوله کښې قول هم معقول والثانی الثانی . قول په منزله دَ جنس دې په دې کښې ټول اقوال داخل شول .

مؤلف من اقوال : دا فصلِ اول دې په دې سره قضیه واحده اووتله . متیٰ سلمت : په منزله دَ فصلِ ثانی دې په دې سره ترینه قضایا اووتل چه دَ هغې ذات دَ دویمې قضیې دَ منلو تقاضا نۀ کوی .

متیٰ سلمت : په دې عبارت سره دې خبرې طرف ته اشاره ده چه دَ قیاس دَ دوو قضیو په نفس الامر کښې واقع کیدل ضروری نۀ دی لکه هر انسان کانړې دې او هر کانړې جامد دې ' نتیجه دا شوه چه " هر انسان جامد دې "

لزم عنها : په دې سره ترینه استقراء او تمثیل خارج شول ځکه چه ددې نتیجه لازمی نۀ وی بلکه ظنی وی .

لذاتها : په دې سره ترینه هغه قیاس اووتلې چه دَ هغې

Maktaba Tul Ishaat.com

نتیجه خو لازمی راځی ، لیکن بالذات نهٔ بلکه بالواسطه وی لکه " آ مساوی دې دَ با او با مساوی دې دَ جا " نو دلته کښې نتیجه لازم راځی لیکن بالواسطه او هغه واسطه دَ مساوی ، مساوی راځی .

**سوال** : دَ مؤلف ذکر کول لغو دی ځکه چه قول او مؤلف متحد دی ؟

**جواب** : په قول او مؤلف کښې دوه نظریې دی . بعضِ ددې دَ فرق قائل دی او بعضِ دَ عدمِ فرق قائل دی . کوم خلق چه دَ تفریق قائل دی هغوی وائی چه چونکه په قیاس کښې شرط دې چه دَ اجزاؤ په درمیان کښې دې تناسب وی نو ځکه یې مؤلف ذکر کړو او دویم فریق وائی چه دَ " مِن اقوال " جار مجرور متعلق یې راؤښکلې دې او کهٔ داسې نهٔ وه نو بیا به دَ مِن تبغیضیه وهم راتلو .

**سوال** : من مقدمات یې ولې اونهٔ وئیل ؟

**جواب** : ځکه چه دا مستلزم دې دَور لره ځکه چه دَ مقدمه په تعریف " ما وضعت جزء القیاس " کښې لفظِ قیاس مذکور دې .

**سوال** : اقوال جمع ده چه ددې کمه درجه درې ده یعنی قیاس به کم ازکم دَ دریو قضیو نه مرکب وی . حالانکه داسې نهٔ ده ؟

**جواب** : په اصطلاحِ مناطقه کښې دَ جمعې اول فرد ما فوق الواحد دې . یعنی ما فوق الواحد ته جمع وائی .

**سوال** : مسلمة یې ولې اونهٔ وئیل او سلمت یې ولې اووې مسلمة بمعنیٰ " تسلیم شُده "

**جواب** : دَ قضایا کاذبه دَ باقی ساتلو دپاره یې سلمت اووئیل .

ځکه کهٔ چرې مسلمة یې وئیلې وې نو قضایا کاذبه به خارج کېدل

حالانکه قیاس دَ قضایا کاذبه نه هم جوړیږی .

**فائده** : دَ نتیجې موضوع ته اصغر وائی او دَ نتیجې محمول ته اکبر .

**فائده** : کومه قضیه چه دَ قیاس جزء دې هغې ته مقدمه وائی .

**فائده** : په کومه مقدمه کښی چه اصغر وی هغې ته صغریٰ وائی او په کومه کښی چه اکبر وی هغې ته کبریٰ وائی .

**فائده** : په قیاس کښی چه کوم څیز مکرر وی نو هغې ته حدِ اوسط وائی .

**فائده** : حد په درې قسمه دې ۱﴾...... اوسط ۲﴾...... اصغر ۳﴾...... اکبر . په مقدماتو کښی چه کوم مکرر وی نو هغه حدِ اوسط دې او حدِ اصغر دادې چه موضوعِ نتیجه وی او په نتیجه کښی چه کوم محمول وی نو هغه حدِ اکبر دې .

**فائده** : دَ نتیجې دَ اخذ کؤلو طریقه داده چه دَ هغې نه دې حدِ اوسط اوغورزولې شی نو نتیجه به خوبخود پخپله اخذ شی .

دَ اصغر وجه تسمیه : دَ اصغر ( موضوع ) افراد په نسبت دَ اکبر کم وی ددې وجې نه ورته اصغر وائی .

**د اکبر وجه تسمیه** : دَ اکبر ( محمول ) افراد په نسبت دَ اصغر زیات وی نو ځکه ورته اکبر وائی .

**د صغری وجه تسمیه** : په صغریٰ کښی چونکه اصغر وی

Maktaba Tul Ishaat.com

نو ځکه ورته صغرىٰ وائی .

**د کبرىٰ وجه تسمیه** : په کبرىٰ کښې چونکه حدِ اکبر وی نو ددې وجې نه ورته کبرىٰ وائی .

**د حد اوسط وجه تسمیه** : حدِ اوسط ته اوسط ددې وجې نه وائی چه اوسط په معنىٰ دَ درمیان سره دې . او دا حدِ اوسط دَ موضوع او دَ محمول په نسبت سره په درمیان کښې وی نو ځکه ورته حدِ اوسط وائی او یا ددې وجې نه چه په شکلونو کښې دَ ټولو نه عمده او بهتر شکلِ اول دې او حدِ اوسط په شکلِ اول کښې دَ صغرىٰ او کبرىٰ سره وی یعنىٰ په درمیان کښې وی نو ځکه ورته حدِ اوسط وائی

**فائده** : دَ حد وجه تسمیه څۀ ده ؟

حد په معنىٰ دَ طرف سره دې او دا هم په طرف کښې واقع کیږی ، او اوسط په معنىٰ دَ درمیان یا وسیله دې او دا هم دَ نتیجې دپاره وسیله وی او ددې افراد مکمل دی . او حدِ اکبر په معنىٰ دَ طرف ځکه چه دا هم په طرف کښې واقع کیږی او اکبر په معنىٰ دَ زیات نو په دې کښې افراد زیات وی نو ځکه ورته اکبر وائی .

## د قیاس قسمونه

دَ قیاس دوه قسمونه دی ۱﴾...... اقترانی ۲﴾...... استثنائی

قیاسِ استثنائی : دا هغه قیاس دې چه دَ دوو قضیو نه مرکب وی او اولنۍ قضیه شرطیه وی . او دَ دواړو قضیو په درمیان کښې حرفِ لکن وی او بعینه نتیجه یا دَ نتیجې نقیض دَ مخکښې نه په

قیاس کښې مذکور وي .

**د عین نتیجه مثال** : ان کانت الشمس طالعة فالنهار موجود لکن الشمس موجود " نتیجه " فالنهار موجود " کۀ چرې نمر طلوع شی نو ورځ به موجود وی ، لیکن ورځ موجود ده ، بس ورځ موجود ده . په دې کښې بعینهٖ نتیجه " فالنهار موجود " په اول قضیه شرطیه کښې موجود ده .

**د نقیضِ نتیجه مثال** : ان کانت الشمس طالعة فالنهار موجود ولکن النهار لیس بموجود " نتیجه " فالشمس لیست بطالعة " اوس فالشمس لیست بطالعة نقیضِ نتیجه ده دَ اول قضیه شرطیه " الشمس طالعة " ځکه چه په هغې کښې اثبات دې او په دې کښې نفي ده .

**قیاسِ اقتراني** : قیاسِ اقتراني هغه قیاس دې چه په دې کښې دَ قیاسِ استثنائی درې واړه شرطونه مفقود وی یعنی قیاسِ اقتراني هغه قیاس دې چه دَ دوو قضیو نه مرکب وی او دَ دواړو قضیو په درمیان کښې حرفِ لکن نۀ وی . او بعینهٖ نتیجه یا دَ نتیجې نقیض هم په قیاس کښې مذکور نۀ وی لکه هر انسان حیوان دې او هر حیوان جسم والا دې ." نتیجه " هر انسان جسم والا دې ."

لکه " کل جسم مرکب وکل مرکب حادث " نتیجه " فکل جسم حادث " دا نتیجه مکمل په یوه قضیه کښې مذکور نۀ ده او نۀ نقیضِ نتیجه مذکور ده ، بلکه جُدا جُدا په دوو قضیو کښې مذکور ده

Maktaba Tul Ishaat.com

**د قیاسِ استثنائی وجه تسمیه** : استثنائی ته استثنائی ولې وائی . په استثنائی کښې یاء دپاره دَ نسبت ده یعني استثناء والا او په دې کښې هم حرفِ استثناء وی . چونکه په دې کښې استثناء موجود وی نو ځکه ورته استثنائی وائی .

**د قیاسِ اقترانی وجه تسمیه** : اقتران په معنیٰ دَ " پیوست " او قیاسِ اقترانی دَ حدِ اوسط وغیره سره ملاؤ او پیوست وی نو ځکه ورته اقترانی وائی .

**سوال** : دَ قیاس تعریف په قیاسِ استثنائی باندې صادق نۀ راځی ځکه چه په قیاس کښې شرط دې چه نتیجه به مغایر وی او په قیاسِ استثنائی کښې مغایرة نۀ وی .

**جواب** : په دې کښې مغایرة دَ کُل او جُزء موجود دې ځکه چه نتیجه دَکُل وی او کله چه په قیاس کښې واقع کیږی نو جزء وی .

**سوال** : په قیاسِ استثنائی کښې نتیجه بهیئته کیدل پکار دی حالانکه په نتیجه کښې حکم وی او کله چه دا قیاس واقع کیږی نو یا مقدم وی یا تالی او په دې دواړو کښې حکم نۀ وی ؟

**جواب** : دَ هیئت نه مراد ضرب شکل دې قطع نظر دَ حکم نه

**سوال** : مصنف رحمه الله قیاسِ اقترانی په قیاسِ استثنائی ولې مقدم کړې دې ؟

**جواب** : ځکه چه قیاسِ اقترانی په نسبت سره استثنائی ته بسیط دې .

**سوال** : لکن خو حرفِ استثناء نهٔ دې ؟

**جواب** : اګر چـه دَ نـحـوییـنـو پـه نزد بـاندې نـهٔ دې لیکن دَ مناطقه په نزد باندې دې .

**سوال** : مـصـنف رحـمـه الـلـه دَ دلیـل دوه قسمونـه ﴿۱﴾ استقراء ﴿۲﴾ تمثیل ولې بیان نکړل ؟

**جوابِ اول** : مـصـنف رحـمـه الـلـه دَ کتاب پـه شروع کښې وئیلـی وو چـه " فهٰذه رسالة " نـو دَ اختصار پیشِ نظریئ دَ دلیل دوه قسمونه استقراء او تمثیل پریخودل .

**جوابِ ثاني** : استـقـراء او تـمـثـیـل چـونـکـه دَ یقین فائده نهٔ ورکوی نو ځکه یئ ترك کړل .

**جوابِ ثالث** : دَ استـقـراء او تـمـثیـل زیات تعلق دَ فقه سره دې ددې وجې نه یئ پریخودل چه دا منطق دې .

" **وهیـاة التـالیف مـن الـصـغـریٰ والـکبریٰ یسمیٰ شکلا والاشـکـال اربـعة لان حـد الاوسط ان کان محمولًا فی الصغریٰ ومـوضـوعًـا فـی الـکـبـریٰ فهـو الشکل اولاول وان کان محمولًا فیهـمـا فهـو الشـکـل الثـانی وان کان موضوعًا فیهما فهو الشکل الثـالـث وان کان موضوعًا فی الصغریٰ ومحمولًا فی الکبریٰ فهو الشکل الرابع** "

**ترجمه** : دَ صـغـریٰ او دَ کبریٰ په ملاویدو سره چه کوم هیئت

Maktaba Tul Ishaat.com

حاصل شی هغې ته شکل وائی او اشکال څلور دی . څکه کۀ چرې حدِ اوسط په صغرئ کښې محمول وی او په کبرئ کښې موضوع وی نو دا شکلِ اول دې او کۀ چرې په دواړو کښې محمول وی نو دا شکلِ ثانی شو او کۀ چرې په دواړو کښې موضوع وی نو دا شکلِ ثالث دې او کۀ چرې په صغرئ کښې موضوع وی او په کبرئ کښې محمول وی نو دا شکلِ رابع دې .

**تشريح** : په دې عبارت سره دَ مصنف رحمه الله غرض دَ شکل تعريف او دَ شکل اقسام ( يعنی اشکالِ اربعه ) بيانول دی .

**د شکل تعريف** : دَ صغرئ او دَ کبرئ په ملاويدو سره چه دَ قياس کوم هيئت حاصل شی هغې ته شکل وائی او شکلونه ټول څلور دی .

**سوال** : دې ته شکل ولې وائی ؟

**جواب** : دَ شکل تعريف دادې چه " هيئة حاصلة بها احاطة الحد او الحدود " او په دې کښې هم هيئت خاصل دې نو څکه ورته شکل وائی .

**شکلِ اول** : چه حدِ اوسط په صغرئ کښې محمول وی او په کبرئ کښې موضوع وی نو دې ته شکلِ اول وائی لکه : هر انسان حيوان دې ، او هر حيوان جسم والا دې " نتيجه " هر انسان جسم والا دې "
کل جسم مرکب وکل مرکب محدث فکل جسم محدث ."

**شکلِ ثانی** : چه حدِ اوسط په دواړو کښې محمول وی . نو

دې تـه شـکـلِ ثانـي وائی لکه " هر انسان حیوان دې او هیڅ یو کانړې حیوان نۀ دې . ددې نتیجه ده " هیڅ انسان حیوان نۀ دې . "

**شکلِ ثالث** : چه حدِ اوسط په دواړو کښې موضوع وی لکه " هر انسان حیوان دې او بعضِ انسانان لیکلو والا دی ." نتیجه دا شوه " بعضِ انسانان لیکلو والا دی . "

**شکلِ رابع** : چه حدِ اوسط په صغرئ کښې موضوع وی او په کبرئ کښـې محمول وی نو دې ته شکلِ رابع وائی لکه : هر انسان حیـوان دې او بعضِ لیـکـلـو والا انسـانان دی . ددې نتیجـه ده " بعضِ لیکلو والا حیوان دی . "

**وجه تسمیه** : شـکـلِ اول تـه شـکـلِ اول ددې وجې نه وئیلی شـي چه شکلِ اول بدیهیة الانتاج وی . ددې په نتیجه کښې هیڅ شک وشُبهـه نۀ وی ددې وجې نـه ورتـه شکلِ اول وائی . او شکلِ ثانی ددې وجې نـه چـه دا دَ شکلِ اول سره ملاویږی یعنی دَ شکلِ ثانی صغرئ دَ شـکـلِ اول دَ صـغـرئ پـه شان وی نـو ځـکـه ورتـه شکلِ ثانی وائی ، او شـکـلِ ثالث ته ځکه شکلِ ثالث وائی چه دا په ارزل المقدمین کښې دَ شـکـلِ اول سره ملاویږی یعنی دَ شکلِ ثالث کبرئ دَ شکلِ اول دَ کبرئ په شان وی . او شـکـلِ رابـع تـه ددې وجې نـه شکلِ رابع وائی چه دا دَ شکلِ اول بالکل عکس دې . ددې وجې نه یې دا په آخر کښې راوستو او دَ شکلِ رابع نوم یې ورکړو .

بیـا ددې څلورو واړو شـکـلـونو پـه صـغـرئ او کبـرئ کښـې دَ

Maktaba Tul Ishaat.com

محصوراتِ اربعه یعنی موجبه کلیه ، موجبه جزئیه ، سالبه کلیه او سالبه جزئیه ' نه څۀ کیدې شی ددې وجې نه دَ قیاس دَ جوړیدو عقلی احتمالات دَ هر شکل شپاړس دی . بیا دَ شکل دَ نتیجې ورکولو څو شرائط دی هغه شرائط چه په کومو احتمالاتو کښی اوموندلې شی نو هغه احتمالات به نتیجه ورکوی او په کومو کښی چه هغه شرائط مفقود وی نو هغه احتمالات به نتیجه نۀ ورکوی . دَ شرائطو دَ وجې نه چه کوم احتمالات نتیجه ورکوی هغې ته ضروبِ نتیجه وائی او کۀ چرې نتیجه نۀ ورکوی نو هغې ته ضروبِ عقیمه وائی .

عبارت : والثانی یرتد الی الاول بعکس الکبریٰ والثالث یرتد الیه بعکس الصغریٰ والرابع یرتد الیه بعکس الترتیب وبعکس المقدمتین ."

**ترجمه** : او دویم شکل ، شکلِ اول طرف ته دَ کبریٰ په عکس سره واپس کیږی ، او دریم شکل ، شکلِ اول ته دَ صغریٰ په عکس سره آوړی او څلورم شکل ، شکلِ اول ته دَ ترتیب په عکس سره او دَ مُقدمتَیْنو په عکس سره واپس کیږی .

**تشریح** : په دې عبارت سره مصنف رحمه الله دَ درې وارو شکلونو شکلِ اول طرف ته دَ واپس کولو طریقه بیانوی . ځکه چه شکلِ اول مدار او معیار دې . کۀ چرې دَ نورو شکلونو په نتیجه باندې څۀ اعتراض او شُبهه واقع کیږی نو دغه اشکال دې دَ شکلِ اول مطابق کړی نو ددې دَ نتیجې جانچ پړتال کولې شی . ددې وجې نه ددې یادول

ډیر ضروري دی چه دَ نورو شکلونو شکلِ اول ته دَ رد کولو څۀ طریقه ده .

دَ شکلِ اول نتیجه بدیهي وی دَ شکلِ اول په نتیجه کښې هیڅ قسمه شُبهه او شك نۀ وی باقي دَ درې وارو شکلونو نتیجه مشکوك وی ، نو دَ شك ختمؤلو دپاره مشکوك نتیجه به شکلِ اول طرف ته اړولې شی ، یعنی دَ شکلِ اول نتیجې طرف ته به یئ رَد کوی مثلًا کۀ چرې دَ شکلِ ثاني وثالث او رابع نه دَ یو نتیجه دَ شکلِ اول دَ نتیجې په شان شوه نو بیا به ددې شکل نتیجه صحیح وی او کۀ دَ شلِ اول په شان نۀ وه نو بیا به غلطه وی ، ځکه چه دَ شکلِ اول نتیجه په هیڅ صورت کښې غلط کیدې نشی .

شکلِ ثاني په افضل المقدمتین کښې دَ شکلِ اول سره یوشان دې ددې وجې نه به عقلِ سلیم او صحیح الطبع والا سړی ته دا ضرورت نۀ وی چه هغه شکلِ ثاني ، شکلِ اول طرف ته رَد کړی ، او کۀ چرې ضرورت پیښ شو نو بیا مونږ ددې دپاره طریقۀ کار ښایو .

**د شکلِ ثاني نه د شکلِ اول د جوړولو طریقه** : دَ شکلِ ثاني دَ نتیجې دَ جانچ پړتال طریقه . دَ شکلِ ثاني چه کومه کبریٰ ده دَ هغې عکس به اوباسو، او بیا به هم دا عکس دَ کبریٰ په ځائ بانْدې کیږدې نو دا به شکلِ اول جوړ شی . اوس چه دَ شکلِ اول نه کومه نتیجه اخذ شی هغه به دَ شکلِ ثاني دَ اخذ کړَده نتیجې سره اوکتلې شی کۀ چرې دواړه یوشان وې نو نتیجه به صحیح وی او کۀ نۀ وې نو بیا به غلطه

Maktaba Tul Ishaat.com

وي . مثال دَ شکلِ ثاني " کل انسان حیوان لا شئ من الحجر بحیوان " ددې نتیجه ده " لا شئ من الانسان بحجر .

اوس به مونږ ددې شکلِ ثاني دَ کبرئ عکس راؤباسو . لکه " لا شئ من الحجر بحیوان " ددې عکس دې " لا شئ من الحیوان بحجر " اوس دا عکس دَ شکلِ اول دَ کبرئ په مقام باندې اولګوه .

کل انسان حیوان ولا شئ من الحیوان بحجر " نو دا شکلِ اول جوړ شو . ددې نتیجه ده " لا شیئ من الانسان بحجر . "

اوس ددې شکلِ ثاني نتیجه بعینه دَ شکلِ اول په شان ده .

ددې وجې نه دَ شکلِ ثاني نتیجه صحیح ده .

**د شکلِ ثالث نه د شکلِ اول د جوړولو طریقه** : دَ شکلِ ثالث دَ صغرئ عکس به راؤباسو ، بیا هم ددې صغرئ عکس به دَ شکلِ اول دَ صغرئ په مقام باندې اولګوو نو دا به شکلِ اول اوګرځي . اوس چه دَ شکلِ اول کومه نتیجه راؤځي نو هغه به دَ شکلِ ثالث دَ نتیجې سره اوکتلې شي کهٔ چرې یو شان وه نو نتیجه ټیك ده او کهٔ دَ شکلِ اول دَ نتیجې په شان نهٔ وه نو بیا به غلطه وي .

مثال دَ شکلِ ثالث : کل انسان حیوان . لا شئ من الانسان بحجر " ددې نتیجه ده " بعض الحیوان لیس بحجر . "

دا شکلِ ثالث دې . اوس ددې شکلِ ثالث دَ صغرئ عکس راؤباسئ لکه دَ " کل انسان حیوان " عکس دې " بعض الحیوان انسان " اوس دا عکس دَ شکلِ اول دَ صغرئ په مقام باندې کیږدې .

بعض الحیوان انسان ولا شئ من الانسان بحجر"
ددې نتیجه ده " بعض الحیوان لیس بحجر . "
دَ شکلِ ثالث نتیجه بعینهٖ دَ شکلِ اول دَ نتیجې په شان دې
لهذا دَ شکلِ ثالث نتیجه ټیك ده .

**د شکلِ رابع نه د شکلِ اول د جوړولو طریقه :** دَ شکلِ رابع نه دَ شکلِ اول دَ جوړولو دوه طریقې دی . دَ شکلِ رابع دَ نتیجې دَ جانچ پړتال دوه طریقې دی .

**اولنۍ طریقه :** دَ شکلِ رابع دَ دواړو مقدمو ترتیب دې بدل کړې شی یعنی صغریٰ دې دَ کبریٰ او کبریٰ دې دَ صغریٰ په ځائ کیخودې شی . اوس دا شکلِ اول اوګرځیدهٔ او بیا نتیجه اخذ کړئ . او ددې نتیجې نه بعد بیا ددې نتیجې عکس راؤباسئ اوس اوګورئ چه ددې عکس نتیجه دَ شکلِ اول دَ نتیجې په شان ده یا نهٔ ، کهٔ چرې دَ شکلِ اول په شان وه نو دا ټیك ده او کهٔ نهٔ وه نو بیا غلطه ده .

مثال دَ شکلِ رابع : کل انسان حساس کل ناطق انسان
دَ مقدمتینو عکس " کل ناطق انسان کل انسان حساس
نتیجه : " کل ناطق حساس .
عکسِ نتیجه : بعض الحساس ناطق " اوس دا عکسِ نتیجه " بعض الحساس ناطق " دَ طریقهٔ اول دَ شکلِ اول دَ نتیجې په شان دې ، هغه هم بعض الحساس انسان دې نو لهذا دَ شکلِ رابع نتیجه " بعض الحساس ناطق " هم صحیح شوه . غلطه نهٔ ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

**دویمه طریقه** : ٤١﴾...... دَ شکلِ رابع دَ دوارو مقدمو عکس دې اوکړې شي یعني دَ صغرئ او دَ کبرئ دوارو عکس دې اوویستلې شي او هغه دې دَ شکلِ اول دَ صغرئ او کبرئ په مقام باندې کیخودې شي نو دا به شکلِ اول اوګرځي . نو کومه چه دَ شکلِ اول نتیجه تیاره شي هغه دې دَ شکلِ رابع دَ نتیجې سره ملاؤ کړې شي . کهٔ چرې دواړه نتیجې یوشان وې نو دَ شکلِ رابع نتیجه به درست وي او کهٔ داسې نهٔ وه نو غلطه به وي .

دَ شکلِ رابع مثال : کل انسان حساس بعض الناطق انسان

نتیجه : بعض الحساس ناطق

مثال : عکسِ صغرئ وکبرئ شکلِ رابع : بعض الحساس انسان بعض الانسان ناطق . ددې نتیجه راؤځي : بعض الحساس ناطق . اوس دَ شکلِ اول نتیجه هم " بعض الحساس ناطق " او دَ شکلِ رابع نتیجه هم " بعض الحساس ناطق " ده . لهٰذا دَ شکلِ رابع نتیجه صحیح ده .

**ضابطه** : دَ مناطقهٔ په نزد باندې دَ ایجاب وسلب نه په کیفیت سره تعبیر کولې شي او دَ کلیت او جزئیت نه په کمیت سره تعبیر کولې شي . او کهٔ چرې په کیفیت کښې اختلاف واقع شي نو نتیجه به سالبه راځي او کهٔ چرې په کمیت کښې اختلاف وي نو بیا به دَ کلیه وجزئیه نه نتیجه جزئیه راځي یعني په شکلِ اول کښې به نتیجه همیشه دپاره دَ اخص وارذل تابع وي . کهٔ چرې دواړه موجبې وي

نو نتیجه به هم موجبه او کۀ چرې دواړه سالبې وی نو نتیجه به هم سالبه وی او کۀ چرې یوه موجبه وی او دویمه سالبه نو نتیجه به سالبه راځی .

دَ شکلِ ثانی نتیجه به سالبه راځی . او دَ شکلِ ثالث ورابع نتیجه به دَ کلیه وجزئیه نه جزئیه راځی کلیه به نۀ راځی .

**" وبدیهی الانتاج هو الاول والذی له عقل سلیم وطبع مستقیم لا یحتاج الیٰ رد الثانی الی الاول وانما ینتج الثانی عند اختلاف مقدمتیه بالایجاب والسلب وکلیة الکبریٰ . "**

**ترجمه** : بدیهی الانتاج ( واضح نتیجه ورکؤونکی ) شکلِ اول دې ، دَ چا چه عقلِ سلیم وی او طبیعت یې صحیح وی نو هغه به نۀ محتاج کیږی دَ شکلِ ثانی شکلِ اول طرف ته رَد کؤلو ته . او شکلِ ثانی به صرف دَ خپلو دواړو مقدمو دَ ایجاب وسلب په اعتبار سره دَ مختلف کیدو او دَ کبریٰ دَ کلیه کیدو په وخت نتیجه ورکوی .

**د شکلِ اول فضیلت** : په اشکالِ اربعه کښی بدیهی الانتاج یعنی واضح نتیجه ورکؤلو والا شکلِ اول دې یعنی ددې نه حاصل شُده نتیجه هر څوك تسلیموی او ددې دَ نتیجې ورکولو په عمل باندې هیڅ اشکال نشته دې او په دې کښی هیڅ قسمه شك وشُبهه نشته دې .

دَ شکلِ اول نتیجه په محصوراتِ اربعه کښی هم په څلورو واړو صورتونو کښی کیږی یعنی موجبه کلیه ، موجبه جزئیه ، سالبه

Maktaba Tul Ishaat.com

کلیه ، سالبه جزئیه . دَ باقی اشکالو نتیجه په څلورو وارو صورتونو کښې نۀ کیږی ، بلکه په بعضِ کښې کیږی او په بعضِ کښې نۀ کیږی . ددې وجې نه شکلِ اول په څلورو وارو شکلونو کښې افضل او بهتر دې . او ددې وجې نه په علومو کښې معیار گرځولې شوې دې . او دَ هم دې وجې نه نور اشکال دې شکلِ اول طرف ته اړولې شی ، او نتیجه اخذ کوی . او شکلِ ثانی شکلِ اول ته انتهائی نزدې دې ، ددې وجې نه چه دَ چاسره عقلِ سلیم وی او طبیعتِ صحیح وی نو هغه په آسانئ سره دَ شکلِ ثانی نه نتیجه اخذ کولې شی . او ددې شکلِ اول ته رَد کولو ته محتاج نۀ وی ځکه چه شکلِ ثانی دَ شکلِ اول سره مشابه دې دَ قیاس په اعلیٰ مقدمه صغریٰ کښې .

**فائده** : په قیاس کښې به دوه مقدمې ضرور وی او دواړه به دَ محصوراتِ اربعه نه وی .

**فائده** : دَ قیاس نتیجه به هم ددې مقدمو نه اخذ کولې شی دَ بهر نه به څۀ څیز نۀ شی راوړلې .

**فائده** : دَ نتیجې ویستلو په وخت به حدِ اوسط غورزولې شی .

**فائده** : دَ نتیجې اخذ کؤلو په وخت به دَ صغریٰ او دَ کبریٰ دواړو دَ حروفِ سور نه یو سور غورزولې شی .

**فائده** : نتیجه به همیشه دپاره دَ اخصِ ارذل تابع وی .

اخص دَ اعم په مقابله کښې دې په قضایا کښې کلیه اعم او

جزئیه اخص وی .

او ارذل دَ اشرف په مقابله کښې راځی په محصوراتِ اربعه کښې سالبه ارذل او موجبه اشرف وی . لهٰذا کله چه دَ قیاس نه نتیجه اخذ کولې شی نو په صغریٰ او کبریٰ کښې چه کومه سالبه او جزئیه وی دَ هغې تابع به نتیجه اخذ کولې شی . دَ مثال په طور باندې " بعض الجسم مؤلف ، لاشئ من المؤلف بمقدم " ددې نتیجه به " بعض الجسم لیس بقدیم " راځی ، په اخص او اعم کښې یئ اخص یعنی جزئیه واخسته او ایجاب او سلب کښې یئ سلب واخستو ، په ایساغوجی کښې به دَ ضرب شکلِ اول او شکلِ ثانی نه بحث په تفصیل سره کیږی ځکه چه ددې دواړو نه دَ نتیجې ورکولو شرائط معلومؤل اشد ضروری دی .

" والشکل الاول هو الذی جعل معیار للعلوم فنورده ههٰنا لیجعل دستورًا ومیزانا ینتج منه المطالب کلها وشرط انتاجها ایجاب الصغریٰ و کلیة الکبریٰ وضروبه المنتجة اربعة الضرب الاول کل جسم مؤلف وکل مؤلف محدث فکل جسم محدث والثانی کل جسم مؤلف ولا شئ من المؤلف بقدیم فلا شئ من الجسم بقدیم والثالث بعض الجسم مؤلف کل مؤلف محدث فبعض الجسم محدث والرابع بعض الجسم مؤلف ولا شئ من المؤلف بقدیم فبعض الجسم لیس بقدیم . "

Maktaba Tul Ishaat.com

**ترجمه** : شکلِ اول دَ علومو دپاره معیار گرځولې شوې دې . ددې وجې نه مونږ دلته کښې دا ( شکلِ اول ) پیش کوو ددې دپاره چه دا دستور او میزان مقرر کړې شی چه ددې نه تمام نتائج حاصل شی ، ددې ( شکلِ اول ) دَ نتیجې ورکؤلو شرط دادې چه صغریٰ به موجبه وی او کبریٰ به کلیه وی ددې نتیجه ورکؤنکی ضروب څلور دی . اولنې ضرب لکه هر جسم مرکب دې او هر مرکب حادث دې . ددې نتیجه ده هر جسم حادث دې . دویم ضرب " هر جسم مرکب دې او هیڅ یو مرکب قدیم نهٔ دې . نتیجه : هیڅ جسم قدیم نهٔ دې . دریم ضرب " بعض جسم مرکب دې او هر مرکب حادث دې . نتیجه بعضِ جسم حادث دې . څلورم ضرب لکه بعضِ جسم مرکب دې او هیڅ یو مرکب قدیم نهٔ دې . نتیجه : بعضِ جسم قدیم نهٔ دی .

**تشریح** : په دې عبارت کښی دَ شکلِ اول دَ نتیجې ورکؤلو شرائط او دَ شکلِ اول ضروبِ منتجه بیان کړې شوې دی . شکلِ اول څونکه دَ علومو دپاره معیار وو ددې وجې نه مونږ دلته شکلِ اول ذکر کوو ددې دپاره چه ددې نه تمام نتائج اخذ کړې شی .

**د شکلِ اول د نتیجه ورکولو شرائط** : دَ شکل اول دَ نتیجې ورکؤلو دوه شرطونه دی :

اولنې شرط : ایجابِ صغریٰ ، یعنی صغریٰ به موجبه وی برابره خبره ده کهٔ کلیه وی یا جزئیه .

دویم شرط : کلیتِ کبریٰ ، یعنی کبریٰ به کلیه وی برابره خبره

ده کۀ سالبه کلیه وي یا موجبه کلیه .

دَ شکل په عقلي طور باندې شپاړس ضربونه جوړېږي . لیکن ددې شکلِ اول نتیجه ورکؤنکي ټول څلور ضربونه دي . دَ شکلِ اول دَ شپاړسو احتمالاتو نه صرف څلور احتماله داسې دي چه دَ شرائطو په موجود کیدو سره نتیجه ورکوي چه دې ته ضروبِ نتیجه وائي باقي دولس احتمالات داسې دي چه دَ دواړو شرطونو دَ مفقود کیدو دَ وجې نه یا دَ یو شرط دَ مفقود کیدو دَ وجې نه نتیجه نۀ ورکوي چه دې ته ضروبِ عقیمه وائي .

اوس دَ شکلِ اول نقشه اوګورئ چه په دې کښې دَ هر احتمال نشاندهي شوې ده .

## نقشه شکلِ اول

| صغریٰ | کبریٰ | نتیجه | مثالِ صغریٰ | مثالِ کبریٰ | مثالِ نتیجه |
|---|---|---|---|---|---|
| موجبه کلیه | موجبه کلیه | موجبه کلیه | کل جسم مرکب | کل مرکب حادث | کل جسم حادث |
| موجبه کلیه | موجبه جزئیه | عقیمه | × | × | × |
| × | سالبه کلیه | سالبه کلیه | کل جسم مرکب | لا شئ فی المرکب بقدیم | لا شیئ من الجسم بقدیم |

Maktaba Tul Ishaat.com

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| × | سالبه جزئيه | × | × | × | × |
| موجبه جزئيه | موجبه كليه | موجبه جزئيه | بعض الجسم مركب | كل مركب حادث | بعض الجسم حادث |
| × | موجبه جزئيه | × | × | × | × |
| × | سالبه كليه | سالبه جزئيه | بعض الجسم مركب | لا شئ من المركب بقديم | بعض الجسم ليس بقديم |
| × | سالبه جزئيه | × | × | × | × |
| سالبه كليه | موجبه كليه | × | × | × | × |
| × | موجبه جزئيه | × | × | × | × |
| × | سالبه كليه | × | × | × | × |
| × | سالبه جزئيه | × | × | × | × |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| سالبه جزئیه | موجبه کلیه | × | × | × | × |
| × | موجبه جزئیه | × | × | × | × |
| × | سالبه کلیه | × | × | × | × |
| × | سالبه جزئیه | × | × | × | × |

## نقشه شکلِ اول

| نمبر شمار | صغریٰ | کبریٰ | منتجه وغیر منتجه |
|---|---|---|---|
| ۱ | موجبه کلیه | موجبه کلیه | منتجه ( موجبه کلیه) |
| ۲ | موجبه جزئیه | موجبه کلیه | منتجه (موجبه جزئیه) |
| ۳ | سالبه کلیه | موجبه کلیه | غیرِ منتجه |
| ۴ | سالبه جزئیه | موجبه کلیه | غیرِ منتجه |
| ۵ | موجبه کلیه | موجبه جزئیه | غیرِ منتجه |
| ۶ | موجبه جزئیه | موجبه جزئیه | غیرِ منتجه |
| ۷ | سالبه کلیه | موجبه جزئیه | غیرِ منتجه |
| ۸ | سالبه جزئیه | موجبه جزئیه | غیرِ منتجه |
| ۹ | موجبه کلیه | سالبه کلیه | منتجه( سالبه کلیه) |

Maktaba Tul Ishaat.com

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۰ | موجبه جزئیه | سالبه کلیه | منتجه (سالبه جزئیه) |
| ۱۱ | سالبه کلیه | سالبه کلیه | منتجه (سالبه جزئیه) |
| ۱۲ | سالبه جزئیه | سالبه کلیه | غیرِ منتجه |
| ۱۳ | موجبه کلیه | سالبه جزئیه | غیرِ منتجه |
| ۱۴ | موجبه جزئیه | سالبه جزئیه | غیرِ منتجه |
| ۱۵ | سالبه کلیه | سالبه جزئیه | غیرِ منتجه |
| ۱۶ | سالبه جزئیه | سالبه جزئیه | غیرِ منتجه |

دَ شکلِ اول ضروبِ اربعه منتجه دادی :

**اولني ضرب** : صغریٰ موجبه کلیه کبریٰ موجبه کلیه

هر جسم مؤلف دي او هر مؤلف محدث دي نتیجه : هر جسم محدث دي .

**دویم ضرب** : صغریٰ موجبه کلیه کبریٰ سالبه کلیه

هر جسم مؤلف دي هیڅ مؤلف قدیم نهٔ دي . نتیجه : هیڅ یو جسم قدیم نهٔ دي .

**دریم ضرب** : صغریٰ موجبه جزئیه کبریٰ موجبه کلیه

بعضِ جسم مؤلف دي هر مؤلف محدث دي . نتیجه : بعض جسم محدث دي .

**څلورم ضرب** : صغریٰ موجبه جزئیه کبریٰ سالبه کلیه

بعضِ جسم مؤلف دي هیڅ مؤلف قدیم نهٔ دي . نتیجه : بعضِ جسم قدیم نهٔ دي .

**شکلِ ثانی** دَ شکلِ ثانی دَ نتیجې ورکولو دپاره دوه شرطونه دی .

**اولنې شرط** : اختلاف المقدمتین . یعنی دواړه مقدمې به دَ ایجاب او دَ سلب په اعتبار سره مختلف وی . کهٔ چرې یو موجبه وی نو دویمه به سالبه وی .

**دویم شرط** : کلیتِ کبریٰ ، یعنی کبریٰ به کلی وی . ددې شکلِ ثانی هم څلور ضروب منتجه دی او باقی دولس غیرِ منتجه دی

## نقشه شکلِ ثانی

| صغریٰ | کبریٰ | نتیجه | مثالِ صغریٰ | مثالِ کبریٰ | مثالِ نتیجه |
|---|---|---|---|---|---|
| موجبه کلیه | موجبه کلیه | × | × | × | × |
| × | موجبه جزئیه | × | × | × | × |
| × | سالبه کلیه | سالبه کلیه | کل جسم مرکب | لا شئ من المرکب بقدیم | لاشئ من الجسم بقدیم |
| × | سالبه جزئیه | × | × | × | × |

Maktaba Tul Ishaat.com

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| موجبه جزئیه | موجبه کلیه | × | × | × | × |
| × | موجبه جزئیه | × | × | × | × |
| × | سالبه کلیه | سالبه جزئیه | بعض الانسان حیوان | لا شئ من الحجر بحیوان | بعض الانسان لیس بحجر |
| × | سالبه جزئیه | × | × | × | × |
| سالبه کلیه | موجبه کلیه | سالبه کلیه | لا شئ من الحجر بحیوان | کل انسان حیوان | لاشئ من الحجر بانسان |
| × | موجبه جزئیه | × | × | × | × |
| × | سالبه کلیه | × | × | × | × |
| × | سالبه جزئیه | × | × | × | × |

| سالبه جزئیه | موجبه کلیه | سالبه جزئیه | بعض الحجر لیس بانسان | کل انسان حیوان | بعض الحجر لیس بانسان |
|---|---|---|---|---|---|
| × | موجبه جزئیه | × | × | × | × |
| × | سالبه کلیه | × | × | × | × |
| × | سالبه جزئیه | × | × | × | × |

## د شکلِ ثاني څلور ضروبِ منتجه سره د مثالونو

**ضربِ اول** : صغریٰ موجبه کلیه کبریٰ سالبه کلیه نتیجه سالبه کلیه لکه : "کل انسان حیوان ولا شيئ من الحجر بحیوان فلا شئ من الانسان بحجر .

**ضربِ ثاني** : صغریٰ سالبه کلیه کبریٰ موجبه کلیه نتیجه سالبه کلیه لکه : " لا شئ من الحجر بانسان ، وکل ناطق انسان فلا شئ من الحجر بناطق .

**ضربِ ثالث** : صغریٰ موجبه جزئیه کبریٰ سالبه کلیه نتیجه سالبه جزئیه لکه " بعض الحیوان انسان ، لا شئ من الحجر بانسان فبعض الانسان لیس بحجر .

**ضرب رابع** : صغریٰ سالبه جزئیه کبریٰ موجبه کلیه

Maktaba Tul Ishaat.com

نتیـجه سالبـه جزئیـه لکه " بعض الحیوان لیس بانسان ، وکل ناطق انسان ، فبعض الحیوان لیس بناطق .

دَ شکلِ ثالث دَ نتیـجه ورکولو دپاره دوه شرطونه دی ۱﴾..... ایـجاب صغریٰ ۲﴾..... کلیـه احد المقدمتین . یعنی په صغریٰ او کبریٰ دواړو کښې بـه یو ضرور کلیه وی او صغریٰ به په هر حال کښې موجبـه وی . پـه دې اعتبار سره دَ شکلِ ثالث دَ شپاړسو احتمالاتو نه شپږ احتمالات داسې دی چه دَ شرائطو دَ موجود کیدو دَ وجې نه نتیـجه ورکوی او دې تـه ضروبِ منتـجه وائی . باقی لس احتمالات ضروبِ عقیمه دی .

## نقشه شکلِ ثالث

| صغریٰ | کبریٰ | نتیجه | مثالِ صغریٰ | مثالِ کبریٰ | مثالِ نتیجه |
|---|---|---|---|---|---|
| موجبه کلیه | موجبه کلیه | موجبه جزئیه | کلُّ انسان حیوان | کل انسان ناطق | بعض الحیوان ناطق |
| × | موجبه جزئیه | موجبه جزئیه | کل انسان حیوان | بعض الانسان کاتب | بعض الحیوان کاتب |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| × | سالبه کلیه | سالبه جزئیه | کل انسان حیوان | لاشئ من الانسان بحجر | بعض الحیوان لیس بحجر |
| × | سالبه جزئیه | سالبه جزئیه | کل حیوان جسم | بعض الحیوان لیس بضاحك | بعض الجسم لیس بضاحك |
| موجبه جزئیه | موجبه کلیه | موجبه جزئیه | بعض الحیوان انسان | کل حیوان متنفس | بعض الأنسان متنفس |
| × | موجبه جزئیه | × | × | × | × |
| × | سالبه کلیه | سالبه جزئیه | بعض الحیوان انسان | لاشئ من الحیوان بحجر | بعض الانسان لیس بحجر |
| × | سالبه جزئیه | × | × | × | × |
| سالبه کلیه | موجبه کلیه | × | × | × | × |

Maktaba Tul Ishaat.com

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| × | موجبه جزئیه | × | × | × | × |
| × | سالبه کلیه | × | × | × | × |
| × | سالبه جزئیه | × | × | × | × |
| سالبه جزئیه | موجبه کلیه | × | × | × | × |
| × | موجبه جزئیه | × | × | × | × |
| × | سالبه کلیه | × | × | × | × |
| × | سالبه جزئیه | × | × | × | × |

## د شکلِ ثالث شپږ ضروبِ منتجه سره د مثالونو

**ضربِ اول** : صغریٰ او کبریٰ موجبه کلیه نتیجه : موجبه جزئیه لکه : " کل انسان حیوان ، وکل انسان ناطق ، فبعض الحیوان ناطق .

**جربِ ثانی** : صغریٰ موجبه کلیه ، کبریٰ سالبه کلیه نتیجه : سالبه جزئیه : لکه " کل انسان حیوان ، ولا شئ من الانسان بحجر ،

فبعض الحیوان لیس بحجر.

**ضربِ ثالث:** صغریٰ موجبه کلیه کبریٰ موجبه جزئیه، نتیجه: موجبه جزئیه. لکه "کل انسان حیوان، بعض الانسان کاتب، فبعض الحیوان کاتب.

**ضربِ رابع:** صغریٰ موجبه جزئیه کبریٰ موجبه کلیه، نتیجه موجبه جزئیه. لکه "بعض الحیوان انسان، وکل حیوان متنفس، فبعض الانسان متنفس.

**ضربِ خامس:** صغریٰ موجبه جزئیه. کبریٰ سالبه کلیه. نتیجه سالبه جزئیه لکه: بعض الحیوان انسان، ولا شیئ من الحیوان بجماد، فبعض الانسان لیس بجماد."

**ضربِ سادس:** صغریٰ موجبه کلیه کبریٰ سالبه جزئیه، نتیجه سالبه جزئیه. لکه "کل حیوان جسم، وبعض الحیوان لیس بضاحك، فبعض الجسم لیس بضاحك."

**شکلِ رابع:** دَ شکلِ رابع دَ نتیجه ورکولو دپاره دوه صورتونه دی

۱﴾...... اختلاف المقدمتین فی الکیف وکلیة احداهما" دَ دواړو مقدمو اختلاف کیدل په ایجاب او سلب کښې او په دواړو کښې دَ یوې مقدمې کلیه کیدل. یعنی کهٔ چرې یوه موجبه ده نو دویمه سالبه، او په صغریٰ او کبریٰ کښې دَ یوې کلیه کیدل ضروری دی یعنی دواړه به جزئیې نهٔ وی، او کهٔ داسې نهٔ وی نو هغه احتمال به ...ه نهٔ ورکوی.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲﴾...... ایجاب مقدمتین وکلیة صغریٰ : یعنی صغریٰ او کبریٰ به دواړه موجبه وي او صغریٰ به موجبه هم وي او کلیه هم . او که داسې نهٔ وي نو نتیجه به نهٔ ورکوي .

ددې شکلِ رابع شپاړس ضربونه دي چه په دې کښې اتهٔ منتجه دي او اتهٔ غیرِ منتجه .

## نقشه شکلِ رابع

| صغریٰ | کبریٰ | نتیجه | مثالِ صغریٰ | مثالِ کبریٰ | مثالِ نتیجه |
|---|---|---|---|---|---|
| موجبه کلیه | موجبه کلیه | سالبه جزئیه | کل انسان حساس | کل ناطق انسان | بعض الحساس ناطق |
| × | موجبه جزئیه | سالبه جزئیه | کل انسان حیوان | بعض الحساس حیوان | بعض الحیوان حساس |
| × | سالبه کلیه | سالبه جزئیه | کل انسان حیوان | لاشیئ من الحجر بحیوان | بعض الحیوان لیس بحجر |
| × | سالبه جزئیه | سالبه جزئیه | کل انسان جسم | بعض الحیوان لیس بالانسان | بعض الجسم لیس بحیوان |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| موجبه جزئیه | موجبه کلیه | × | × | × | × |
| × | موجبه جزئیه | × | × | × | × |
| × | سالبه کلیه | سالبه جزئیه | بعض الحیوان انسان | لاشئ من الحجر بحیوان | بعض الانسان لیس بحجر |
| × | سالبه جزئیه | × | × | × | × |
| سالبه کلیه | موجبه کلیه | سالبه کلیه | لاشئ من الحیوان بحجر | کل حساس حیوان | لاشئ من الحجر بحساس |
| × | موجبه جزئیه | سالبه جزئیه | لاشئ من الحیوان بحجر | بعض الحیوان انسان | بعض الحجر لیس بحیوان |
| × | سالبه کلیه | × | × | × | × |
| × | سالبه جزئیه | × | × | × | × |

Maktaba Tul Ishaat.com

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| سالبه جزئیه | موجبه کلیه | سالبه جزئیه | بعض الحیوان لیس بانسان | کل کاتب حیوان . | بعض الانسان لیس بکاتب |
| × | موجبه جزئیه | × | × | × | × |
| × | سالبه کلیه | × | × | × | × |
| × | سالبه جزئیه | × | × | × | × |

دَ څلورو وارو شکلونو مشترکه نقشه اوګورئ کوم احتمال چه نتیجه ورکوی چه دَ هر شکل وی هغې ته مخامخ به " ص " لیکلی شی چه دا دَ هغې په صحیح کیدو باندې دلالت کوی ، او کوم احتمال چه نتیجه نهٔ ورکوی برابره خبره ده چه دَ هریو شکل وی دهغې ته مخامخ به ' غ ' لیکلی شی چه دا به دَ هغې په غلط کیدو باندې دلالت کوی .

## د شکلِ رابع اتهٔ ضروبِ منتجه سره د مثالونو

**ضرب اول** : صغریٰ او کبریٰ موجبه کلیه ، نتیجه موجبه جزئیه لکه " کل انسان حساس ، وکل ناطق انسان فبعض الحساس ناطق .

**ضرب ثاني** : صغریٰ موجبه کلیه ، کبریٰ موجبه جزئیه نتیجه موجبه جزئیه لکه " کل انسان حیوان وبعض الابیض انسان فبعض

الحيوان ابيض .

**ضربِ ثالث** : صغرىٰ سالبه كليه ، كبرىٰ موجبه كليه نتيجه سالبه كليه لكه " لا شئ من الحيوان بحجر وكل حساس حيوان فلا شئ من الحجر بحساس .

**ضربِ رابع** : صغرىٰ موجبه كليه ، كبرىٰ سالبه كليه نتيجه سالبه جزئيه لكه : كل انسانِ جسم ولا شئ من الحجر بانسان فبعض الجسم ليس بحجر .

**ضربِ خامس** : صغرىٰ موجبه جزئيه ، كبرىٰ سالبه كليه نتيجه سالبه جزئيه لكه " بعض الحيوان انسان ، ولا شئ من الحجر بحيوان فبعض الحيوان ليس بحجر .

**ضربِ سادس** : صغرىٰ سالبه جزئيه ، كبرىٰ موجبه كليه ، نتيجه سالبه جِزئيه . مثال : بعض الحيوان ليس بانسان ، وكل كاتب حيوان فبعض الانسان ليس بكاتب .

**ضربِ سابع** : صغرىٰ موجبه كليه ، كبرىٰ سالبه جزئيه ، نتيجه سالبه جزئيه . مثال : كل انسان جسم وبعض الحيوان ليس بانسان فبعض الجسم ليس بحيوان .

**ضربِ ثامن** : صغرىٰ سالبه كليه ، كبرىٰ موجبه جزئيه ، نتيجه سالبه جزئيه . مثال : لا شئ من الانسان بحجر وبعض الحيوان انسان فبعض الحجر ليس بحيوان .

★ ..... ★ ..... ★ ..... ★ ..... ★ ..... ★ ..... ★ ..... ★

Maktaba Tul Ishaat.com

## نقشه اشکالِ اربعه ، صورت صحیحه وصورت غیر صحیحه

| صغریٰ | کبریٰ | شکلِ اول | شکلِ ثانی | شکلِ ثالث | شکلِ رابع |
|---|---|---|---|---|---|
| موجبه کلیه | موجبه کلیه | ص ۱ | غ | ص ۱ | ص ۱ |
| × | موجبه جزئیه | غ | غ | ص ۲ | ص ۲ |
| × | سالبه کلیه | ص ۲ | ص ۱ | ص ۳ | ص ۳ |
| × | سالبه جزئیه | غ | غ | ص ۴ | ص ۴ |
| موجبه جزئیه | موجبه کلیه | ص ۳ | غ | ص ۵ | غ |
| × | موجبه جزئیه | غ | غ | غ | غ |
| × | سالبه کلیه | ص ۴ | ص ۲ | ص ۶ | ص ۵ |
| × | سالبه جزئیه | غ | غ | غ | غ |
| سالبه کلیه | موجبه کلیه | غ | ص ۳ | غ | ص ۶ |
| × | موجبه جزئیه | غ | غ | غ | ص ۷ |
| × | سالبه کلیه | غ | غ | غ | غ |
| × | سالبه جزئیه | غ | غ | غ | غ |
| سالبه جزئیه | موجبه کلیه | غ | ص ۴ | غ | ص ۸ |
| × | موجبه جزئیه | غ | غ | غ | غ |
| × | سالبه کلیه | غ | غ | غ | غ |
| × | سالبه جزئیه | غ | غ | غ | غ |

**فائده :** شکلِ ثالث او شکلِ رابع کثير الاستعمال نهٔ وو نو ځکه يئ ددې دَ نتيجې ورکولو دپاره شرطونه بيان نکړل ، او شکلِ اول او شکلِ ثانی کثير الاستعمال وو ، نو ددې وجې نه يئ ددې دَ نتيجې ورکولو شرطونه بيان کړل .

## د اشکالِ اربعه مراتب

**سوال :** شکلِ اول ته يئ دَ اوليت درجه ولې ورکړه ؟

**جواب :** ځکه چه ددې ترتيب دَ طبع سليم مطابق دې ، طبع سليم مقتضی ده چه اول دې حدِ اصغر او بيا حدِ اوسط او بيا دې حدِ اکبر وی .

**سوال :** دَ شکلِ ثانی په دويمه درجه کښې دَ کيخودو څهٔ سبب دې ؟

**جواب :** دا په اشرف المقدمتين يعنی په صغریٰ کښې دَ شکلِ اول سره شريك دې . نو ځکه يئ په درجهٔ ثانی کښې کيخودهٔ .

**سوال :** شکلِ ثالث يئ په دريمه درجه کښې ولې کيخودهٔ ؟

**جواب :** ځکه چه دا په ارذل المقدمتين يعنی په کبریٰ کښې شکلِ اول سره شريك دې . ليکن په اشرف المقدمتين کښې نهٔ .

**سوال :** شکلِ رابع ته يئ څلورمه او آخری درجه ولې ورکړه ؟

**جواب :** شکلِ رابع ته يئ آخری درجه ځکه ورکړه چه دا ارذل المقدمتين دې ځکه چه دا نهٔ په کبریٰ کښې دَ شکلِ اول سره شريك دې او نهٔ په صغریٰ کښې . او په دهٔ کښې دومره بُعد دې چه بعضِ خو ورته دَ سر نه شکل نهٔ وائی .

" والقياس الاقتراني اما من حمليتين كما مر واما من متصلتين كقولنا ان كانت الشمس طالعة فالنهار موجود وكلما

Maktaba Tul Ishaat.com

كان النهار موجودًا فالارض مضيئة ينتج ان كانت الشمس طالعة فالارض مضيئة واما من منفصلتين كقولنا كل عدد امام زوج او فرد ، وكل زوج فهو اما زوج الزوج او زوج الفرد . ينتج كل عدد فهو اما فرد او زوج الزوج او زوج الفرد واما من حملية ومتصلة كقولنا كلما كان هٰذا انسانًا فهو حيوان وكل حيوان فهو جسم ينتج كلما كان هٰذا إنسانًا فهو جسم واما من حملية ومنفصلة كقولنا كل عدد اما فرد او زوج وكل زوج فهو منقسم بمتساويين ينتج كل عدد فهو اما فرد واما منقسم بمتساويين واما من متصلة ومنفصلة كقولنا كلما كان هٰذا انسانا فهو حيوان وكل حيوان فهو اما ابيض او اسود ينتج كلما كان هذا انسانًا فهو اما ابيض او اسود . "

**ترجمه** : قياسِ اقتراني به يا دَ دوو قضيو حمليه ؤ نه مركب وي لكه څنګه چه ددې مثال تير شوې دې او يا به دَ دوو متصله ؤ نه مركب وي لكه زمونږ دا قول شو كۀ چرې نمر راختلې وي نو ورځ به موجود وي او كله چه ورځ موجوده وي نو زمكه به روښانه وي . نتيجه " كۀ چرې نمر راختلې وي نو زمكه به روښانه وي . " او يا به دَ دوو منفصله ؤ نه مركب وي لكه زمونږ دا قول شو :" هر عدد يا به طاق وي يا جفت او هر جفت به يا دَ جفت ، جُفت وي او يا دَ طاق جفت . ددې نتيجه ده " هر عدد به يا طاقي يا به دَ جفت جفت وي او يا به دَ طاق جفت وي . " او يا به دَ يو حمليه او يو متصله نه مركب وي لكه زمونږ دا قول : كله چه هم دا انسان وي نو حيوان به وي او هر حيوان جسم دې ددې نتيجه ده : كله هم چه دا انسان وي نو جسم به وي . " او يا به دَ يو

حملیه او یو منفصله نه مرکب وی لکه زمونږ دا قول شو " هر عدد به یا طاق وی یا جفت ، او هر جفت په دوو برابر حصو کښی تقسیمیږی . نتیجه هر عدد به یا طاق وی او یا به په دوو برابر حصو کښی تقسیمیږی دا نتیجه ورکوی " هر عدد به یا طاق وی او یا به په دوو برابر حصو تقسیمیږی او یا به دَ یو متصله او یو منفصله نه مرکب وی لکه زمونږ دا قول شو " چه کله هم انسان وی نو حیوان به وی او هر حیوان به یا سپین وی او یا تور . " دا نتیجه ورکوی " چه کله هم دا انسان وی نو یا به سپین وی او یا تور ."

**تشریح** : په دې عبارت کښی مصنف رحمه الله دَ قیاسِ اقترانی دَ ترکیب شپږ احتمالات بیانوی .

﴿۱﴾...... دواړه به حملیې وی ﴿۲﴾...... دواړه به شرطیه متصله وی ﴿۳﴾...... دواړه به شرطیه منفصله وی ﴿۴﴾...... یو حملیه دویمه متصله . ﴿۵﴾...... یوه حملیه او دویمه منفصله . ﴿٦﴾...... یوه متصله وی او دویمه منفصله .

امثله

﴿۱﴾...... دواړه به حملیې وی ، مثال : کل جسم مرکب ، کل مرکب حادث . نتیجه : فکل جسم حادث .

﴿۲﴾...... دواړه به شرطیه متصله وی . مثال : صغریٰ : ان کانت الشمس طالعة فالنهار موجود . کبریٰ : کلما کان النهار موجودًا فالارض مضیئة . نتیجه : ان کانت الشمس طالعة فالارض مضیئة .

نتیجه : ان کانت الشمس طالعة فالارض مضیئة .

﴿۳﴾...... چه دواړه منفصله وی . مثال ، صغریٰ : کل عدد اما

Maktaba Tul Ishaat.com

زوج او فرد . کبریٰ : وکل زوج فهو اما زوج الزوج او زوج الفرد .

نتیجه : کل عدد فهو اما فرد او زوج الزوج او زوج الفرد .

۴﴾...... یوه حملیه وی او دویمه متصله : مثال . صغریٰ : کلما کان هٰذا انسانًا فهو حیوان . کبریٰ : کل حیوان فهو جسم . نتیجه : کلما کان هٰذا انسانًا فهو جسم .

۵﴾...... یوه حملیه او دویمه منفصله : مثال . صغریٰ : کل عدد اما فرد او زوج . کبریٰ : کل زوج فهو منقسم بمتساویین . نتیجه : کل عدد فهو اما فرد واما منقسم بمتساویین .

٦﴾...... یوه متصله وی او دویمه منفصله : مثال . صغریٰ . کلما کان هٰذا انسانًا فهو حیوان کبریٰ : کل حیوان فهو اما ابیض او اسود . نتجه : کلما کان هذا انسانًا فهو اما ابیض او اسود .

سوال : کهٔ چرې قیاسِ اقترانی دَ دوو قضیه شرطیه یا متصله یا منفصله یو دَ یو متصله او یو منفصله نه مرکب وی نو دې ته شرطیه وئیل صحیح دی . لیکن کهٔ چرې یوه قضیه حملیه وی او بله منفصله یا متصله وی نو دې ته شرطیه وئیل څنګه صحیح شو ؟

جواب : دَ قیاسِ شرطی چه دَ یو قضیه حملیه او یو دَ شرطیه نه مرکب وی نو دې ته یئ شرطیه دَ " تسمیة الکل باسم الجزء الاعظم " دَ قاعدې لاندې وئیلی دی ، یعنی دَ کُل نوم ایخودل دَ جزءِ اعظم په نوم ، او جزءِ اعظم شرطیه دې نو ددې وجې نه یئ دې قیاس ته هم شرطی اووې .

**فائده:** بعضِ خلقو دَ قیاسِ اقترانی په ترکیب کښې نهٔ احتمالات ذکر کړې دی او هغه دادی :

﴿۱﴾...... چه دَ دوو حملیه ؤ نه مرکب وی ﴿۲﴾...... دَ دوو متصله نه جوړ وی . ﴿۳﴾...... دَ دوو منفصله نه مرکب وی ﴿۴﴾...... چه اول حملیه وی او دویمه متصله ﴿۵﴾...... اول حملیه وی او دویمه منفصله ﴿۶﴾...... اول متصله وی او دویمه منفصله ﴿۷﴾...... اول متصله وی او دویمه حملیه ﴿۸﴾...... اول منفصله وی او دویمه حملیه وی ﴿۹﴾...... اول منفصله وی او دویمه متصله . دا ټول نهٔ احتمالات شو . یعنیَ هغوی په ایساغوجی کښِ دَ مذکور دری آخری احتمالاتو کښی دَ تقدیم وتاخیر دَ فرق اعتبار کړې دې چه ددې نقشه لاندې ذکر کولې شی :

| نمبر شمار | صغرىٰ | کبرىٰ | نمبر شمار | صغرىٰ | کبرىٰ | نمبر شمار | صغرىٰ | کبرىٰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | حملیه | حملیه | ٤ | متصله | متصله | ۷ | منفصله | منفصله |
| ۲ | حملیه | متصله | ۵ | متصله | منفصله | ۸ | منفصله | متصله |
| ۳ | حملیه | منفصله | ٦ | متصله | حملیه | ۹ | منفصله | حملیه |

**سوال** : زوج الزوج او زوج الفرد څهٔ ته وائی ؟

**جواب** : کوم عدد چه منقسم بمتساویین وی نو هغه به ضرور تنصیف قبلوی . اوس به دا یو ځل تنصیف قبلوی او یا زیات کرته ، اولنې زوج الفرد ې لکه دَ لسو عدد چه ددې نصف پنځهٔ راځی او ددې نه وړاندې بیا قابلِ تنصیف نهٔ دې او په دویم کښی به ګورو چه منتهی الی الواحد دې یا نهٔ ؟ اولنی ته زوج الزوج وائی لکه دَ څلورو عدد چه ددې نصف دوه او دَ دوو نصف یو دې . او دویم ته به زوج الزوج والفرد وئیلی شی لکه دَ دولسو عدد چه ددې نصف شپږ راځی او دَ شپږ نصف درې او وړاندې سلسله بند ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

**" واما القیاس الاستثنائی فالشرطیة الموضوعة فیه ان کانت متصلة فاستثناء المقدم ینتج عن التالی کقولنا ان کان هٰذا انسانًا فهو حیوان لکنه انسان فیکون حیوانًا واستثناء نقیض التالی ینتج نقیض المقدم کقولنا ان کان هٰذا انسانًا فهو حیوان لکنه لیس بحیوان فلا یکون انسانًا "**

**ترجمه** : په قیاسِ استثنائی کښې چه کومه مقدمه وی کۀ چرې هغه متصله وی نو دَ عینِ مقدم استثناء کؤلو سره به نتیجه دَ عینِ تالی راځی .لکه زمونږ دا قول کۀ چرې دا انسان دې نو حیوان هم دې لیکن هغه انسان دې بس هغه حیوان دې . او دَ تالی دَ نقیض په استثناء کؤلو سره به نتیجه دَ مقدم دَ نقیض راځی لکه زمونږ دا قول کۀ چرې دا انسان دې نو حیوان هم دې لیکن هغه حیوان نۀ دې بس هغه انسان نۀ دې ."

**قیاسِ استثنائی** : هغه قیاس دې چه دَ دوو قضیو نه مرکب وی او اولنۍ قضیه شرطیه وی او ددې دواړو قضیو په درمیان کښې حرفِ لکن وی او نتیجه یا نقیضِ نتیجه بعینهٖ دَ مخکښې نه په قیاس کښې مذکور وی . لکه دا مثال : کۀ چرې نمر راؤختلو نو ورځ به موجود وی لیکن نمر موجود دې . نتیجه دا شوه " بس ورځ موجود ده قیاسِ استثنائی ته په منطق کښې ډیر زیات ضرورت راځی دَ تولو نه مخکښې څو فوائد ذکر کولې شی .

**ضابطه** : په قیاسِ استثنائی کښې به اولنۍ قضیه شرطیه وی بیا به یا متصله لزومیه وی او یا منفصله عنادیه حقیقیه ، یا منفصله عنادیه مانعة الجمع وی او یا به منفصله عنادیه مانعة الخلو

وی . دا څلور احتمالات په صغریٰ کښې دی چه په دې کښې نتیجه راځی ، او په څلورو کښې نتیجه نهٔ راځی . هغه څلور چه پکښې نتیجه نهٔ راځی هغه دادی . قضیهٔ اول متصله اتفاقیه وی . یا منفصله اتفاقیه حقیقه وی . یا منفصله اتفاقیه مانعة الجمع وی . یا منفصله اتفاقیه مانعة الخلو وی .

**ضابطه** : په قیاسِ استثنائی کښې کبریٰ دَ بهر نه نهٔ شی راؤړلې بلکه هم دَ صغریٰ نه اخستې شی بیا به کبیر یا عینِ مقدم وی یا عینِ تالی یا به نقیضِ مقدم وی یا نقیضِ تالی .

**ضابطه** : په قیاسِ استثنائی کښې نتیجه دَ بهر نه نهٔ شی راوړلې بلکه نتیجه به هم په صغریٰ کښې موجود وی ، نو نتیجه به یا عینِ مقدم وی یا عینِ تالی . یا نقیضِ مقدم یا نقیضِ تالی وی .

**ضابطه** : په قیاسِ استثنائی کښې کبریٰ دَ حرفِ استثناء نه بعد واقع کیږی ددې وجې نه ورته استثنائی وائی .

دَ نتیجې ویستلو طریقه

په قیاسِ استثنائی کښې چه کومه قضیه شرطیه ده کهٔ چرې هغه متصله وی نو دَ هغې دَ استثناء څلور طریقې دی . ۱﴾...... دَ عینِ مقدم استثناء ۲﴾...... دَ عینِ تالی استثناء ۳﴾...... دَ نقیضِ مقدم استثناء ۴﴾...... دَ نقیضِ تالی استثناء . صرف په اولنی او څلورم صورت کښې نتیجه حاصلیږی .

په اولنی صورت کښې به نتیجه عینِ تالی وی او په څلورم صورت کښې به نتیجه نقیضِ مقدم وی . چه ددې توضیح داده .

**استثناء عین مقدم** : مثال " ان کان هٰذا انسانًا فهو حیوان

Maktaba Tul Ishaat.com

لکنه انسان " نو نتیجه به حاصلیږی " فیکون حیوانًا " ځکه چه دَ عینِ مقدم دَ استثناء نه نتیجه عینِ تالی راځی .

او عینِ تالی " فیکون حیوانا " دې ځکه چه حیوان لازم دې او انسان ملزوم دې او وجود دَ ملزوم مستلزم وی وجود دَ لازم لره .

**استثناء نقیضِ مقدم** : مثال " ان کان هٰذا انسانًا فهو حیوان لکنه لس بانسان " ددې نه به نتیجه نهٔ حاصلیږی . ځکه چه دَ مقدمَ نقیض دَ استثناء نه نتیجه نهٔ حاصلیږی . ځکه چه انسان ملزوم دې او حیوان لازم دې او انتفائے ملزوم مستلزم نهٔ وی انتفائے لازم لره .

**استثناءِ عین تالی** : مثال " ان کان هٰذا انسانًا فهو حیوان ، لکنه حیوان " بس په دې سره به نتیجه نهٔ حاصلیږی ځکه چه حیوان لازم دې او انسان ملزوم دې او وجودِ لازم مستلزم نهٔ دې وجودِ ملزوم لره او بل ددې وجې نه چه لازم عام دې او ملزوم خاص دې او وجودِ عام وجودِ خاص لره مستلزم نهٔ دې .

**استثناءِ نقیضِ تالی** : مثال " ان کان هٰذا انسانًا فهو حیوان لکنه لیس بحیوان ." ددې نه به نتیجه حاصلیږی چه " فهو لیس بانسان " ځکه چه حیوان لازم دې او انسان ملزوم دې او انتفائے لازم مستلزم دې انتفائے ملزوم لره .

**فائده** : او دا ( یعنی دَ اولنی او دَ څلورم صورت نتیجه ورکول او دَ دویم او دَ دریم صورت نتیجه نهٔ ورکول ) په هغه وخت کښی دی چه کله لازم دَ ملزوم نه اعم وی لکه په پورته ورکړی شوی مثالونو کښی دا واضح دی .

او کهٔ چرې لازم دَ ملزوم سره مساوی وی نو بیا به دَ استثناء

ځلور واړه صورتونه منتِج وی ، لکه دا مثال : " کۀ چرې دا شئ انسان دې نـو نـاطق بـه هم وی ، لیکن چونکه دَ منطق قوانین کلی وی او په دې کښې دَ هیڅ قسم استثناء اعتبار نۀ وی ، نو ددې وجې نه قانون هم دا جوړ کړې شو چه په قیاسِ استثنائی کښې به دَ قضیه متصله کیدو په صورت کښې صرف اولنې او ځلورم صورت نتیجه ورکوی او دویم او دریم صورت به مُنتِج نۀ وی .

" وان کـانـت مـنفصلة حقیقة فاستثناء احد الجزئین ینتج نقیض الآخر واستثناء نقیض احدهما ینتج عن الآخر "

**ترجمه** : او کـۀ چرې هغه شرطیه ( کومه چه قیاسِ استثنائی کښـې ده ) مـنفصله حقیقیه وی نو دَ یو جزء ( یعنی عینِ مقدم یا عینِ تـالـی ) په استثناء کؤلو سره به نتیجه دَ دویم جزء نقیض راځی . او دَ یو دَ نقیض په استثناء سره به نتیجه دَ عینِ آخر راځی .

## کۀ چرې په قیاس استثنائی کښې قضیه منفصله وی نو د هغې د استثناء حالتونه

او پـه قیـاسِ استثـنـائی کښې چه کومه قضیه شرطیه ده ، کۀ چرې هغـه قـضیه منفصله وی نو هغه به یا حقیقیه وی او یا به مانعة الـجـمـع یا مانعة الخلو وی . کۀ چرې قضیه منفصله حقیقیه وی نو دَ هـغـې دَ یـو جزء استثـنـاء بـه دَ نـقـیـضِ آخر ورکوی ، ځکه چه دَ دواړو اجتـمـاع مـمـنـوع ده . لـکـه دا مثـال " دا عـدد یا جفت دې یا طاق دې ، لیکن دا جفت دې ." بس نتیجه به وی " دا طاق نۀ دې ". او کۀ چرې په دې کښـی دَ یـو جزء دَ نقیض استثناء اوکړې شی نو دَ عین آخر نتیجه بـه ورکـوی ، ځـکـه چـه دَ دواړو ارتـفـاع هم ممنوع ده . لکه دا مثال : دا

Maktaba Tul Ishaat.com

عـدد یا خو جفت دې او یا طاق لیـکـن دا طاق نۀ دې . بس نتیجه به ورکوی ." دا جفت دې . "

" وعلیٰ هٰذا مانعة الجمع ومانعة الخلو "

**ترجمه** : هـم پـه دې ( اصـول ) بـانـدې مانعة الجمع او مانعة الخلو دی . "

**تشریح** : او کـۀ چـرې پـه قیـاسِ استثنائی کبـری قضیـه مـنفصله مانعة الجمع وی نو دَ هغې دَ یو جزء دَ عین استثناء به نتیجه ورکـوی دَ نـقیـضِ آخـر ، ځکـه چه دَ دواړو اجتماع ممنوع ده لکه " دا ځیـز یا وُنـه ده او یـا کـانـړې دې لیکن دا کانړې دې بس دا وُنه ده . او کۀ چرې ددې عـکـس وی نو بیـا بـه نتیـجـه نـۀ اخذ کیږی یعنی دَ مانعة الـجـمـع دَ یـو جـزء دَ نـقیـض اسیتـثـنـاء به دَ عینِ آخر نتیجه نۀ ورکوی ځکه چه دَ دواړو ارتفاع ممکن نۀ ده . لکه مثال " دا شئ یا خو وُنه ده یا کـانړې دې لیکن دا کانړې نۀ دې . بس دا به ضروری نۀ وی چه دا وُنه ده . ځـکـه چـه اجتـمـاع خو منع ده . البته دَ دواړو عدم ممتنع نۀ دې بلکه ممکن دې .

او کۀ چرې پـه قیـاسِ استثنائی کبـری قضیه مانعة الخلو وی نو ددې دَ یو جزء دَ نقیض په استثناء سره به نتیجه د عین آخر ورکوی . ځـکـه چـه دَ دواړو ارتفاع ممنوع ده . لکه مثال :" دا ځیز یا لا حجر دې او یـا لا شـجـر دې ، لیـکـن دا لا شجـر نۀ دې ، بـس معلومه شوه چه دا لاحجر دې .

او کۀ چرې دَ مانعة الخلو دَ یو جزء دَ عین استثناء اوکړئ نو بیا به نتیـجـه دَ نقیضِ آخر نۀ ورکوی ځکه چه دَ دواړ حـمـع ممتنع نۀ

ده . لکه مثال : دا څیز یا خو لا شجر دي یا لاحجر . لیکن دا لاحجر دي ، بس نتیجه به دا نهٔ وی چه دا څیز لاشجر نهٔ دي ، ځکه چه ممکنه ده چهٔ هغه څیز لا شجر وی .

کهٔ چرې مقدمهٔ اول قضیه شرطیه متصله وی نو مقدمهٔ ثانی به یا عینِ مقدمِ وی یا عینِ تالی یا نقیضِ مقدم یا نقیضِ تالی . او هم دارنګه په مانعة الجمع او مانعة الخلو کښې . نو دا ټول شپاړس احتمالات جوړیږی . لس احتمالات به نتیجه ورکوی او باقی به نتیجه نهٔ ورکوی بیا کهٔ چرې مقدمهٔ اول قضیه شرطیه متصله ده نو بیا به کبریٰ ته ګورو چهٔ دا عینِ مقدم دي او کهٔ عینِ تالی ، یا نقیضِ مقدم دي او کهٔ نقیضِ تالی . کهٔ چرې کبریٰ عینِ مقدم دي نو نتیجه به عینِ تالی راځی او کهٔ چرې عینِ تالی دي نو نتیجه به عینِ مقدم راځی . کهٔ چرې کبریٰ عینِ تالی دي نو نتیجه به عینِ مقدم نهٔ راځی ځکه چه تالی دَ مقدم نه عام کیدې شی دارنګه دَ نقیضِ مقدم په استثناء سره به نتیجه نقیضِ تالی نهٔ راځی ځکه چه تالی دَ مقدم نه عام کیدې شی ګویا چه دَ اولنو څلورو احتمالاتو نه به ۱ ، ۴ احتمالات نتیجه ورکوی او باقی دوه به نهٔ ورکوی .

او کهٔ چرې کبریٰ عینِ مقدم دي نو نتیجه به نقیضِ تالی راځی ، او کهٔ چرې عینِ تالی دي نو بیا به نتیجه نقیضِ مقدم راځی ، او کهٔ چرې کبریٰ نقیضِ مقدم وو نو نتیجه به عینِ تالی راځی ، او کهٔ چرې کبریٰ نقیضِ تالی وو نو بیا به نتیجه عینِ مقدم راځی .

☆......☆......☆

☆

Maktaba Tul Ishaat.com

# نقشه برائے قیاسِ استثنائی فی الصورة النتیجة وعدمِ صورة النتیجة

| صغرىٰ | کبرىٰ | نتیجه | مثالِ صغرىٰ | مثالِ کبرىٰ | مثالِ نتیجه |
|---|---|---|---|---|---|
| شرطیه متصله | عینِ مقدم | عینِ تالی | ان کان هذا انسان فهو حیوان | لکنه انسان | فهو حیوان |
| × | عینِ تالی | × | × | × | × |
| × | نقیضِ مقدم | × | × | × | × |
| × | نقیضِ تالی | نقیضِ مقدم | ان کان هٰذا انسانًا فهو حیوان | لکنه لیس بحیوان | فهو لیس بانسان |
| شرطیه حقیقیه | عینِ مقدم | نقیضِ تالی | اما هٰذا العدد اما ان یکون زوجًا او فردًا | لکنه زوج | فهو لیس بفرد |
| × | عینِ تالی | نقیضِ مقدم | × | لکنه فرد | فهو لیس بزوج |
| × | نقیضِ مقدم | عینِ تالی | × | لکنه لیس بفرد | فهو زوج |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| × | نقیضِ تالی | عینِ مقدم | × | لکنه لیس بفرد | فهو زوج |
| منفصله مانعة الجمع | عینِ مقدم | نقیضِ تالی | هذا الشیٔ اما ان یکون شجرًا او حجرًا | لکنه شجر | فهو لیس بحجر |
| × | عینِ تالی | نقیضِ مقدم | × | لکنه حجر | فهو لیس بشجر |
| × | نقیضِ مقدم | × | × | × | × |
| × | نقیضِ تالی | × | × | × | × |
| منفصله مانعة الخلو | عینِ مقدم | × | × | × | × |
| × | عینِ تالی | × | × | × | × |
| × | نقیضِ مقدم | عینِ تالی | هذا الشیٔ اما ان یکون لاشجرًا او لا حجرًا | لکنه شجر | فهو لاحجر |

Maktaba Tul Ishaat.com

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| × | نقيضِ تالی | عينِ مقدم | هٰذا الشئ اما ان يكون لا شجرًا او لا حجرًا | لكنه حجر | فهو لاشجر |

## فصل البرهان

اوسه پورې دَ قياس ظاهری شکل کتلې شو اوس ددې ځائ نه مصنف رحمه الله مادهٔ قياس بيانوی . قياس په اعتبار دَ ماده سره په پنځهٔ قسمه دې چه دې ته صناعاتِ خمسه وئيلی شی . ﴿۱﴾ قياس ﴿۲﴾ برهان ﴿۳﴾ قياسِ جدلی ﴿۴﴾ قياسِ خطابی ﴿۵﴾ قياسِ مغالطه يا سفسطی . ماده دَ قياس مضامينو او معنیٰ ته وئيلی شی .

**وجه حصر** : ددې پنځو قسمونو وجه دَ حصر صرف مولوی بحر العلوم بيان کړې ده چه زړهٔ ته هم لګی او بل چا بيان کړې هم نهٔ ده ، وجه حصر داده چه مادهٔ قياس به يا يقينی وی او يا ظنی يا خيالی او يا غلط . بيا چه يقينی وی نو دَ حقيقت په اعتبار سره به يا صادق وی يا به دَ شهرت دَ وجې نه رښتونی وی کهٔ چرې دَ حقيقت په اعتبار سره صادق ده نو دې ته قياسِ برهان وائی او چه دَ شُهرت دَ وجې نه رښتونی ده نو دې ته قياسِ جدلی وائی ، بيا کهٔ چرې مادهٔ قياس ظنی ده نو دې ته قياسِ خطابی وائی او کهٔ چرې مادهٔ قياس خيالی ده نو دې ته قياسِ مغالطه يا سفسطی وائی .

**" البرهان وهو قول مؤلف من مقدمات يقينية لانتاج يقين واليقينيات اقسام ستة احدها اوليات كقولنا الواحد نصف الاثنين والكل اعظم من الجزء ومشاهدات نحو الشمس مشرقة والنار**

محرقة ومجربات كقولنا السقمونا مسهل للصفراء وحدسيات كقولنا نور القمر مستفاد من نور الشمس ومتواترات كقولنا محمد رسول الله ﷺ ادعى النبوة واظهر المعجزات على يده وقضايا قياساتها معها كقولنا الاربعة زوج بسبب وسط حاضر في الذهن وهو الانقسام بمتساويين . "

**ترجمه** : برهان هغه قياس دې چه دا مرکب کیږي دَ داسې مقدماتو نه چه یقیني وی ددې دپاره چه یقیني نتیجه حاصل شی . دَ یقینیاتو شپږ قسمونه دی . په دې کښې اول نمبر اولیات دی لکه زمونږ دا قول " یو دَ دوو نصف دې ، او کُل دَ خپل جزء نه لوې دې . او دویم قسم مشاهدات دی لکه نمر روښانه دې ، او اُور سوزؤنکې دې ، او دریم قسم تجربیات دی لکه زمونږ دا قول چه سقمونیا ( بذریعهٔ دست ) صفراء لره زائله کؤنکی دې . څلورم قسم حدسیات دی لکه زمونږ دا قول " چه دَ سپوږمئ رڼړا دَ نمر دَ رڼړا نه حاصل شُده ده . پنځم قسم متواترات دی لکه زمونږ دا قول چه محمد ﷺ دَ نبوت دعویٰ اوکړه او په خپل لاس باندې يئ معجزات ظاهر کړل .

شپږم قسم هغه قضیې دی چه خپل دلیل ورسره وی ( دې ته فطریات وائي ) لکه زمونږ قول چه څلور جُفت دی . بسبب دَ هغه دلیل کوم چه ورسره په ذهن کښې دې یعنی جُفت په دوو برابر حِصو تقسیمیږی .

**تشريح** : دَ قياس په اعتبار سره دَ مادې سره پنځهٔ قسمونه دی چه دې ته صناعاتِ خمسه وائی نو په دې عبارت کښې دَ قیاس برهانی تعریف او دَ یقینیاتو دَ اقسامو بیان دې .

Maktaba Tul Ishaat.com

**د قیاسِ برهاني تعریف :** هغه قیاس دې کوم چه دَ مقدماتِ یقینیه نه مرکب وی برابره خبره ده کۀ هغه مقدمات بدیهی وی یا نظری ، او نتیجه یې هم یقینی وی ، مثال : حضرت محمد ﷺ دَ الله رسول دې . او دَ الله هر رسول واجب الاطاعت دې ، بس حضرت محمد ﷺ واجب الاطاعت دې .

**فائده :** دَ قیاس دَ نتیجې صحیح او یقینی کیدل په مقدماتِ یقینیه باندې منحصر دې ، مقدمات کۀ چرې یقینیه وی نو نتیجه به هم یقینی وی او کۀ چرې مقدمات ظنی یا خیالی یا دروغژن وی نو بیا به نتیجه هم هغه شان وی .

په قیاسِ برهان کښې دَ مقدماتِ یقینیه نه مراد دَ حقیقت په اعتبار سره یقینی کیدل دی .

**فائده :** دَ قیاسِ برهانی دوه قسمونه دی ﴿۱﴾ دلیلِ لمی ﴿۲﴾ دلیلِ انی .

**دلیلِ لمی :** په قیاس کښې چه دِ کومې نتیجې علم مونږ ته حاصلیږی نو دَ هغې علت حدِ اوسط وی ، بیا به دغه علت ته کتې شی چه آیا حدِ اوسط په حقیقت کښې هم ددغه علم علت دې یا نۀ .

کۀ چرې په حقیقت کښې هم علت وی نو دې ته دلیلِ لمی وائی . لکه زمکه دهوپ والا ده . او هر دهوپ والا څیز روښانه وی . نتیجه شوه " زمکه روښانه ده "

**دلیلِ انی :** کۀ چرې حدِ اوسط په حقیقت کښې علت نۀ وی بلکه صرف زمونږ په علم کښې علت وی نو دې ته دلیلِ انی وائی . لکه دا مثال : کمره روښانه ده ، هر روښانه څیز دهوپ ( گرمۍ ) والا وی

. نتیجه دا شوه "کمره ګرمئ والا ده ." دویم مثال دادې چه لوګې لیدل او په هغې سره دَ اُور حکم لګول .

**خلاصه** : خُلاصه داده چه حکم لره دَ هغې په علتِ واقعه سره ثابتول . دې ته دلیلِ لمی وائی . او یو حکم لره دَ هغې په علامت سره ثابتول . دې ته دلیلِ انی وائی .

دَ یقینیاتو ( بدیهیاتو ) شپږ قسمونه دی . ﴿۱﴾...... اولیات . ﴿۲﴾...... فطریات ﴿۳﴾...... حدسیات ﴿۴﴾...... مشاهدات ﴿۵﴾...... تجربیات ﴿۶﴾...... متواترات .

**اولیات** : دا هغه قضیې دی چه ددې موضوع او محمول خنګه ذهن ته راشی نو فورًا یئ عقل تسلیم کړی لکه " الکل اعظم من الجزء "

**فطریات** : دا هغه قضیې دی چه کله په ذهن کښی راشی نو دلیل هم دَ ذهن نه غائب نهٔ وی ، لکه " څلور جُفت دی . "

**حدسیات** : هغه قضیې دی چه ذهن ددې دلائلو طرف ته لاړ شی او دَ صغرىٰ او دَ کبرىٰ ملاؤلو ته ضرورت نهٔ وی . لکه دَ سپوږمئ رڼړا دَ نمر دَ رڼړا نه مستفاد ده . "

**مشاهدات** : هغه قضیې دی چه په دې کښی دَ حواسِ ظاهره یا باطنه په ذریعې سره حکم اولګولې شی لکه نمر روښانه دی .

**فائده** : حواسِ ظاهره پنځهٔ دی . ﴿۱﴾...... قوتِ باصره ﴿۲﴾ سامعه ﴿۳﴾...... شامه ﴿۴﴾...... ذائقه ﴿۵﴾ لامسه .

او حواسِ باطنه هم پنځهٔ دی : ﴿۱﴾ مشترك ﴿۲﴾ خیال ﴿۳﴾ وهم ﴿۴﴾ حافظه ﴿۵﴾ متصرفه .

Maktaba Tul Ishaat.com

**تجربيات :** هغه قضيې دی چه يوه خبره ځو ځو ځله اوزمائيلی شی او عقل په هغې کښې حکم اولګوی لکه کُلِ بنفشه دَ نزلې دپاره مفيد دې او سقمونيا صفراء لره زائله کوی .

**متواترات :** هغه قضيې دی چه ددې دَ يقينی کيدو حکم دَ يو داسې جماعت په وئيلو سره لګولې شوې وی چه دَ هغه جماعت دروغژن کيدل يا په دروغو باندې دَ هغوی متفق کيدل محال وی . لکه دَ محمد رسول الله ﷺ نبوت او معجزات .

**وجه تسميه :** دَ برهان معنیٰ ده غلبه نو په دې کښې هم په مخالف باندې غلبه حاصليږی ددې وجې نه ورته برهان وائی .

" والجدل وهو قول مؤلف من مقدمات مشهورة والخطابة وهو قول مؤلف من مقدمات مقبولة من شخص معتقد به او مظنونة والشعر وهو قياس مؤلف من مقدمات تنبسط منها النفس او تنقبض والمغالطة هو قياس مؤلف من مقدمات كاذبة شبيهة بالحق او بالمشهور او من مقدمات وهمية والعمدة هی البرهان لا غير ولكن هذا آخر الرسالة متلبسًا بحمد من له البداية واليه النهاية . "

**ترجمه :** ...... قياسِ جدلی هغه قياس دې چه دداسې مقدماتو نه مرکب وی کوم چه مشهور دی . قياسِ خطابی هغه قياس دې چه دداسې مقدماتو نه مرکب وی کوم چه دَ يو رهنماء او قابلِ اعتماد کس په نزد باندِ مقبول وی يا هغه مقدمات په ګمان او اټکل باندې مبنی وی . "

قياسِ شعری هغه قياس دې چه هغه دَ داسې مقدماتو نه

مرکب وی چه په دې سره انساني نفس ( دَ خوشالۍ دَ وجې نه ) فراخه او کهولاؤ شي یا ( دَ غم دَ وجې نه ) منقبض شي . یعنې تنګ شي .

قیاسِ مغالطه هغه قیاس دې چه دداسې مقدماتو نه مرکب وی چه حقیقي او مشهور مقدماتو سره مشابه وی یا هغه مقدمات وهمي او دروغ وی . په دې قسمونو کښې اصل قیاس برهان دې ، او نور نهٔ دي . پکار دی چه دا دَ رسالې آخر اوګرځی ، دَ هغه ذات تعریف کؤلو سره چه دَ هغه دپاره ابتداء ده او هم هغه طرف ته دَ تمام څیزونو انتهاء او انجام دې .

**تشریح :** مصنف رحمه الله په دې آخری عبارت سره دَ قیاس باقي اقسام بیانوی .

**د قیاس جدلي تعریف :** دا هغه قیاس دې چه دا دَ مقدماتِ مشهوره نه مرکب وی یا دداسې مقدماتو نه مرکب وی چه هغه دَ یو جماعت او ډلې تسلیم شُده وی . برابره خبره ده کهٔ هغه مقدمات دروغ وی یا رښتیا . لکه دَ هندوانو قول دې " غوا مقدس ځاروې دې او دَ هر مقدس ځاروی خوراك حرام دې . نتیجه : لهٰذا دَ غوا خوراك حرام دې .

**وجه تسمیه :** دَ جدل معنیٰ ده جګړه ، نو قیاسِ جدلي په اکثر طور باندې جګړو او مناظرو کښې استعمالیږی ددې وجې نه دې ته قیاسِ جدلي وائی .

**د قیاس خطابي تعریف :** هغه قیاس دې چه دداسې مقدماتو نه مرکب وی چه دَ یو قابلِ اعتماد رهنما په نزد باندې مقبول وی یا دَ هغې غالب ګمان دَ صحیح کیدو وی ، لکه زراعت دَ نفع څیز

Maktaba Tul Ishaat.com

دي او هر دَ نفع والا څیز قابلِ اختیار وی بس زراعت قابلِ اختیار دي .

**وجه تسمیه** : دا اکثر طور باندي په خطاب کښي استعمالیږی .

**د قیاسِ شعري تعریف** : قیاسِ شعری هغه قیاس دي چه هغه دَ داسي مقدماتو نه مرکب وی چه په دي سره انسانی نفس ( دَ خوشالئ دَ وجي نه ) فراخه او کهولاؤ شی یا ( دَ غم دَ وجي نه ) منقبض شی . یعنی تنګ شي . برابره خبره ده کهٔ هغه مقدمات صادق وی یا کاذب . لکه مثال : زید سپوږمئ ده . او هره سپوږمئ روښانه ده ، بس زید روښانه دي .

**وجه تسمیه** : دا قیاسِ شعری اکثر طور باندي په اشعارو کښي استعمالیږی ځکه ورته شعری وائی .

**دَ قیاسِ مغالطه تعریف** : قیاسِ مغالطه هغه قیاس دي چه دداسي مقدماتو نه مرکب وی چه حقیقی او مشهور مقدماتو سره مشابه وی یا هغه مقدمات وهمی او دروغ وی .

دَ غلطئ دري قسمونه دی . ۱﴾...... یا به مغالطه ددي وجي نه وی چه هغه څیز خو به حق نهٔ وی مګر دَ حق مشابه به وی ، لکه چا دَ اَس تصویر اولیدو اووي وئیل چه دا اَس دي او هر اَس آواز کؤلو والا وی بس دا تصویر آواز کؤلو والا دي . ۲﴾...... یا به مغالطه ددي وجي نه وی چه هغه څیز دَ څهٔ مشهور څیز سره مشابهت لری ، لکه دا مشهوره ده چه دَ شپي بهر ګرځیدلو والا غل وی ، زید دَ شپي ګرځی ، لهذا زید غل دي . ۳﴾ ...... یا به مغالطه ددي وجي نه وی چه هغه مقدمات به وهمیه وی لکه چه څوك اووائی " العالم مستغن عن

المؤثر وكل ما هو مستغن عن المؤثر فهو قديم . نتيجه : فالعالم قديم

**وجه تسميه** : مغالطه ورته ددې وجې نه وائی چه په دې کښې مقدمات دروغ او غلط وی ددې دویم نوم سفسطی دې په معنیٰ دَ دروغو سره ، په دې نوم سره باطله فرقه سفسطائيه ده . چه دَ هغوی نظريه داده چه دا عالَم يو خوب او خيال دې په حقيقت کښې هيڅ نشته . دوی دَ بديهياتو نه انکار کوی ، او عقلی ونقلی دلائلو نه انکار کوی . ددې فرقې علاج دادې چه هغوی دې اونيولی شی او په اُور کښې دې واچولې شی . کله چه دوی چغې اووهی نو ورته دې اووئيلی شی چه دا خو يو خوب او خيال دې . تاسو ولې چغې وهئ .

**والعمدة هی البرهان** : په دې پنځو قياسونو کښې دَ ټولو نه اعلیٰ او عمده قياس ، قياسِ برهان دې . ځکه چه دا مفيدِ يقين دې . او حال دادې چه په باقی ټولو کښې بعضِ مفيدِ ظن دی او بعضِ پکښې مفيدِ ظن هم نهٔ دی .

" ولٰكن هٰذا آخر الرسالة متلبسًا بحمد من له البداية واليه النهاية "

مصنف رحمه الله دَ کتاب شروع هم په حمد سره اوکړه او دَ کتاب اختتام هم په حمد سره کوی . او دارنګه دَ کتاب اختتام دې او آخری لفظ هم النهايه دې چه په معنیٰ دَ اختتام سره دې نو دا حسنِ اختتام شو .

﴿ والله اعلم وعلمهٗ اتم واحكم ﴾

Maktaba Tul Ishaat.com




الناشر
اعراف پبلشرز
محلہ جنگی پشاور 091-2580006